دعـا



ـ حمد څه ته وايي، څوک يې په اړه خبرې کولای شي؟

ـ تاسې د تېرو ټولګيو د پښتو لوست په کتابونو کې د حمد په نامه څه لوستي دي؟

ـ د کومو شاعرانو حمدونه مولوستي دي؟

د حمد لغوي معنا ثنا صفت اوستاينه ده، په ادبي اصطلاح هغه منظومه وينا يا شعر دی چې د الله ﷻ ستاينه او صفت پکې راغلی وي.

د پښتو ژبې د پخوانيو او اوسنيو شاعرانو د شعرونو په ديوانونو يا چاپ شوو ټولګو کې داسې شعرونه وينو چې هغه د الله ﷻ صفت او ستاينې ته ځانګړي شوي وي. په دغو شعرونو کې شاعران له خپل استعداد او پوهې سره سم د شعر په خوږه ژبه او په زړه پورې ډول د خدای ﷻ عظمت او صفتونه بيانوي. مور د دې ټولګي د پښتو لوست کتاب د کاظم خان شيدا په يوه حمديه شعر پيلوو.

ای د کـل جـهـان صنیعه ای د هـر آسمان بدیعه
کـامـلـه قـدرت د تـا دی نـادره صـفـت د تـا دی
لـوی دیـوان دې مـرتـب کړ چې انـسـان دې منتخب کړ
هـر ورق دې گـونـاگـون دی هـر مضمون دې بوقلمون دی
هـره ورځ ورق گـردان یې مـخـتـرع د نـوي شـان یې
تـا لـه خـاورو آدم ساز کړ تـا هـمـراز او تـا دم ساز کړ
چې په ملک کې دې وجود دی بـهـره مـنـد د تـا پـه جـود دی
مـار هـم خپله روزي مومي گـاه خـورل کـا، گـاهـي شومي
دیـده واخـلـي لـه عـقـربـه لـقـمـه ورکـړې زمـا ربـه !
سـتـا کـرم پـاکـه سـبـحـانـه
مـگـس نـه شـړي لـه خـوانـه

(کاظم خان شیدا)

کاظم خان شیدا د افضل خان خټک زوی، د اشرف خان هجري لمسی او د خوشحال خان خټک کړوسی دی. د زوکړې کال یې(۱۱۳۵) هجري قمري اټکل شوی او تر (۱۱۹٤هـ.ق.) کال پورې یې ژوند یقیني دی. د پښتو پیاوړی نازکخیاله شاعر دی، د شعرونو دیوان یې په افغانستان او پښتونخوا کې څو ځله چاپ شوی دی.

د متن لنډیز

ای خدایه! د ټول جهان جوړوونکیه او د هر آسمان پیدا کوونکیه، ته بشپړ قدرت لرې او ټولې ستاینې او نمانځنې تا لره دي. تا د کایناتو لوی دیوان مرتب کړ او انسان دې د ځمکې پرمخ د خپل خلیفه په توګه وټاکه. ته د ډول ډول مخلوقاتو خالق یې. آدم دې له خاورو جوړ کړ او ټولو مخلوقاتو ته روزي رسوونکی یې. پر مخلوقاتو ستا کرم او احسانونه ډېر او له شمېره تېر دي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي. وروسته دې زده کوونکي په نوبت سره د دې حمدیه شعر یو یو بیت په ټولګي کې ولولي. ښوونکی دې د اړتیا پر مهال د هغوی غلطۍ سمې کړي.

۲ـ زده کوونکي دې پر درېو ډلو ووېشل شي: یوه ډله دې د متن عربي کلمې، بله دې دري کلمې او دریمه ډله دې پښتو کلمې په نښه کړي. د هرې ډلې استازی دې خپلې په نښه کړې کلمې پر تختې ولیکي.

۳ـ ښوونکی دې پر تختې لیکل شوې کلمې د زده کوونکو په وسیله معنا او هغه چې زده کوونکي یې معنا کولای نشي په خپله دې معنا کړي او زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

٤ـ زده کوونکي دې په نوبت سره د لوستل شوي متن مفهوم په ساده جملو کې د ټولګیوالو په وړاندې ووایي.

٥ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په مناسبو جملو کې وکاروي:

صنیع، بدیع، نادر، بوقلمون، عقرب، شومي، خوان.

٦ـ دري دري تنه زده کوونکي دې په نوبت سره پورته شي، یو دې لومړی د حمد یو بیت د کتاب له مخې ولولي، دویم دې هغه د املاء په ډول پر تختې ولیکي، دریم زده کوونکی دې هغه معنا کړي، دا لړۍ دې تر پایه په ټولو زده کوونکو پلې کړای شي، ښوونکی دې د اړتیا پر مهال مرسته وکړي.

۷ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- د نړۍ جوړوونکی او د مخلوقاتو پیدا کوونکی څوک دی؟
- څوک د لوی خدای ﷻ ځینې قدرتونه بیانولای شي؟
- څوک د کاظم خان شیدا په ا ړه معلومات ورکولای شي؟
- څوک د حمد او نعت توپیر کولای شي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د دې حمد مفهوم په خپلو الفاظو کې وليکي او په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې، هغه د نورو ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

په قیامت به وي د عرش تر سیوري لاندې
بادشاهان چې عادلان شي عدل کاندې
په هر قوم چې کرم د کردګار شي
سرداران به یې دیندار ه نېکو کار شي
نښانه د خدای د قهر بد حاکم دی
چې هېڅ عدل انصاف نه لري ظالم دی
((عبدالقادر ختک))

نعت



ـ څوک د نعت په لغوي او اصطلاحي معنا پوهېږي؟

ـ په نعت کې کوم موضوعات راځي؟

ـ په نعتونو کې کوم ډول مطالب بیا نېږي؟

نعت په لغت کې غوره او نېکې ستاینې ته وایي او په اصطلاح کې هغه منظومه یا منثوره وینا ده چې د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد ﷺ ستاینه او صفت پکې شوی وي.

زمونږ د دې ټولګي د پښتو دویم لوست د خوشحال خان خټک نعتیه کلام ته ځانګړی شوی دی.

تـر لـک زيـات پيغمبـران دي ځوک نبيان ځوک مرسـلان دي
همـه واړه نېـک کـردار دي امينـان دي وفـادار دي
عالمـان دي، راسـتگويان دي د وګـړو نېکخواهـان دي
نـه يـې نفـس نـه يـې هـوا وه هـره چـاره يـې رښـتيا وه
يـا بـه وحـي يـا الهـام و چـې يـې چـا و تـه کلام و
زيـات اوکـم ويـل يـې نـه کـړه چـې يـې کـړه واړه يـې ښـه کړه
محمـد پکـې افضـل دی هـم أخـر دی هـم اول دی
د ديـن کار پـه ده تمـام شـو خاتمـت د ده پـه نـام شـو

(خوشحال خان خټک)

خوشحال خان خټک:

خوشحال خان خټک د شهباز خان خټک زوی، د پښتو ژبې پياوړی شاعر، ليکوال، ملي مشر او لارښود و. په (۱۰۲۲) هجري قمري کال د پښتونخوا په سرای اکوړه کې زېږېدلی و. په (۱۱۰۰) هجري قمري کال يې د (۷۸) کلونو په عمر له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي.

خوشحال خان په نظم او نثر کې زيات شمېر آثار ليکلي دي چې د ببلګې په توګه يې د اشعارو کليات، دستارنامه، طب نامه، فراقنامه، فضل نامه او نورو نومونه اخيستلی شو.

د متن لنډيز

تر يو لک او څلورويشت زره زيات اوکم پيغمبران او د خدای استازي وو. په دوی کې چا د نبيانو او چا د مرسلانو مرتبه درلوده. دوی رښتينې او د غوره اخلاقو ببلګې وې. خلکو ته يې د خدای ﷻ د وحې په رڼا کې هدايت او لارښوونه کوله. په دغو ټولو کې محمد ﷺ ډېر غوره او د لوړې مرتبې خاوند دی، که څه هم ظاهراً دې نړۍ ته له نورو ټولو پيغمبرانو وروسته راغلی دی، خو په معنا کې له ټولو لومړی او مقدم دی او نبوت په ده باندې ختم شوی دی.



فعالیتونه

۱ـ د ښوونکي له خوا د متن تر لوستلو او لازمو څرګندونو وروسته دې زده کوونکي متن په چوپه خوله په ډېر دقت سره ولولي، بیا دې له څو زده کوونکو څخه وغوښتل شي چې په وار سره متن په لوړ غږ د نورو ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

۲ـ ښوونکی دې د متن ستونزمن لغتونه له معنا سره پرتختې ولیکي. بیا دې زده کوونکي په نوبت سره ور وبولي چې هغه په مناسبو جملو کې وکاروي. ښوونکی دې د اړتیا په وخت کې ورسره مرسته وکړي. زده کوونکي دې پر تختې لیکل شوې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

۳ـ زده کوونکي دې دوه دوه تنه د تختې مخې ته ور وبلل شي. یو تن دې د شعر یو بیت ولولي او بل دې هغه معنا کړي. دا لړۍ دې په ټول ټولګي کې پلې کړای شي.

٤ـ زده کوونکي دې د ټولګیوالو په وړاندې د شعر مفهوم په خپله ژبه بیان کړي.

٥ـ ښوونکی دې دا لاندې بیتونه پر تختې ولیکي، زده کوونکو ته دې لارښوونه وکړي چې هغه په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا یې تشریح کړي:

تـر لـک زیـات پـیـغـمـبـران دي
څـوک نـبـیـان څـوک مـرسـلان دي
هـمـه واړه نـبـک کـردار دي
امـیـنـان دي وفـادار دي
مـحـمـد پـه کـې افـضـل دی
هـم أخـر دی هـم اول دی

٦ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- پیغمبر چاته ویل کېږي؟
- نبي څوک دی؟
- وحي څه ته وایي؟
- پیغمبرانو به څنګه ټولې چارې د وحي په رڼا کې تر سره کولې؟
- حضرت محمدﷺ ولې تر نورو پېغمبرانو غوره دی؟


کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د حضرت محمدﷺ د غوره اخلاقو په اړه څو کرښې وليکي او په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي.

تر شیرین اسم دې جار شم محمدﷺ
سرفراز دې په دیدار شم محمدﷺ
سعادت د دواړو کونو زما دی
که دې خاورې د دربار شم محمدﷺ
ستا ثنا به د لویې ویلای نه شم
که بلبله د سهار شم محمدﷺ

((رحیمداد))

عبدالرحمٰن بابا(رح)



_ تاسې د پښتو په پخوانيو شاعرانو کې څوک پېژنئ!

_ د مخه مو د عبدالرحمٰن بابا شعرونه لوستي، د هغه په هکله معلومات لرئ!

د پښتو ادب تاريخ په دويمې يا منځنۍ دوره کې ډېر پياوړي شاعران تېر شوي چې د ادبي آثارو په رامنځته کولو يې د پښتو ادبي پانګې ته ډېره بډاينه وربخښلې ده. د دغې دورې په نومياليو شاعرانو کې يو هم عبدالرحمٰن بابا دی چې د خپل خواږه او عالي شعر له برکته يې لوړ نوم او شهرت په برخه شوی او په ولس کې يې دومره مقبوليت تر لاسه کړی چې د ((بابا)) په لقب منلی او نمانځل شوی دی. په دې لوست کې نوموړی درپېژنو:

د پښتو خوږ ژبی شاعر او نومیالی عارف عبدالرحمٰن بابا(رح) په (۱۰٤۲) هجري قمري کې کال کې د پښتونخوا د پېښور ښار د بهادر په کلي کې نړۍ ته سترګې پرانیستې وې. پلار یې عبدالستار نومېده او د مومندو پښتني قبیلې ته منسوب و.

عبدالرحمٰن بابا لومړني دیني علوم په خپل کلي او شاوخوا سیمو کې لوستي وو. په ځوانۍ کې د لوړو دیني علومو په زده کړې پسې کوهاټ ته ولاړ. هلته یې د مروجو دیني او ادبي علومو د زده کړې تر څنګ د هغې سیمې له مشهور عارف او روحاني شخصیت حاجي بهادر کوهاټي(رح) څخه په طریقت کې لاسنیوی کړی و. کله چې عبدالرحمٰن بابا د دیني علومو د زده کړې له بشپړولو وروسته خپل ټاټوبي پېښور ته راغی، نو د خپل پلرني کلي پرځای یې په هزارخانې کې استوګنه غوره کړه. د ژوند تر پایه په همدې کلي کې اوسېدلی دی.

وایي چې عبدالرحمٰن بابا له کوچنیوالي څخه د لوړ ادبي ذوق او پیاوړي استعداد خاوند و. د څوارلس پنځلسو کلونو په عمر یې په شعر ویلو پیل کړی او بیا په دې لړ کې د استادۍ پوړ او مقام ته رسېدلی دی. د ځانګړي ادبي مکتب خاوند دی. د خپل وخت او را وروسته زمانې ډېرو شاعرانو یې د ادبي لارې پېروي کړې ده.

د عبدالرحمٰن بابا په شعرونو کې د بېلا بېلو دیني، اخلاقي او نورو ټولنیزو مسایلو ترڅنګ د پښتو ژبې د پخوانیو شاعرانو، لکه: میرزا خان انصاري، دولت لوانې، خوشحال خان خټک او د دري ژبو شاعرانو سنایي غزنوي، حافظ شېرازي او نورو نومونه یاد کړي او د هغوی ادبي پوړ او مقام یې ښودلی دی. له دې څخه څرګندېږي چې بابا د پښتو او دري ادبیاتو ښه ژوره مطالعه درلوده.

عبدالرحمٰن بابا د خپل پاخه او خوږه شعرله برکته دومره شهرت او مقبولیت ترلاسه کړی چې هغه تراوسه د بل پښتون شاعر په برخه شوی نه دی. په افغان اولس کې د هغه د عزت، عقیدت او درناوي اندازه له دې هم معلومېږي چې د ((بابا)) په درانه لقب یې منلی او نمانځلی دی.

د شعر او وینا محبوبیت یې تر دې اندازې دی چې د لویو،وړو، ښځو او نرو په خولو او

ژبو گرځي. شعرونه يې خلک په ورځنيو خبرو اترو کې د متلونو په بڼه کاروي او د يوه پاخه باوري سند په توګه ورڅخه کار اخلي. د عبدالرحمٰن بابا شعر د زمانې او وخت له غوښتنو او د خلکو له مزاج سره برابر دی. د وعظ، نصيحت، سلوک او معرفت ډېرې ژورې معنا ګانې يې په شعرونو کې شته.

د عبدالرحمٰن بابا له شعرونو څخه دا څرګندېږي چې دی له الله ﷻ او د هغه له مخلوق سره مينه لري. بابا موږ ته د پند، عبرت، ننګ، غيرت، لوړ همت، قناعت، سخاوت، زيار، زحمت او رياضت خبرې هم کوي او د يوه حکيم فلسفي او متفکر انسان په څېر له هر ډول تعصب، ځان غوښتنې، تنګ نظرۍ، کرکې او کينې څخه د ځان ژغورنې لارې هم راښيي. بابا که له يوې خوا موږ ته د اخلاقي او روحاني رنځونو درمل را په ګوته کوي، نوله بلې خوا د يوه اجتماعي مصلح او خير غوښتونکي په شان د دنيوي او اخروي نېکمرغيو لارې چارې هم راښيي.

د عبدالرحمٰن بابا په شعر کې دومره خوږوالی او کشش شته چې هر لوستی او نالوستی (باسواده او بې سواده) وګړی لوستلو او اورېدلو ته راکاږي. د هغه د وينا ساده ګي او رواني، موږ ار باسي چې د پند او خوند خبرې يې د زړه په مينه واورو.

د بابا په شعر کې هر چاته خپل دردونه او د ژوند رښتيني انځورونه ښکاري. همدغه يې د شعر عظمت، کرامت او اعجاز ګڼلی شو. هغه دا حق لري چې په زغرده ووايي:

چې منکر پرې اعتراض کولی نشي
دا دې شعر دی رحمانه که اعجاز؟

عبدالرحمٰن بابا د شعرونو لوی دېوان لري. دغه دېوان څو څو ځله په افغانستان او پښتونخوا کې چاپ او خپور شوی چې د خلکو په زړونو کې يې ځای نيولی دی او په کورونو کې يې ساتي.

د وروستيو ادبي څېړنو له مخې عبدالرحمٰن بابا په (۱۱۲۸) هجري قمري کال کې

وفات شوی او د پښور د هزارخانې په لویه هدیره کې ښخ دی. ډېر ارادتمندان یې زیارت ته ورځي او هر کال د پسرلي په لومړیو ورځو کې یې پر مزار ستره ادبي غونډه جوړېږي.

د شعر بېلګه:

دنیادار که مستغني په سیم او زر دی
هنر مندو څخه ګنج د خپل هنر دی

بېهوده به زورور وځان ته وایي
د دنیا سړی که هر څو زورور دی

هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې
پیدا کړی خدای د سر د پاسه سر دی

ځینې ځینې یې ولیان پیغمبران کړل
نه چې هر سړی ولي او پیغمبر دی

جو دانې قدر یو لعل پکې پیدا شي
نور جهان واړه د تورو کاڼو غر دی

پیدا کړي خدای سړي په تفاوت دي
هسې نه چې جهان واړه برابر دی

که د عمر و رفتن ته څوک نظر کا
دا به وایي چې آفتاب د نمازدیګر دی

چې یې سر په ځمکه ایښی وي و یار ته
په آسمان باندې ختلی لکه لمر دی

تعجب زما د ډېرو اوښکو مه کړه
ما موندلی په دا بحر کې ګوهر دی

د ریا خرقه یې خدای مه کړه په غاړه
((رحمان)) کوږ دستار ترلی قلندر دی

د متن لنډیز:

عبدالرحمٰن بابا د پښتو ژبې نومیالی خوږ ژبی شاعر دی چې په (۱۰۴۲) هجري قمري کال د پښتونخوا د پېښور په بهادر کلي کې زېږېدلی او په (۱۱۲۸) هجري قمري کال کې مړ دی. عبدالرحمٰن بابا د خپل ښکلي، خواږه او پاخه شعر له برکته له لوړ نوم او شهرت نه برخمن دی. د خلکو په زړونو کې یې ځای نیولی او د همدغه درنښت له امله یې د ((بابا)) په درانه لقب منلی او نمانځلی دی. وینا یې د خلکو په زړونو خولو او ژبو کې ده او خلک یې په ورځنیو خبرو اترو کې د متلونو او پاخه باوري سند په توګه کاروي. عبدالرحمٰن بابا د شعرونو لوی دیوان لري چې په افغانستان او پښتونخوا کې څو څو ځله چاپ شوی دی.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي، ستونزمنې کلمې دې په نښه او ښوونکی دې د هغو په حل کې له زده کوونکو سره مرسته وکړي.

۲ـ زده کوونکي دې په نوبت سره د متن یوه یوه برخه ولولي.

۳ـ زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راوښلل شي چې د متن مفهوم په خپله ژبه ووایي.

٤ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي: یوې ډلې ته دې دنده وسپارل شي چې په متن کې صفتونه په نښه کړي او بله ډله دې د عبدالرحمٰن بابا د شعر مفهوم په ساده عباراتو ولیکي، د یوې ډلې استازی دې په نښه کړي صفتونه د تختې پرمخ ولیکي او د بلې ډلې زده کوونکو استازی دې په ساده عبارتونو د متن لیکلی مفهوم ټولګیوالو ته ولولي.

صفت:

صفت ته ستاینوم هم وایي، هغه کلمه ده چې د یوه نوم حالت او څرنګوالی وښیي، لکه:

روغ، ناروغ، ښه، بد، قوي، کمزوری، زړور، بې زړه، تازه، مړاوې، او نور.

۵ـ ښوونکی دې یو یو زده کوونکی تختې ته وروبولي چې په نښه شوي صفتونه په مناسبو جملو کې وکاروي.

٦ـ ښوونکی دې د عبدالرحمٰن بابا دا لاندې دوه بیتونه پر تختې ولیکي، له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې د هغې مفهوم په خپلو کتابچو کې ولیکي:

دنیادار که مستغني په سیم و زر دی
هنرمندو سره ګنج د خپل هنر دی
هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې
پیدا کړی خدای د سر له پاسه سر دی

۷ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- عبدالرحمٰن بابا په کوم کال زېږېدلی او په کوم کال کې مړ دی؟
- عبدالرحمٰن بابا خپلې لومړنۍ او لوړې دیني زده کړې په کومو سیمو کې سرته رسولې دي؟
- عبدالرحمٰن بابا ولې خلکو د بابا په درانه لقب نمانځلی او منلی دی؟
- د عبدالرحمٰن بابا قبر چېرته دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د پښتو د کوم پخواني شاعر لنډ ژوند لیک ولیکي او په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه ټولګیوالو ته ولولي.

بدنيتي
(ولسي کيسه)



ـ بد نيتي څه ډول عمل دی؟

ـ بد نيتي څه پايلې لري؟

د انسان هره کړنه د هغه په نيت پورې اړه لري، يا له نيت څخه سرچينه اخلي. ځينې وګړي داسې وي چې د ښه نيت او سپېڅلې ارادې څښتنان وي، څه چې ځانته غواړي او يا پر ځان يې لورېږي، د نورو په وړاندې هم همدغسې اراده لري. ځينې بيا داسې وي چې ځان غوښتنې يې سترګې رندې کړې وي. هرڅه د ځان لپاره غواړي او پر نورو يې نه لورېږي. د هر چا په وړاندې ناوړه ارادې او شوم نيتونه لري. دغسې وګړي د خپلې دغې شومې ارادې او بد نيت له امله، له ناوړه برخليک سره مخامخ کېږي. په دې لوست کې د بدو نيتونو د خاوندانو په اړه يوه کيسه لولو چې هغوی څنګه د خپلو ناوړو اعمالو په سزا رسېدلي دي.

درې تنه له خپل کور و کلي راوتلي او په سفر روان وو، د لارې په اوږدو کې سره ملګري شول. ټوله ورځ يې مزل وکړ، مازديګر مهال يوه کلي ته د شپې تېرولو لپاره ورستانه شول. د کلي په جومات کې يې شپه شوه. د شپې مهال چې د کلي خلک خپلو کورونو ته ولاړل، نو دوی په خپل منځ کې مشغولېدل. په خبرو خبرو کې يې يو له بله نه د سفر کولو د علت پوښتنه وکړه. يوه وويل: زما په کور کلي کې ښايسته ښايسته ځوانان دي چې د هغوی ښکلي ښکلي لباسونه او اسبابونه وينم، نو هغه کتلی اوزغملی نه شم، ځکه مې وغوښتل چې سترګې ورځخه پناه کړم او کور کلی پرېږدم.

دويم وويل: زما هم همدغه حال دی. درېم وويل: تاسې له ما سره په غم کې شريک يئ. مطلب دا چې زمونږ د درې واړو يو حال دی. په خبرو خبرو کې هغه لومړي وويل: ماخو له هېچا سره نېکي ونه کړه او هېڅوک زما له لاسه خوشاله او آرامه نه شول. دويم وويل: ته خو ډېر ښه سړی يې، ستا خو بېخي بد نيتي نشته. بدنيتي خو زما ده چې بل څوک له چا سره ښه وکړي، نو زه پرې تر ډېرو ورځو خپه يم. درېم وويل: تاسو دواړه خو بېخي بزرګان يئ، زړونه موله کينې نه پاک دي، ځکه چې زما دومره کينه او بدنيتي ده چې وايم، له ما سره دې هم څوک ښه ونه کړي، د نېکۍ او احسان نوم دې له جهانه ورک شي. شپه تېره شوه، سهار درې واړه له کلي روان شول. پر لاره يې د پيسو يوه کڅوړه و موندله. له لارې ګوښه يو ځای کېناستل او ويې ويل: راځئ چې دا پيسې همدلته سره ووېشو او بېرته خپلو کورونو ته وروګرځو. خو هر يوله ډېرې کينې او بدنيتۍ نه په دې نه راضي کېده چې بل ملګری يې برخه واخلي. نه يې هغه پيسې وېشلای شوې او نه يې پرېښودلای شوې.

يوه شپه او ورځ يې وړې تړې او بې خوبه تېره کړه. آخر دې نتيجې ته ورسېدل چې يو تن دې نژدې ښار ته لاړ شي او څه خواړه دې راوړي. هغه ملګری چې ښار ته په خوړو پسې لاړ، له ځان سره يې وپتېيله چې په خوړو کې به زهر واچوم چې دواړه يې وخوري، پرې مړه به شي او دا ټولې پيسې به ده ته پاتې شي. دلته دواړه پاتې ملګرو مصلحت وکړ چې ښارته په خوړو پسې تللی ملګری يې چې کله راشي، نو و به يې وژنو او پيسې به يې مونږ دواړو ته

پاتې شي. هغه ملګري يې په خوړو کې زهر ګډ کړل، کله چې خپلو ملګرو ته راغی، دوی دواړو پرې برید وکړ او هغه يې وواژه. بيا يې پرېکړه وکړه چې لومړی بايد خواړه وخوري، بيا به دواړه پيسې سره ووېشي. کله چې يې هغه په زهرو لړلي خواړه وخوړل، هغوی دواړه هم مړه شول او ټولې پيسې ترې پاتې شوې.

د متن لنډيز:

دا د دريو تنو کيسه ده چې د بدو نيتونو او بدو ارادو خاوندان وو. هر يوه هر څه يوازې د خپل ځان له پاره غوښتل او پر نورو يې نه لوړېدل. په خپله خو به يې له چا سره نېکي نه کوله، خو د نورو په نېکۍ به هم خپه کېدل. دوی په يوه سفر کې سره ملګري کېږي او کله چې د پيسو کڅوړه پيدا کوي، د يوه هم دا نه لوړېږي چې بل ملګری دې پکې ونډه ولري. دوی په خپلو منځو کې يو بل ته نيت بد وي. بلاخره درې واړه د خپلو شومو نيتونو قرباني کېږي او د پيسو کڅوړه ترې پاتې کېږي. مور بايد له دې کيسې څخه پند واخلو، همېشه نېکه اراده او ښه نيت ولرو. څه چې د خپل ځان لپاره غواړو، د نورو لپاره يې هم وغواړو. يو بل ته د ښېګڼې رسولو اراده ولرو او تل يو بل ته د مرستې لاس ورکړو. نيت مو بايد پاک او اراده مو بايد نېکه وي.

فعاليتونه

۱ــ زده کوونکي دې متن په پټه خوله په غور او دقت ولولي او د متن ستونزمنې کلمې او مطالب دې په ښه کړي.

۲ــ ښوونکی دې هغه ستونزمنې کلمې په خپله د زده کوونکو په وسيله او که هغوی نه شوای معنا کولای په خپله دې هغه معنا او توضيح کړي.

۳ــ زده کوونکي دې په نوبت سره د متن يوه يوه برخه د ټولګيوالو په وړاندې ولولي.

٤ـ زده کوونکي دې وګومارل شي چې متن یو ځل بیا له ځان سره په غور او دقت ولولي او په هغو کې فعلونه په نښه او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

فعل: هغې کلمې ته وایي چې په یوه زمانه یا ټاکلي وخت کې د یوه کار یا یوې پېښې په راخرګندېدو دلالت وکړي.

فعل د زمانې په لحاظ په تېر مهال (ماضي) او سمهال (حال) او راتلونکي مهال (مستقبل) وېشل کېږي. د هرې زمانې فعل په هماغه زمانه کې د یوه کار په سر ته رسولو دلالت کوي.

٥ـ زده کوونکی دې په نوبت سره په خپلو کتابچو کې لیکلي فعلونه په ټولګي کې ولولي. ښوونکی دې له هغو سره په سمون او بشپړتیا کې مرسته وکړي.

٦ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست ارزونه وشي:

- درې وارو ولې له کور او کلي څخه د سفر هوډ کړی و؟
- هغوی هر یوه د خپلو بدو نیتونو په اړه څه وویل؟
- هغوی په لاره کې څه ومونډل او بیا یې پرې څه وکړل؟
- په پای کې درې وارې څنګه ووژل شول؟
- د کیسې له پایلې څخه مو څه زده کړل؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه دې ته ورته بله کیسه یا پېښه ولیکي او د پښتو په بل درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي.

پښتو نحوه



ـ تاسې جمله پېژنئ؟ جمله له څه شي څخه جوړېږي؟

ـ جمله په خبرو اترو کې څه ارزښت او اهمیت لري؟

ـ که د جملو جوړښت سم نه وي، په خبروکې به څه ستونزې را منځته شي؟

ژبه انسان ته یوه الهي پېرزوینه ده چې په ټولنه کې د وګړو ترمنځ د پوهونې او را پوهونې ډېره مهمه وسیله ګڼل کېږي.

ژبه له غږونو څخه جوړه ده. له همدغو غږونو څخه د کلمو ټبلا ټبل ډولونه (لکه نومونه، صفتونه، ضمیرونه، ادات، فعلونه او نور) جوړېږي. د کلمو د دغو ټبلا ټبلو ډولونو له یو ځای کېدو څخه جمله جوړېږي چې هغه د ژبې د نحوي نظام اساسي برخه جوړوي. په دې لوست کې جمله او د هغې د جوړښت ټبلا ټبلې برخې او ډولونه در پېژنو.

نحوه عربي کلمه ده، لغوي معنا يې لاره، روش او طرز دی، په اصطلاح کې د ګرامر هغه برخه ده چې په جملې کې د کلمو د مطابقت، اړیکو، ترتیب او ترکیب په هکله بحث کوي.

یوه بله پېژندنه يې داسې ده:

نحوه هغې پوهې ته ویل کېږي چې د یوې ژبې د جملو، عبارتونو، فقرو او ترکیبونو له جوړښت، ترتیب او تنظیم څخه بحث کوي.

په عمومي ډول د یوې ژبې په ګرامر کې باید د نحوې برخه د جملې په هکله دې لاندې پوښتنو ته سم او عملي ځوابونه ورکړي:

لومړی: د یوې ژبې تر ټولو کوچنۍ برخه کومه ده، یا په بله وینا، هغه کوچني واحدونه چې جمله جوړوي کوم دي.

دویم: دغه کوچنۍ برخې یا اجزاوې یو له بل سره څنګه یو ځای کېږي، ترڅو جملې جوړې کړي.

دریم: کله چې د یوې جملې مورفیمونه په ګرامري واحدونو ووېشل شي، دغه کوچني واحدونه څه نومېږي؟

نحوي واحدونه:

په ګرامري معنا او مفهوم د یوې ژبې تر ټولو کوچنی واحد چې د وېشلو وړ نه وي، تګمیم یا نحوي واحد ورته وایي. د مثال په ډول، کله چې ووایو: دغه څوک ده؟ که د همدې سوالیه جملې په ځواب کې وویل شي: نجلۍ، په ګرامري لحاظ بشپړ مطلب اداء شو. دلته ((نجلۍ)) یو تګمیم یا کوچنی نحوي واحد دی.

ترکیب:

ترکیب هم د نحوي واحدونو له جملې څخه دی چې د جملو په جوړونه او رغونه کې ډېره ارزښتمنه ونډه لري. ترکیب د دوو یا زیاتو خپلواکو او ناخپلواکو کلمو ټولګه ده چې

برخې يې يوه له بلې سره ګرامري اړيکې لري. ترکيبونه لومړی په اسمي او فعلي ډلو وېشل کېږي. د اسمي ترکيبونو اساسي برخه اسم يا نوم وي او د فعلي ترکيبونو اساسي برخه فعل وي. اسمي ترکيبونه ډېر ډولونه لري، لکه: اضافي ترکيبونه، توصيفي ترکيبونه، عددي ترکيبونه، قيدي ترکيبونه، تاکيدي ترکيبونه او اداتي ترکيبونه.

فقره:

فقره هم يو نحوي واحد دی. د جملې اساسي ارکان مبتدا او خبر دواړه لري. خو کله کله په نحوي جوړښت کې د معنا له مخې د جملې د بلې برخې جز ګرځي او ورپورې مقيدېږي.

د مثال په ډول: ((پسرلی راغی))، يوه خپلواکه ګرامري بڼه ده، خو که وويل شي: ((پسرلی چې راغی)) په دغه حالت کې په (چې) سره مقيده شوه او بايد بله ګرامري بڼه ورپورې وتړل شي چې معنا يې پوره شي. په دې ډول: ((پسرلی چې راغی، نړۍ ښکلې شوه)). فقرې د بڼې او اړيکو له مخې ېبلا ېبل ډولونه لري: کوچنۍ فقرې او لويې فقرې. لويې فقرې بيا په خپلواکو او مقيدو فقرو وېشل کېږي. دا چې جمله تر ټولو ستر يا بشپړ نحوي واحد دی، نو دلته يې درپېژنو:

جمله:

جمله عربي کلمه ده. لغوي معنا يې ټولګه يا مجموعه ده او په اصطلاح کې د الفاظو او کلمو يو داسې ترکيب چې يو بشپړ مفهوم افاده کړي، جمله بلل کېږي. يا په بله وينا: جمله د يوې ژبې هغه خپلواکه ګرامري بڼه ده چې د جوړښت او معنا له مخې پوره او بشپړه وي. په جمله کې الفاظ او کلمې يوه له بلې سره نحوي اړيکې لري او خپلواکه پوره معنا او مفهوم وړاندې کوي.

د جملې د جوړښت توکي:

د يوې بشپړې جملې په جوړښت کې خپلواک توکي او مرستيال توکي ونډه لري. په

خپلواکو توکو کې خپلواکې کلمې، لکه: نومونه، ځیز نومونه، صفتونه، نومځري (ضمرونه) او قیدونه راځي او په کومکي توکو کې ادات، لاحقې یا وروستاړي او مختاړي او داسې نور راځي.

د جملې اساسي برخې:

هره جمله دوې بنسټیزې او اساسي برخې لري: مبتدا اوخبر.

۱ـ مبتدا (مسند الیه یا فاعل):

مبتدا په ګرامري توګه د یوې خپلواکې معنا لرونکې جملې برخه ګڼل کېږي او په جمله کې د هغه په باب خبر ورکول کېږي، لکه په دې لاندې جملو کې:

لمر راوخوت، خلک خپل کار کوي. تېل توی شول.

په پورته جملو کې (لمر، خلک، تېل) د جملو مبتداوې دي.

۲ـ خبر (مسند ـ فعل):

خبر هم د جملې اساسي او مهمه برخه جوړوي. دا د جملې هغه برخه ده چې د مبتدا حال څرګندوي. خبر د جوړښت له مخې په ساده او مرکب باندې ویشل کېږي.

خبر په دوه ډوله دی: اسمي خبر او فعلي خبر.

هغه جملې چې د خبر په برخه کې یې پوره فعل یا فعلي ترکیب راغلی وي، د فعلي جملې په نوم یادېږي او هغه چې مبتدا او خبر دواړه نومونه وي، اسمي جملې ورته وایي.

د پښتو د جملې په جوړښت کې یوه مهمه ځانګړنه دا ده چې مبتدا او خبر مطابقت او سمون سره لري. دا سمون د جملې د فعل او فاعل یا مبتدا او خبر تر منځ د دریو اړخونو (د شخص، جنس او عدد) له مخې موجود وي.

د جملې ډولونه:

جمله د بڼې او جوړښت له مخې په ساده او مرکبه باندې وېشل کېږي.

۳_ ساده جمله: هغه جمله ده چې له یوه فاعل او یوه فعل یا له یوې مبتدا او یوه خبر څخه جوړه وي.

لکه: احمد راغی، لمر پرېوت.

٤_ مرکبه جمله: هغه ده چې له دوو یا زیاتو ساده جملوڅخه جوړه وي.

لکه: لمر راوخوت، نړۍ رڼا شوه. احمد راغی، کتاب یې راوړ.

جمله د معنا له مخې په دوو سترو ډولونو وېشل کېږي، خبري، ناخبري.

٥_ خبري جمله: دې ډول جملې ته بیاني جمله هم وایي. د یوه څیز د حال او کیفیت بیان او څرګندویي کوي.

یا په بله ژبه، یو فکر د خبر په بڼه بیانوي، لکه: احمد شاه بابا د افغانستان نومیالی واکمن تېر شوی دی. زمونږ ښوونکی ډېره ورځیا لري.

٦_ ناخبري یا انشایي جمله:

ناخبري جملې دا لاندې ډولونه لري:

امریه جمله:

چې د ویناوال موخه پکې د یوه کار غوښتنه، د امر، حکم، هیلې، بلنې، مشورې او اخطار په بڼه وي.

لکه: درس ولوله! کار وکړه.

د پوښتنې جمله:

د ویونکي مطلب او موخه پکې پوښتنه او له مقابل لوري څخه د ځواب غوښتنه وي، لکه: څه وخت راغلې؟ چېرته ځې؟ او نور...

تعجبي جمله:

د حیرانتیا په حالت کې ویل کېږي، یا د حیرانۍ څرګندویي کوي.

لکه: څومره ښه خلک دي! څه کارونه یې ونه کړل!

تمنايي جمله:

د غوښتنې او هیلې مفهوم پکې نغښتی وي،

لکه: کاشکی لاړ شم! ارمان چې راغلی وای!

شکي احتمالي جمله:

چې مقصد او مطلب پکې ثابت نه وي او شخص په دوو کې حیران او دوه زړی وي،

لکه: ښایي زه هم ولاړ شم، ګوندې مرسته را سره وکړي.

ټینګاري جمله:

د تاکید او ټینګار په موخه او مقصد راځي،

لکه: خامخا به راځې، حتمي ورشه!

قسميه جمله:

چې په یوه کار باندې د خلکو د باور کولو لپاره په یوه سپېڅلي ذات باندې قسم او لوړه څرګندوي.

لکه: خدایږو څه به نه وایم، په خدای چې ورځم.

دعائيه جمله:

د خیر ښېګڼې غوښتلو او څرګندولو لپاره ویل کېږي.

لکه: څه الله دی مل شه! خدای دې په خپل مقصد کې کامیاب کړه.

د متن لنډيز:

د نحوي لغوي معنا لاره او روښ ده، په اصطلاح کې د ګرامر هغه برخه ده چې په جمله کې د کلمو مطابقت، اړيکو او ترکيب په هکله بحث کوي.

په نحوي واحدونو کې تګميم، ترکيب، فقره او جمله شامل دي. دا ټول د جملو په جوړښت کې رغنده ونډه لري. جمله تر ټولو ستر نحوي واحد دی. لغوي معنا يې ټولګه يا مجموعه ده او په اصطلاح کې د کلمو يو داسې ترکيب دی چې بشپړ مفهوم افاده کوي. جمله دوې اساسي برخې لري: مبتدا او خبر. دا دواړه د جملې داسې برخې دي چې له هغو پرته بشپړه جمله نه جوړېږي. جمله د بڼې او جوړښت له مخې په ساده او مرکبه وېشل کېږي.

او د معنا له مخې جمله په خبري او ناخبري يا بياني انشايي باندې وېشل شوې ده. انشايي جمله، قسميه جمله او دعائيه جمله.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله په غور او دقت سره ولولي. د متن ستونزمنې کلمې دې په نښه کړي.

۲ـ ښوونکی دې د زده کوونکو له خوا په نښه شوې ستونزمنې کلمې د تختې پر مخ وليکي او هغه دې پر زده کوونکو يا په خپله معنا کړي.

۳ـ زده کوونکي دې په نوبت سره د متن يوه يوه برخه د ټولګيوالو په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د متن په سمون کې له هغوی سره مرسته وکړي.

٤ـ دوه دوه زده کوونکي دې په نوبت سره د ټولګي مخې ته وروبلل شي. يو تن دې يوه بشپړه جمله پر تختې وليکي او بل زده کوونکی دې په هغې کې د مبتدا او خبر برخه په ګوته کړي.

۵ـ ښوونکی دې داسې کلمې چې د جملې ښل ښل توکي دي، په بې ترتیبه بڼې د تختې پر مخ ولیکي، یو زده کوونکی دې تختې ته وروبولي چې له هغو څخه بشپړه جمله جوړه کړي. دا لړۍ دې تر پایه په ټولو زده کوونکو پلې کړای شي.

٦ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، یوه ډله د معنا له مخې د جملې ډولونه ولیکي او د هر ډول لپاره دې درې جملې جوړې کړي. بله ډله دې د ناخبري یا انشایي جملې ډولونه او د هر ډول لپاره درې درې جملې جوړې کړي. د هرې ډلې استازی دې د جملې ډولونه او د هغو مثالونه په ټولګي کې ولولي. ښوونکی دې د اړتیا په مهال مرسته ورسره وکړي.

۷ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- د جملې اساسي او بنسټیزې برخې کومې دي؟
- جمله د جوړښت له مخې په کومو ډولونو وېشل کېږي؟
- جمله د معنا له مخې، کوم ډولونه لري، نومونه یې واخلئ.
- د ناخبري یا انشایي جملې ډولونه کوم دي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د معنا له مخې د جملې د ډولونو لپاره پنځه پنځه جملې ولیکي او په راتلونکي پښتو ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي.

ورزش
(خبرې اترې)



ـ ورزش څه ته وايي؟

ـ ورزش څه ګټې لري؟

ـ څوک د څو لوبو نومونه اخيستلی شي؟

ـ کومه ورزشي لوبه مو ډېره خوښېږي؟

ورزش په ژوند کې ستر روغتيايي ارزښت او اهميت لري. که له يوې خوا ورزش ډېره غوره بوختيا ده، نوله بلې خوا د انسان په فزيکي او روحي روزنې باندې ډېرې ګټورې اغېزې لري. په دې لوست کې مو درته د ورزش په هکله د خبرو اترو په بڼه يو لړ معلومات وړاندې کړي چې هم له ورزش سره آشنايي پيدا کړئ او هم مو په پښتو ژبه د خبرو اترو کولو مهارت او څواک پياوړی شي.

خبرې اترې (محاوره)

(زلمی او کاروان د ورزش په اړه خبرې اترې کوي)

زلمی: السلام علیکم، کاروانه وروره!

کاروان: وعلیکم السلام، هر کله راشې!

چېرته روان یې زلمیه وروره!

زلمی: تر تا پورې راغلم کاروانه! یو څو پوښتنې لرم.

وروره! ته خو یو تکړه ورزشکار یې، کوم ورزش (لوبه) تر نورو غوره ده؟

کاروان: دا پوښتنه دې څنګه وکړه؟

زلمی: په ښوونځي کې د سپورت ښوونکي کورنۍ دنده راسپارلې چې په دې اړه معلومات را ټول کړم.

کاروان: ښه چې داسې ده، درته یې وایم. ګوره وروره! هره لوبه پر خپل ځای غوره او مهمه ده. چاته یوه او چاته بله ښه ښکاري.

زلمی: زمونږ په هېواد کې کومې لوبې دود دي؟

کاروان: ډېرې لوبې دي، لکه: والیبال، فوټبال، هاکي، باسکټبال او ... .

زلمی: هو! وزلوبه (بزکشي)، غېږې نیول، سوک وهنه (بوکس) کراته او تکواندو هم زمونږ د هېواد په لوبو کې ځای لري. په دې وروستیو وختونو کې کرکټ هم ډېر مینه وال موندلي دي.

زلمی: مشران وایي چې کرکټ پخوا زمونږ په هېواد کې دود نه و.

کاروان: هو! دغه لوبه اوس اوس رواج شوې ده او په پوره بریالیتوب مخ په وړاندې روانه ده. افغاني لوبغاړو یې نړیوال شهرت او مقام تر لاسه کړی دی.

زلمی: د لوبو په اړه یو څه نور معلومات راکولای شې؟

کاروان: اوس خو وخت نه لرم، بله ورځ به معلومات درکړم.

زلمی: سمه ده، کور دې ودان، کاروانه وروره بیا به سره وګورو.

دویمه مرکه (د لومړۍ مرکې په تعقیب)

زلمی: ستړی مه شې کاروانه وروره!

کاروان: ښاد اوسې زلمیه وروره! عمر دې ډېر شه!

څنګه را پېښ شوې زلمی جانه!

زلمی: غواړم چې خپله وعده پوره کړې او د لوبو په اړه نور معلومات هم راکړې.

کاروان: ولې نه، خو ستا له لوبو سره څنګه مینه پیدا شوه؟

زلمی: کورنۍ دندې ته د معلوماتو د را ټولولو په وخت کې مې په یوه مجله کې د ورزش ډېرې ګټې ولوستې چې یوه یې د بدن روغتیا ده، ځکه مې مینه ورسره پیدا شوه.

کاروان: هو! ورزش کول د صحت او سلامتیا بنسټ جوړوي، خو چې په منظم ډول وشي.

زلمی: د دې خبرې څه معنا؟

کاروان: معنا یې دا ده چې هر ډول ورزش چې کوې، نو اصول به یې زده کوې او قضا کوې به یې هم نه.

زلمی: کاروان جانه! دا وزلوبه یا بزکشي هم ورزش کېدلای شي؟

کاروان: ولې نه، وزلوبه هم ورزش دی؛ خو هر څوک یې نشي کولای، ځکه چې خطرناکه ده او خاص لوبغاړي یې ورته روزل کیږي.

زلمی: ما چې په تلوېزیون کې ولیده، ډېره خطرناکه معلومېده،

کاروان: تلوېزیون او مخامخ لیدل یې بیا ډېر توپیر لري. که پر میدان دې ولیده، نو پر لوبغاړو به یې آفرین ووایې.

زلمی: کاروانه وروره! غېږې نیول خو به ورزش نه وي؟

کاروان: ته اشتباه مه کوه، غېږې نیول هم ورزش دی.

زلمی: چې داسې ده، نو حمید خو هم ورزشکار دی، ځکه هغه هم غېږې نیسي.

کاروان: کومه لوبه یې ګټلې ده که نه؟

زلمی: هو! هره لوبه یې ګټلې ده، هغه تراوسه چا نه دی ځملولی، ډېر مشهور دی.

کاروان: د کوم کلب غړیتوب لري؟

زلمی: نه! په هېڅا پورې نه دی تړلی، په خپل سر آزادې لوبې کوي.

کاروان: که چېرې د کوم کلب غړی شي، نو لا به بریالی شي.

زلمی: دا څنګه؟

کاروان: دا په دې چې د لوبو په فني اصولو به پوه شي، نور به هم تکړه شي او د لوبې اتل به شي.

زلمی: چې داسې ده، نو زه به یې له تا سره مخامخ کړم، ته به یې پوه کړې.

کاروان: ولې نه! زه هر وخت لاړښوونې او مرستې ته تیار یم.

زلمی: ښه کاروانه وروره، زه اوس ځم چې خپل درسونه ولولم.

کاروان: الله دې مل شه.

د متن لنډیز:

په دې متن کې زلمی او کاروان د ورزش او د هغه د ځرنګوالي او ګټو په اړه خبرې کوي. زلمی د ورزش په هکله له کاروان څخه معلومات اخلي. کاروان سربېره پر دې چې د ببلا ببلو لوبو په پېژندنه کې له زلمي سره مرسته کوي. د ورزش فکري او جسمي ګټې هم ورته بیانوي او هغه ته ډېر په زړه پورې معلومات ورکوي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لوست یو ځل په پټه خوله ولولي چې د لوستلو مهارت یې پیاوړی شي. بیا دې یو یو زده کوونکی د لوست یوه یوه برخه په لوړ آواز ولولي.

۲ـ دوه دوه زده کوونکي دې په وار سره د نورو مخې ته ودرېږي، لوست دې د زلمي او کاروان په ځای په لوړ آواز ولولي.

۳ـ زده کوونکي دې لاندې کلمې تر لیکلو وروسته معنا او په جملو کې وکاروي:

ـ بنیاد ـ لوبغاړی ـ صحت او سلامتیا

ـ اتل ـ فني ـ کلپ

٤ـ دوه کسان دې په خپله خوښه د یوې لوبې په اړه خبرې وکړي، نور دې ورته غوږ ونیسي.

۵ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي: یوه ډله دې د محلي او سیمه ییزو لوبو نومونه ولیکي او بله ډله دې د نړیوالو یا المپیک د لوبو نومونه ولیکي. بیا دې دوه تنه د ډلو په استازیتوب په ټولګي کې دغه نومونه واوروي.

٦ـ په لاندې جملوکې صفتونه پیدا کړئ:

- زلمی، زړګی او ځیرک په یوه ټولګي کې لوست وایي، هغوی هره ورځ یو ځای ښوونځي ته ځي.
- حامد نوی موټر اخیستی، د هغه د موټر رنګ سور دی.
- تورپېکی او ښاپېرۍ د ایمل خویندې دي. دوی دواړه تورې جامې اغوندي.

۷ــ لاندې کلمې او د هغو مترادف په خپلو کتابچو کې وليکئ:

دود	ښاد	بنياد
بريالیتوب	مينه	فرق
ودان	ګټه	بريالی


۸ــ زده کوونکي دې د بېلابېلو لوبو په اړه په وار سره خبرې وکړي او ګټې دې بيان کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د وزلوبې (بزکشي) په اړه له خپلو مشرانو، کتابونو يا نورو منابعو څخه معلومات تر لاسه کړي او بيا دې هغه په بل درسي ساعت کې خپلو ټولګيوالو ته واوروي.

ورزش که له يوې خوا ستاسې روغتيا ته ګټه لري، نو له بل پلوه ستاسې ترمنځ د دوستۍ او صميميت اړيکې هم ټينګوي.

نصیحت



ـ څوک ویلای شي چې نصیحت څه ته وایي؟

ـ نصیحت اورېدل او پرې عمل کول څه ګټه لري؟

ـ د چا نصیحت باید واورېدل شي؟

نصیحت د عالمانو، پوهانو او مشرانو وینا وي. په دغو وینا وو کې د نېکو او غوره چارو د سرته رسولو لپاره هڅونې کېږي. همدارنګه پکې له ناوړه کارونو څخه د منعه کولو لپاره هم لازمي لارښوونې شوې وي.

پوهان او مشران دغه ډول وینا وي د خپلې پوهې او تجربو په رڼا کې د خپل مکلفیت او مسوولیت له مخې نورو ته کوي. په دې لوست کې د عبدالقادر خان خټک یو شعر لولو چې ډېر غوره نصیحتونه پکې نغښتي دي:

مه شه خوښ د پاچاهۍ په تخت ختلو
همېشه يې غم کوه د پرېوتلو
چې يې اوس کړې په مظلومو ردې ردې
غافل مه شه د دې سترګو د وتلو
چې پېښه يې همېشه دل آزاري وي
د هغو مخونه نه دي د کتلو
ځکه تل کړې په زر دوزو جامو کبر
چې غافل يې د کفن د اغوستلو
د اجل د ستورو تاخت ناګهاني دی
چې هېڅ کور يې نه خلاصېږي له نتلو
هغه زړه عبدالقادره چې مرده وي
په ګوګل دننه نه دی د ساتلو
(عبدالقادر خان ختک)

عبدالقادر خان ختک:

د پښتو ژبې نومیالی او خوږ ژبی شاعر، د خوشحال خان ختک زوی په (۱۰۶۳) هجري قمري کال کې د پښتونخوا، پېښور په اکوړه ختک کې زېږېدلی و. تر (۱۱۲۵) هجري قمري کال پورې يې ژوند يقيني دی. د لوړې پوهې او ادبي استعداد څښتن و. په نظم او نثر کې يې دېر کتابونه ليکلي او ژباړلي دي. ځينې آثار يې چې اوس موږ په واک کې لرو، دا دي: د اشعارو ديوان (حديقه ختک)، گلدسته، يوسف زليخا، څلوېښت حديثونه، قصيده برده.

د متن لنډيز:

شاعر وايي چې د پاچاهۍ تخت ته په ختلو او لوړ مقام ته په رسېدلو مه خوشحالېږه، د دې په فکر او غم کې اوسه چې خامخا به يوه ورځ را نسکورېږي. ته چې نن په زور زياتي پر خلکو سترګې راباسې، له دې څخه مه غافلېږه چې دا سترګې به دې يوه ورځ څوک راوباسي. د هغه چا چې پېشه او دنده د خلکو ازارول وي، له هغې څخه بايد خلک کرکه وکړي او په بده سترګه ورته وګوري. ته چې نن په دې زرينو لباسونو کې په کبر او غرور ګرځې، داسې ښکاري چې مرګی دې هېر دی او له کفن څخه غافل يې، اجل پر هر چا ناڅاپه بريد کوي او د هغه له منګولو هيڅوک نه خلاصېږي. هغه زړه چې د خدای ﷻ په ياد ژوندی نه وي، درد او احساس پکې نه وي، هغه د ساتلو نه دی.

فعاليتونه

۱ـ د ښوونکي له متن لوستلو او لازمو څرګندونو وروسته دې زده کوونکي متن په پټه خوله او دقت سره ولولي.

۲ـ زده کوونکي دې په وار سره متن د ټولګيوالو په وړاندې ولولي، ښوونکی دې د اړتيا په مهال ورسره مرسته وکړي.

۳ـ دوه دوه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راوبلل شي، يو دې د شعر يو بيت ولولي او هغه بل دې د هغه معنا او مفهوم نورو ټولګيوالو ته ووايي. دا لړۍ دې په ټول ټولګي کې پلې کړي.

٤ـ زده کوونکي دې وګومارل شي چې متن په غور ولولي او په هغه کې دې فعلونه په نښه کړي. ښوونکی دې په نښه کړي فعلونه د تختې پر مخ وليکي او زده کوونکي دې په نوبت سره تختې ته ورشي او هغه دې په مناسبو جملو کې وکاروي.

فعل: هغې کلمې ته وايي چې په يوه زمانه يا ټاکلي وخت کې د يوه کار يا يوې پېښې په کېدو يا د يوه حالت په راڅرګندېدو دلالت کوي. لکه: راغی، وايي، را به شي، خوري.

فعل د زمانې په لحاظ په درې ډوله دی: تېر مهال (ماضي)، اوسمهال (حال)، راتلونکی مهال (مستقبل).

۵ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې د کچې ارزونه وشي:


- د زړونو آزارول څه ډول عمل دی؟
- کبر او غرور څه ډول کړنه ده؟
- څوک چې ظلم او زور زياتی کوي، انجام به يې څه وي؟
- کوم زړه ته مړ زړه ويلای شو؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د دې لاندې بيت توضيح او تشريح په خو کرښو مقاله کې وليکي او راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګيوالو ته ولولي:

چې پېښه يې همېشه دل آزاري وي
د هغو مخونه نه دي د کتلو

زرغونه کاکړه (رح)



_ تاسې د هېواد په پخوانیو نومیالیو مېرمنو کې د چا له نامه سره آشنا یاست؟

_ آیا کومه پخوانۍ پښتنه شاعره پېژنئ؟

زمونږ هېواد په خپله غېږ کې ډېر نومیالي زامن او لونې روزلې دي چې هغوی د علم، فرهنګ، سیاست، حکمت او نورو په ډګرونو کې ډېرې ویاړلې کړنې او کارنامې لري. زمونږ د هېواد په د غو نومیالیو کې یوه هم زرغونه کاکړه (رح) وه چې له لوړې پوهې او هنر څخه برخمنه وه. په دې لوست کې یې درپېژنو.

زرغونه کاکړه د ملا دین محمد لور وه. د کندهار په پنجوايي کې اوسېدله. د زوکړې کال يې (٨٨٤ هجري قمري) اټکل شوی دی.

زرغونې کاکړې مروجه ديني علوم، د نظم او نثر کتابونه له خپل پلار څخه لوستي وو. وروسته يې له علم او ادب سره د زياتې مينې له امله د ډېرو ديني او ادبي کتابونو مطالعه وکړه. د خطاطۍ هنر يې هم زده و. زرغونه د دين په احکامو، د علم، عرفان، فصاحت او بلاغت په مسايلو ښه پوهېده. دغې عالمې او فاضلې مېرمنې له سعدالله خان نورزي سره واده کړی او د ژوند شپې او ورځې يې په عبادت او رياضت تېرولې.

زرغونې کاکړې په (٩٠٣ هجري قمري) کال د شيخ مصلح الدين سعدي شېرازي مشهور کتاب ((بوستان)) پښتو ته ژباړلی و. د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک وايي چې زما پلار د زرغونې کاکړې د پښتو بوستان يوه نسخه چې نوموړې په خپل ښکلي خط ليکلې وه، په (١١٠٢ هجري قمري) کال کې ليدلې او لوستلې وه.

محمد هوتک په پټې خزانې کې د زرغونې کاکړې د علم، اخلاقو او فضيلت ډېره ستاينه کړې او ليکلي يې دي چې: ((زرغونې کاکړې هر ډول خطونه ليکلی شول او کاتبانو به د هغې د ښکلي خط له مخې خط زده کاوه. زرغونه کاکړه ډېره ښه شاعره هم وه. ډېر شعرونه يې درلودل او د خپل وخت په ادبيانو کې يې پوره نوم او شهرت درلود.))

د زرغونې د شعرونو ديوان او د شعر نورې بېلګې تر اوسه نه دي تر لاسه شوي. يو شعر يې محمد هوتک د خپل کتاب پټې خزانې په وسيله تر موږ را رسولی دی. د پښتو ادبياتو تاريخ دويم ټوک ليکوال د زرغونې کاکړې د ژوند د حالاتو او د شعر په هکله ليکلي دي:

((که موږ په پښتو ادب کې د اخلاقي شاعرانو لپاره يوه مخصوصه ډله ومنو، نو زرغونه کاکړه به په خپل پښتو بوستان سره د هغوی په سر کې ولاړه وي. موږ زرغونه د شيخ سعدي (رح) د بوستان په منظومه ترجمه د اخلاقي شاعرانو له ډلې څخه بللی شو.))

زرغونه کاکړه په خپل عصر کې لويه عارفه، عالمه، فاضله مېرمن او د پښتو ژبې پياوړې شاعره وه.

دلته يې د شعر يوه بېلگه لولو:

حکایت

اورېـــدلـــې مـــې قـصـــه ده　　چـې لـه شـاتـو نـه خـــوږه ده
د اخـتـــر پـــه ورځ سـهـار　　بـــا يـــزيـــد چـــې و رويـــدار
لـــه حـمـامـــه را وتـلـی　　پـــه کـوڅـه کـــې تـېرېـدلـی
ايـــرې خـــاورې چـا لـه بـامـه　　راچـــپـــه کـــړلـــې نـاپـامـه
مـــخ او ســـر يـــې ســـو ککـړ　　پـــه ايـــرو پـــه خـــاورو خـړ
بـا يـزيـد پـه شـکـر کـښـو سو　　د خـپـل مـخ پـه پـاکـېـدو سو
وې چـــې زه وړ يـــم د اور　　چـې پـه اور کـې سـم نسکور
لـــه ايـــرو بـــه څـه بـد وړمـه　　يـــا بـــه لـــږ شـکـــوه کـومـه
هـــو پـوهـانـو ځـــان ايـــرې کړ　　لـه لـوېـنـې يـې ځـان پـرې کړ
څـوک چـې ځـانـتـه گـوري تل　　خـــدای تـــه نـشـي کـــړای کتل
لـويـي تـل پـه گـفـتـار نـه ده　　لـــو خـبـــره پـکـــار نـــه ده

تـواضـع بـه دې سـر لـوړ کا
تـکـبـر بـه دې تـل ځـوړ کا

د متن لنډيز:

زرغونه کاکړه د ملا دين محمد کاکړ لور زمور د هېواد يوه نومیالۍ عالمه او فاضله مېرمن وه. په (٨٨٤ هجری قمري) کال يې د کندهار د پنجوايي په سيمه کې سترګې نړۍ ته پرانستې وې. له سعدالله خان نورزي سره يې واده کړی او د ژوند شپې او ورځې يې د حق په عبادت او رياضيت تېرولې. زرغونه کاکړه د پښتو ژبې شاعره هم وه. د شيخ سعدي(رح) بوستان يې په پښتو نظم ژباړلی و. ښه خطاطه هم وه.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله او دقت سره ولولي، ستونزمنې کلمې دې په نښه کړي. ښوونکی دی هغه د تختې پر مخ د زده کوونکو په مرسته او یا په خپله حل او توضیح کړي.

۲ـ زده کوونکي دې په نوبت سره د متن یو یو پرګراف د ټولګیوالو په وړاندې ولولي. ښوونکی دې له هغوی سره د اړتیا پر مهال مرسته وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي او دې ته دې وګومارل شي چې یوه ډله په متن کې خاص نومونه او بله عام نومونه په نښه کړي. د هرې ډلې استازی دې د خپل ګروپ په نښه کړي خاص او عام نومونه د تختې پر مخ ولیکي. ښوونکی دې د هغو په اړه لاندې څرګندونې وکړي:

> خاص نوم: هغه نوم دی چې یو خاص شخص، ځای او څیز نوموي، لکه: زرغونه کاکړه، احمد شاه بابا.
>
> عام نوم: چې په عامه توګه یو شی یا څیز نوموي، لکه: قلم، کال او نور.

٤ـ یو یو زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راوبلل شي چې د زرغونې کاکړې د شعر مفهوم ټولګیوالو ته ووایي. ښوونکی دې په سمون کې ورسره مرسته وکړي.

۵ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- زرغونه کاکړه د چا لور اود کوم ځای اوسېدونکې وه؟
- د زرغونې کاکړې احوال مورِ ته چا، د کوم کتاب په وسیله را رسولی دی؟
- زرغونې کاکړې کوم کتاب په پښتو نظم ژباړلی دی؟
- زرغونې کاکړې له شاعرۍ پرته بل کوم هنر زده کړی و؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې د کومې بلې ښځینه پښتو شاعرې په هکله لنډ معلومات ولیکي او هغه دې په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې ټولګیوالو ته ووایي.

ملي يووالی



ـ ملي يووالی څه ته وايي؟

ـ که د يوې سيمې يا هېواد وګړي په خپلو کې ټرون او يووالی ونه لري، له کومو ستونزو سره به مخامخ شي؟

افغانستان د ټولو استوګنو قومونو ګډ کور دی. زمونږ د هېواد وګړي ګډ تاريخ او کلتور لري او د تاريخ په اوږدو کې دې مېشتو قومونو په ګډه له خپل هېواد او ټاټوبي څخه ساتنه کړې او خپل ملي يووالی يې په هر حالت کې ساتلی دی.

په دې لوست کې ملي يووالی درپېژنو، په ارزښت او اهميت يې بحث کوو.

هغه خلک چې په یوې ټاکلې جغرافیایي سیمې کې استوګنه لري، ګډ او شریک تاریخ، فرهنګ، عنعنات او ملي ویاړونه لري، یو ملت بلل کېږي. د نړۍ پرمخ ټول ملتونه او هېوادونه له بېلابېلو قومونو او قبیلو څخه جوړ دي. دوی د ګډ بر خلیک خاوندان دي. تر یوه بیرغ لاندې را ټول او په یوه نامه یادېږي.

زموږ ګران هېواد افغانستان د یوه واحد ملت په توګه د ټولو افغانانو ګډ کور دی. دا چې ټولو په دې ستر او تاریخي کور کې سترګې نړۍ ته غړولي او د دې هېواد په سپېڅلو اوبو او هوا کې را لوی شوي، د یوه افغان په نامه یادېږي، نو باید یو له بل سره مینه او په خپلو منځو کې ژور ملي تړون، ټینګ یووالی ولري او تر یوه بېرغ لاندې ژوند وکړي.

زموږ د هېواد اوسېدونکو د تاریخ په اوږدو کې ګډ ژوند کړی دی. ټولو له خپلې خاورې، ملي نوامیسو او ځمکنۍ بشپړتیا څخه په ګډه دفاع اوساتنه کړې ده.

دا هېواد پر موږ ټولو افغانانو حق لري چې د ودانۍ، سوکالۍ، سراسري سولې، امن او ملي وحدت د ساتلو لپاره یې هر ډول سرښندنو ته چمتو اوسو.

په هېواد کې د ملي یووالي د ټینګښت او پیاوړتیا لپاره دا تر هر څه اړینه اوضروري ده چې هر ډول توپیرونه له منځه یوسو. یو بل ته باید د وروروڼۍ غېږه پرانیزو او په ټولو ملي چارو کې د یوه واحد ملت په توګه ثابت دریځ ولرو.

که د نړۍ لویو او پر مختللو هېوادونو ته وګورو، نو راته څرګندېږي چې هغوی تر هر څه لومړی هغه بېلا بېل توپیرونه چې د دوی د ملي یووالي په زیان تمامېږي، له منځه وړي دي. پر ځای یې په پوره یووالي د علم، پوهې او ټکنالوژۍ خواته مخه کړې ده. د نړۍ د غو پر مختللو ولسونو بشري او انساني کرامت ته په درناوي په خپلو کې د ملي یووالي پیاوړې روحیه رامنځته کړې ده.

په یوې ټولنې یا هېواد کې د ملي یووالي په له منځه تللو سره، هغه هېواد او ټولنه له ستړې ګډوډۍ سره مخامخ کېږي. د ملي وحدت د نشتوالي په صورت کې د حق او رښتینولۍ

روحیه کمزوري کېږي. زور زیاتی او نابرابري له یوې ورځې څخه بلې ته زیاتېږي. تر څنګ یې د خوابدیو، خپل منځي شخړو او د ښمنیو لمنه پراخېږي. په دې ترتیب د هېواد بهرنیو د ښمنانو ته د هر ډول لاس وهنو لارې چارې برابرېږي.

موږ باید د خپل ملي یووالي په ارزښت او اهمیت پوه شو، دا په ژوره توګه درک کړو چې زموږ د هېواد ودانۍ او نېکمرغي په همدغه ملي یووالي کې نغښتې ده. باید چې د ملي یووالي د ساتنې لپاره پراخې او هر اړخیزې هلې ځلې وکړو. د ځانګ ګټو او غوښتنو پر ځای د ملي ګټو درناوی وکړو. په پوره هوښیارۍ او ځیرکتیا باید هغه عوامل معلوم کړو او له منځه یې یوسو چې زموږ ملي یووالي ته زیان رسوي، بنسټونه یې کمزوري کوي او د وخت په تېرېدو یې له منځه وړي.

د متن لنډیز:

ملي یووالی د هر هېواد د پرمختګ، سوکالۍ او نېکمرغۍ لپاره ډېر ضروري دی، نو د ساتلو او ټینګښت لپاره یې باید کلکې او هر اړخیزې هڅې او کوښښونه وشي. که په کوم هېواد کې د ملي وحدت مزي سست یا وشلېږي، نو هغه له ستروګډوډیو او بې شمېره بد مرغیو سره مخامخ کېږي. د همدغه ملي وحدت د نشتوالي په صورت کې بهرنیو دښمنانو ته د ډول ډول لاس وهنو لارې چارې برابرېږي.

فعالیتونه

۱ــ د ښوونکي له متن لوستنې او لازمو څرګندونو وروسته دې زده کوونکي متن په غور او دقت په پټه خوله ولولي.

۲ــ زده کوونکي دې په نوبت سره د متن یو یو پرګراف د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

ښوونکی دې د اړتیا پر مهال ورسره مرسته وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې په نوبت سره د ملي وحدت، د هغه د ارزښت او اهمیت په هکله نورو ټولګیوالو ته خبرې وکړي.

٤ـ ښوونکی دې دا لاندې پوښتنې د تختې پر مخ ولیکي او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې د هغو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي:

- ملي یووالی څه شی دی؟
- ملي یووالی څه ګټې لري؟
- بې اتفاقي یا نفاق څه زیانونه لري؟
- د ملي یووالي د ټینګښت لپاره څه شي ته ډېره اړتیا ده؟
- تاسې به د ملي یووالي د ټینګښت لپاره څه کارونه وکړئ؟

۵ـ د ګرامر له مخې، په دې لاندې جملو کې له سمې جملې څخه په پنسل کرښه چاپېره کړئ:

الف: افغانستان د ټول افغانانو ګډ کور دی.

ب: افغانستان د ټولو افغانان ګډ هېواد دی.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د ملي یووالي په هکله څو کرښې مقاله ولیکي او په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي.

د پښتو نثر لنډه تاریخچه



ـ څوک ویلی شي چې نثر څه ته وایي؟

ـ نظم او نثر څه توپیر لري؟

ـ د پښتو نثر کوم پخوانی لیکلی کتاب در معلوم دی؟

د نثر لغوي معنا شیندل، پاشل او تیتول دي او په ادبي اصطلاح کې هغه لیکنه ده چې د وزن او قافیې له قید او بند څخه آزاده وي.

هره ژبه دوه ډوله آثار لري: یو یې منظوم آثار دي چې په شعر لیکل شوي او بل یې منثور آثار دي چې په نثر لیکل شوي دي. پښتو ژبه دا دواړه ډوله آثار لري. دلته مونږ په دې لوست کې د پښتو نثر پر لنډ تاریخي بهیر بحث کوو:

پښتو ژبه ډېر لرغونی تاریخ او بډایه فرهنګي شتمني لري. د فرهنګي شتمنۍ ډېره ستره برخه په نظم او نثر لیکلي او شفاهي ادبیات دي چې د تاریخ په اوږدو کې رامنځته شوي دي. دغه ادبیات د شعر او نثر په بېلا بېلو کالبونو کې خوندي دي. سره له دې چې د پښتو ژبې د منظومو او منثورو آثارو ډېره برخه د زمانو د پېښو په بهیر کې ضایع شوې ده، بیا هم هغه چې له دغو توفانونو خوندي پاتې دي او موږ یې په واک کې لرو، د پښتو ژبې د فرهنګي بډاینې ښه څرګندویي کولای شي.

د پښتو نثري آثارو د تاریخي بهیر په لړ کې، لومړنی معلوم لیکوال ابو محمد هاشم ابن الزید السرواني (۲۲۳هـ.ق. زوکړی) دی چې د ((سالو وړمه)) په نوم یې د پښتو نثر یو کتاب لیکلی دی. دغه کتاب تر اوسه نه دی تر لاسه شوی، د پټې خزانې لیکوال محمد هوتک، موږ ته دغه کتاب او د هغه لیکوال راپېژني.

دغه کتاب د عربي اشعارو د فصاحت او بلاغت په باره کې لیکل شوی دی. له ابوهاشم سرواني څخه وروسته بل معلوم لیکوال چې په پښتو نثر یې د ((تذکرة الاولیاء)) په نوم له (۶۱۲هـ.ق.) کال څخه وروسته یو کتاب لیکلی، هغه سلیمان ماکو دی. د دغه کتاب د سر څو پاڼې اوس زموږ په واک کې دی. په دغو څو تر لاسه شوو پاڼو کې څلور نومیالي پښتانه شاعران او عارفان معرفي شوي دي.

څرنګه چې د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء موږ ته د پښتو نثر لومړنۍ بېلګه په لاس راکوي، نو له دې امله دغه کتاب د پښتو ژبې په ادبي تاریخ کې له ستر ارزښت او اهمیت څخه برخمن دی. دغه نثر په موضوعي لحاظ د تاریخي نثرونو په ډله کې راځي، خو د جوړښت له مخې ساده نثر دی. ډېر کړکېچ او پېچلي ترکیبونه نه لري، درانه لغات هم په کې نه دي استعمال شوي او جملې یې لنډې لنډې دي.

له سلیمان ماکو څخه وروسته بیا تر لسمې هجري پېړۍ پورې، بل نثري کتاب په لاس کې نه لرو. البته د پټې خزانې لیکوال موږ د ځینو لیکوالو او د هغوی د نثري کتابونو له نومونو سره آشنا کوي چې په هغو کې د شیخ کټه ((لرغوني پښتانه))، د محمد بن علي

بستي ((تاريخ سوري)) او د ملا الله يار ((تحفة صالح)) د يادونې وړ دي چې په اوومه، اتمه او نهمه هجري پېړۍ کې ليکل شوي دي.

له لسمې هجري پېړۍ څخه را وروسته بيا موږ د پښتو نثر ډېر ليکلي کتابونه لرو. په هغو کې په لسمه هجرى پېړۍ کې د بايزيد روښان ليکلى اثر ((خير البيان)) او د اخوند دروېزه ((مخزن الاسلام)) کتابونو نومونه يادولى شو. دا دواړه کتابونه په پښتو مسجع نثر ليکل شوي او ديني موضوعات پکې راغلي دي.

خيرالبيان او مخزن الاسلام دواړه په مسجع يا قافيه وال نثر ليکل شوي دي، خو دا چې خيرالبيان دمخه ليکل شوى او مخزن الاسلام، اخوند دروېزه د هغه د نثر ليکنې په تعقيب څوکاله وروسته تاليف کړى، نو ځکه بايزيد روښان د مسجع نثر ليکنې بنسټ ايښودونکى بلل شوى دى.

د مسجع نثر ليکنې دغه لاره د بايزيد روښان او اخوند دروېزه پلويانو پاللې، وده او پرمختيا يې ورکړې او تر ډېرې مودې يې دوام موندلى دى.

په يوولسمه هجري پېړۍ کې خوشحال خان خټک او د هغه د کورنۍ غړو په نثر کې ځينې کتابونه ليکلي او ژباړلي دي. د خټکو دوره چې د پښتو ادب يوه زرينه دوره بلل کېږي، پښتو نثر ليکنې په کې د يادونې او ستاينې وړ وده او پرمختيا موندلې ده. د دې دورې د پښتو په نثري کتابونو کې د خوشحال خان خټک د بياض پر نثرونو سربېره د هغه ((دستارنامه))، د عبدالقادرخان خټک ((گلدسته))، د افضل خان خټک ((تاريخ مرصع)) او ((عيار دانش))، د گوهر خان خټک ژباړلى سيرت ((قلب السير)) او نورو نومونه د يادونې وړ دي. دا کتابونه په ساده او روان پښتو نثر ليکل شوي دي چې په نورو ادبي ښېګڼو سربېره يې د نثر ساده گي، رواني، وگړنۍ محاورې ته نږدېوالى له ډېرو مهمو ځانگړنو څخه دي. وروسته د هوتکو د واکمنۍ په دوران کى پښتو نثر ليکنې ډېر پرمختگ کړى دى. د ملا نورمحمد غلجي ((نافع المسلمين)) او د محمد هوتک ((پټه خزانه)) د دې دورې د نثر مشهور کتابونه دي چې نافع المسلمين په مسجع نثر او پټه خزانه په ساده روان نثر ليکل شوې ده. د احمدشاه

بابا د واکمنۍ پر مهال هم پښتو نثر وده او پر مختيا موندلې ده. د پيرمحمد کاکړ ((معرفت الافغاني))، د خان علوم ((د احمدشاه بابا د اشعارو پښتو شرحه)) او د عبدالله فتاوای احمد شاهي په همدغه دوره کې ليکل شوي کتابونه دي.

د ديارلسمې هجري پيړۍ په وروستيو کې د نوي او معاصر ادب د رامنځته کېدو لارې چارې برابرې شوې دي. د دې دورې ليکوالو په نثر کې د ساده ليکنې لاره خپله کړې ده او د پخواني متکلف او مسجع نثر ليکلو پر خلاف عام، د ولس محاورې ته نژدې کليوالي او ولسي اصطلاحات، محاورې او متلونه هم په خپلو نثري ليکنو کې کارولي او هڅه يې کړې ده چې خپل نثري آثار د خلکو د پوهونې له پاره د هغوی په ژبه وليکي. د دې ډول نثري آثارو په لړ کې د بېلګې په توګه د نورمحمد نوري افغانی ((غونچه روه)) (۱۲۸۰هـ.ق. تألیف) د مولوي احمد ((گنج پښتو))، آدم خان درخانی، د ميراحمدشاه رضواني ((شکرستان افغاني)) او ((بهارستان افغاني)) کې راغلي نثرونه او همدارنګه د ميا حسيب گل کاکاخېل ژباړلی ناول ((نقش نگين)) او د ميا محمد يوسف ژباړلی ناول ((توبةالنصوح)) نومونه يادولی شو. دغه نثرونه په ساده ګۍ او روانۍ سربېره ادبي او هنري ارزښتونه هم لري او د نوو هنري نثرونو څرګونه پکې تر سترګو کېږي.

وروسته بيا د پښتو نثر هر اړخيزه وده او پرمختيا موندلې ده. د ساده او ژور نالستي نثرونو تر څنګ نوي هنري ادبي ژانرونه هم په پښتو ژبې او ادب کې دود شوي دي. دلته د هغو ادبي نثري ژانرونو نومونه اخلو چې په پښتو ژبه او ادب کې دود او موږ يې په خپلو ادبياتو کې ډېرې بېلګې لرو.

لنډه کيسه، ناول، رومان، ډرامه، طنز، ادبي ټوټه، ادبي ليکونه، ادبي راپورتاژ، ادبي يونليک (سفرنامه)، ادبي ځان پېژنې (خاطرې)، ادبي ژوندليک (بيوګرافي)، تکل، ادبي انځور، فلمي سناريو او نور. اوس د پښتو نثر د ودې او پرمختيا يون په ډېرې چټکۍ سره روان دی او ډول ډول نثري آثار چاپ او خپرېږي.

د متن لنډيز:

پښتو ژبه بډايه فرهنګي زېرمه لري چې د هغې ستره برخه د دې ژبې منظوم او منثور ليکلي او شفاهي ادبيات جوړوي. د پښتو ژبې ډېر ليکلي آثار د زمانې په خونړيو پېښو کې له منځه تللي او ډېر لږ ورځخه خوندي پاتې شوي دي. د پښتو نثر لومړنی کتاب چې مونږ يې له نوم سره آشنا يو، هغه د ابوهاشم سروانی ليکلی اثر ((سالو وړمه)) دی چې پتې خزانې مونږ ته را معرفي کړي. وروسته په اوومه هجري پېړۍ کې سليمان ماکو ((تذکرة الاولياء)) ليکلی او بيا په لسمه هجري پېړۍ کې بايزيد روښان او اخوند دروېزه او د دې دواړو پيروانو په پښتو نثر کتابونه ليکلي دي. تر دې وروسته خوشحال خان او د هغه کورنۍ د نثر کتابونه ليکلي دي. د ديارلسمې هجري پېړۍ په وروستيو کې د پښتو ساده نثر ليکنه عامه شوې او ډېر پښتو کتابونه ليکل شوي دي. په اوسنۍ او معاصره دوره کې پښتو نثر ډېره وده او پرمختيا کړې او د نثر بېلا بېل ډولونه عام شوي او په هره برخه کې زيات شمېر آثار رامنځته شوي دي.

فعاليتونه

۱ــ زده کوونکي دې متن په پټه خوله په غور او دقت سره ولولي. ستونزمنې کلمې دې په نښه کړي.

۲ــ ښوونکی دې د زده کوونکو په نښه کړې کلمې پر زده کوونکو او يا په خپله معنا او پر تختې وليکي.

۳ــ زده کوونکي دې په وار سره د متن يو يو پرګراف ولولي. ښوونکي دې د اړتيا پر مهال مرسته ورسره وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي او دې ته دې وګومارل شي چې متن په غور سره ولولي. يوه ډله دې په متن کې د کتابونو نومونه او بله دې د اشخاصو نومونه په نښه کړي. د هرې ډلې استازی دې هغه په نښه کړي نومونه پر تختې وليکي. ښوونکی دې د هغو په هکله زده کوونکو ته لازمې څرګندونې وکړي.

٥ـ زده کوونکي دې په وار سره په ټولګي کې د لوستل شوي متن مفهوم په خپلو الفاظو او عبارتونو نورو ټولګيوالو ته ووايي.

٦ـ په دې لاندې پوښتنو دې د زده کوونکو د زده کړې ارزونه وشي:

- د پښتو نثر لومړنی کتاب څه نومېږي او چا ليکلی دی؟
- تذکرة الاولياء چا ليکلی او څه ډول کتاب دی؟
- د پښتو نثر د پنځو پخوانيو کتابونو نومونه واخلئ؟
- د پښتو نثر د پنځو پخوانيو ليکوالو نومونه واخلئ؟
- بايزيد روښان او اخوند دروېزه خپل کتابونه (خيرالبيان او مخزن الاسلام) په کوم ډول نثر ليکلي دي؟
- خوشحال خټک او د هغه پيروانو خپل کتابونه په کوم ډول نثر ليکلي دي؟
- د هنري نثر د ځينو ډولونو نومونه واخلئ.

کورنی دنده

زده کوونکې دې د پښتو نثر يو کتاب په څو کرښو کې معرفي کړي او هغه دې په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې نورو ټولګيوالو ته ولولي.

د بديع علم ـ لومړۍ برخه
لفظي ادبي صنعتونه



ـ څوک د بديع علم پېژني؟

ـ د بديع علم له کومو ادبي صنعتونو څخه بحث کوي؟

ادبی فنون یو لړ ټاکلي اصول او موازين دي چې د هغو په وسيله د ادبي آثارو لفظي او معنوي ښېګڼې پېژندل کېږي.

بديع هغه پوهنه ده چې د وينا او کلام له ښکلا او هغو ادبي صنايعو څخه بحث کوي چې نظم اونثر ته ښکلا وربښي.

بديع له دوه ډوله ادبي صنعتونو څخه بحث کوي: يوه ته يې لفظي او بل ته يې معنوي صنعتونه وايي. په دې لوست کې لفظي ادبي صنعتونه درپېژنو:

ادبي فنون په عام مفهوم يو لړ ټاکلي اصول او موازين دي. د دغو موازينو په وسيله د ادبي آثارو لفظي او معنوي ښېګڼې يا په بله وينا ښکلاوې، هنري او ادبي ارزښتونه پېژندل کېږي. يا ادبي فنون هغه موازين تشريح کوي چې د هغو په وسيله کولای شو د ادبي آثارو لفظي او معنوي ښکلاوې وپېژنو.

ادبي فنون درې ستري څانګې لري: معاني، بيان او بديع

دا چې مور دلته لفظي صنايع درپېژنو، دا صنايع د ادبي فنون د ((بديع)) په څانګې پورې اړه لري. د مخه تر دې چې د شعر دغه صنعتونه دروپېژنو، لازمه ده د بديع علم په لغوي او اصطلاحي معنا پوه شو.

د بديع لغوي معنا نوی، تازه او حېرانوونکی شی دی او په ادبي اصطلاح هغه پوهنه ده چې د وينا او کلام له ښکلا او هغو صنايعو څخه بحث کوي چې نظم او نثر ته ښکلا وربښي. د بديع د علم وضعه کوونکی عبدالله بن معتز دی. نومورې په (۲۷٤ هجري قمري) کال په دې اړه په عربي ژبه يو مفصل کتاب تأليف کړ او ورو ورو دغه پوهنه نورو ژبو ته خپره شوه. د بديع د علم موضوع فصيحه او بليغه ادبي ويناده او هغه څه ته چې د بليغې وينا د ښکلا سبب کېږي، ادبي صنعتونه وايي.

ادبي صنعتونه دوه ډوله دي: لفظي صنعتونه او معنوي صنعتونه.

لفظي صنعتونه دا دي:

لفظي صنعتونه هغه دي چې په هغو کې د وينا ښکلا په کلمو پورې اړه ولري. که دغو کلمو ته د معنا په خوندي ساتنه بدلون ورکړو، د وينا ښکلا له منځه ځي. د لفظي صنعتونو شمېر زيات دی، د ځينو نومونه يې دا دي: تجنيس او د هغه ېلا ېل ډولونه، قلب، ذوالقوافي، اشتقاق، ترصيع، سياق الاعداد، المربع، تکرار، تضمين، معما، منقوط، غير منقوط، سجع او داسې نور.

څو مشهور لفظي صنعتونه له مثالونو سره دا دي:

۱ـ تجنيس:

په لغت کې هم جنس کولو ته وايي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې د شعر

په یو بیت یا نیم بیتي کې دوې یا زیاتې داسې کلمې راشي چې په لیک او لوست کې ټولې سره یو شی او یا یو څه سره ورته او په معنا کې سره بیلې وي.

تجنیس دا لاندې ډولونه لري:

(۱) تام تجنیس (۲) ناقص تجنیس (۳) زاید تجنیس

(٤) مرکب تجنیس، خطي تجنیس، مرفوع تجنیس او نور.

دلته د تام تجنیس یو مثال راوړو:

فـــراق پـــه مـــا خـــوري د زړګـــي وینـــې:

آشـــنـــا مـــې نـــشـــتـــه الله مـــې وینـــي

(پیرمحمد کاکړ)

په پورته بیت کې((وینې)) کلمه په دواړو نیم بیتو کې راغلې ده. په لومړي نیم بیتي کې ((وینې)) د دري د (خون) په معنا او په دویم کې ((وینې)) د لیدلو په معنا دی چې تام تجنیس بلل کېږي.

۱_ قلب:

په لغت کې سرچپه کولو ته وایي، د بدیع د علم په اصطلاح په یوه ویناکې د دوو یا زیاتو داسې کلمو راوړل وي چې توري یې په نوعه او عدد کې سره یو او په ترتیب کې سره اوښتي وي. قلب په څلور ډوله دی: قلب کل، قلب بعض، قلب مستوي، قلب منجنح.

دلته د (قلب کل) یو مثال راوړو:

زلـــفـــې پـــه مـــخ کـــړه خـــم پـــه خـم

کـــیـــنـــه و مـــا تـــه مـــخ پـــه مـخ

کـــیـــنـــه و مـــا تـــه مـــخ پـــه مـخ

زلـــفـــې پـــه مـــخ کـــړه خـــم پـــه خـم

په پورته مثال کې ګورو چې (خم) په (خم) او (مخ) په (مخ) کلمې سرچپه شوي دي او د کلمې دواړه توري سره اوښتي دي، نو ځکه یې (قلب کل) بولي.

۲_ المربع:

هغه نظم يا شعر ته وايي چې يو شاعر يوه رباعي داسې راوړي چې عمودي او افقي يو ډول ولوستل شي.

د يـار لـه غمـه پـه زړه افـګار يـم
لـه غمـه څـه وايـم دردمنـد يـم خـوار يـم
پـه زړه دردمنـد يـم هـر ګـوره بيمـار يـم
افـګار يـم خـوار يـم بيمـار يـم زار يـم

پورتنی شعر عمودي او افقي يو شان لوستل کېږي.

۳_ تضمين:

د سند او مثال په توګه شاعر د خپل کلام د تقويې لپاره د مضمون د تام ارتباط په صورت کې د بل چا د نظم يوه ټوټه، نيم بيتی، بيت، يا څوبيتونه په خپل شعر يا نظم کې را وړلو ته تضمين وايي. دا لاندې ډولونه لري: ابداع يا رفوتضمين، استعانه، مصرع تضمين، له تصرف سره تضمين، بې تصرفه تضمين. دلته د ابداع يا د رفوتضمين يو مثال راوړو:

((دا په مخ يې د خط ليکه دو تا راغله))
کـه کعبې لـره مشکينه قبـا راغله

پورته بيت د بيدل هشنغري دی، مګر لومړی مسره يې د حميد را اخيستې ده. د حميد د شعر ټول بيت په دې ډول دی:

دا په مخ يې د خط ليکه دوتـا راغله
ګـويـا مـخ لـره دې تـوره بـلا راغله

بيدل ورځخه لومړی مسره تضمين کړې ده.

۴_ ترصيع:

ترصيع عربي کلمه ده، په لغت کې د جواهرو ايښودلو ته وايي، په ادبي اصطلاح کې هغه صنعت دی چې شاعر خپل يو بيت په څو برخو وېشي، هره برخه د بلې برخې په مقابل کې

داسې راوړي چې په وزن کې سره برابروي، لکه د رحمان بابا دا لاندې بيت:

په حالت د عاشقانو نظر بويه

په زيارت د شهيدانو گذر بويه

په دې بيت کې (حالت ـ زيارت) (عاشقانو ـ شهيدانو) او (نظر ـ گذر) يو د بل په مقابل کې راغلي دي.

۵ـ ذوالقوافي:

هغه شعر دی چې له دوو څخه زياتې قافيې ولري او که د قافيو ترمنځ رديفونه هم ولري، نو بيا يې ذوالقوافي مع الحواجب بولي، لکه په دې لاندې بيت کې:

چا د شرف ورکې د ليلا نه جلباب لرې کړ

چا د ژوند سفر کې د حيا نه شباب لرې کړ

په پورته بيت کې ((ور ـ سفر))، ((ليلا ـ حياء)) ((جلباب ـ شباب)) د قافيې کلمې دي او (لرې کړ ـ لرې کړ) يې د رديف په توگه راغلی دی.

دمتن لنډيز:

بديع په لغت کې نوي تازه او حيرانوونکي څيز ته وايي او په ادبي اصطلاح کې هغه علم دی چې د وينا او کلام له ښکلا او هغو صنايعو څخه بحث کوي چې نظم يا نثر ته ښکلا ورکوي.

ادبي صنعتونه په دوه ډوله دي: لفظي صنايع او معنوي صنايع.

لفظي صنايع: هغه دي چې په هغو کې د وينا ښکلا په کلمو پورې اړه ولري، که هغو ته د معنا په خوندي ساتنه بدلون ورکړو، د وينا ښکلا له منځه ځي. د لفظي صنايعو شمېر ډېر دی، ځينې مهم يې دادي: تجنيس او د هغه ډولونه، قلب، ذوالقوافي، سياق الاعداد تضمين، معما، سجع او نور.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله په ډېر غور او دقت سره ولولي.

۲ـ یو یو زده کوونکی دې د ټولګیوالو په وړاندې د متن یوه یوه برخه په لوړ غږ ولولي، ښوونکی دې د اړتیا پر مهال ورسره مرسته وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، د یوې ډلې زده کوونکي دې له متن څخه یو بیت پر تخته ولیکي او د بلې ډلې زده کوونکی دې پکې هغه موجود ادبي صنعتونه وښیي او لازم توضیحات دې ورکړي.

٤ـ په لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- ادبي فنون څه ته وایي؟
- ادبي فنون څو څانګې لري؟
- بدیع په لغت او اصطلاح کې څه ته وایي؟
- بدیع علم له کومو ادبي صنعتونو څخه بحث کوي؟
- لفظي صنعتونه تعریف کړئ؟
- د څو مشهورو لفظي صنعتونو نومونه واخلئ؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د درېو لفظي صنعتونو لپاره یو یو نوی مثال او نمونه پیدا او په راتلونکي درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي.

د بديع علم ـ دويمه برخه
معنوي صنعتونه



ـ معنوي صنعتونه څه ته وايي؟

ـ کوم علم له معنوي صنعتونو څخه بحث کوي؟

بديع په لغت کې نوي، تازه او حيرانوونکي څيز ته وايي او په ادبي اصطلاح کې بديع علم د ادبي فنونو يوه ډېره مهمه څانګه ده چې د وينا او کلام له لفظي او معنوي ښکلاوو څخه بحث کوي. مخکې مو په يوه لوست کې لفظي صنعتونه در وپېژندل، په دې لوست کې معنوي ادبي صنعتونه چې د بديع د علم يوه مهمه برخه ده، درپېژنو.

بديع علم د ادبي فنونو له درېو څانګو (بيان، معاني، بديع) څخه يوه ډېره اړينه او اساسي برخه ده چې د هغې په وسيله د وينا يا کلام ښکلا معلومېږي. د بديع علم له دوو ډلو ادبي صنعتونو څخه بحث کوي:

لفظي صنعتونه او معنوي صنعتونه.

لفظي صنعتونه مو د مخه په يوه لوست کې وپېژندل. په دې لوست کې معنوي صنعتونه درپېژندل کېږي.

معنوي صنعتونه هغه ادبي صنعتونه دي چې په هغو کې د وينا يا کلام ښکلا په معنا پورې اړه لري. که کلمې ته د معنا په ساتنه بدلون ورکړو، بيا هم ښکلا پر خپل ځای پاتې کېږي.

د معنوي صنعتونو شمېر زيات دی، د ځينو نومونه يې دادي:

تضاد يا طباق، ايهام، لف و نشر، عکس و تبديل، عارفانه تجاهل ، التفات، جمع، تفريق، مراعات النظير، ارسال المثل، تعجب، متحمل الضدين، مبالغه، حسن تعليل، تنسيق الصفات، استدلال، مخاطبه، هجو، رجوع او داسې نور.

ځينې ډېر مشهور معنوي صنعتونه د مثالونو په ترڅ کې درپېژنو:

۱ـ طباق:

په يوه کلام يا شعر کې چې متقابل الفاظ، لکه: رڼا او تياره، شپه او ورځ، ژړا اوخندا، مرګ او ژوند، خوشالي او خپګان، تور او سپين او داسې نور يو ځای سره راوړل شي، د طباق صنعت ورته وايي: د مثال په ډول، د عبدالقادر خان خټک دا لاندې بيت وګورئ:

چې يې تلمه په خندا خندا ديدار ته
اوس يې درومم په ژړا ژړا مزار ته

يا

زه په سرو سترګو ژړا کړم چې ته درومې
ته له ما چې رخصتېږې په خندا ځې

په پورته شعرونو کې د خندا او ژړا کلمو په ذکر سره طباق موجود دی. طباق په درې ډولونو: اسمي، فعلي، ایجابي او سلبي طباق باندې وېشل شوی دی.

۲_ مراعات النظیر:

که چېرې په یوه جمله یا د شعر د بیت په یوه مسره کې د کوم شي یادونه وشي او په وروسته جمله یا نیم بیتي کې د هغه یاد شوي شي نور مناسبات او ملایمات وویل شي، نو دغه ډول ښایست ته مراعات النظیر ویل کېږي، لکه د خوږ دل شاعر په دې بیت کې:

د زړه شمعه مې د عشق له غوړو ډکه
ژر پرې لګه د محبوب د دیـدن اوره

یا لکه علي خان چې وایي:

د ښایست مرغه د خط په پرو والوت
د عاشق په زړه یـوه نرمه هـوا راغله

کله چې شاعر په لومړي نیم بیتي کې د شمعې یادونه کړې، نو د هغې مناسباتو او ملایماتو، یعنې اور او غوړو ته هم اشاره کوي، نو په یوه بیت کې د داسې متناسبو الفاظو، چې یو له بل سره تناسب ولري، راوړلو ته د مراعات النظیر ادبي صنعت وایي.

همدارنګه علي خان په پورته بیت کې د مارغه کلمه راوړې ده، نو له هغې سره یې مناسبت: پر، الوت، نرمه هوا چې له الوتلو سره پیدا کېږي، ټول ذکر کړي دي، نو مراعات النظیر صنعت بلل کېږي.

۳_ لف او نشر:

که یو شاعر په یوه بیت یا مسره کې ځینې مطالب د اجمال په صورت راوړي او په بله مسره یا بیت کې د هغې هر یو متعلق څه بله معنا راوړي، لف او نشر یې بولي. یا په بله وینا:

که یو شاعر یو ځل څو شیان په کلام کې ذکر کړي او د هغې تعبیر بیا په ترتیب یا وړاندې وروسته بڼه باندې وکړي، لف او نشر یې بولي، لکه دا لاندې بیت:

مخ که دې ګلشن دی یا څراغ دی یا سورګل
زه بانـدې بـورا یـم، یـا پتنګ یـم یـا بلبل

دلته وینو چې شاعر په لومړي نیم بیت کې د (ګلشن، څراغ او سورګل) یادونه کړې ده او په دویم نیم بیتي کې یې د هغوی مطابق (بورا، پتنګ او بلبل) یاد کړي دي چې یو له بل سره مناسبت لري. لف او نشر په مرتب او غیر مرتب لف او نشر باندې وېشل کېږي.

د مرتب لف و نشر بېلګه دا ده:

دا څه یار دا څه جانان دا څه اغیار دی
دا څه ګل دا څه بلبل دا څه زغن دی

په پورته بیت کې په لومړي نیم بیتي کې یې یار، جانان او اغیار یاد کړي او د هغوی تعبیر په دویم نیم بیتي کې په ترتیب سره: ګل، بلبل او زغن باندې شوی دی چې دغه ښایست ته مرتب لف و نشر ویل کېږي.

۴_ عکس او تبدیل:

کله چې شاعر د لومړۍ مسرې کلمې په دویمې مسرې کې راوړي او د معنا تضاد ورڅخه رامنځته شي، د عکس او تبدیل ادبي صنعت ورته ویل کېږي، لکه: په دې لاندې بیتونو کې:

مـا پـه سـل کـرتـه یـاد کـړې تـه رانـغـلـې
زه بـه سـل کـرتـه درشـم کـه تـا یـاد کـړم
سـخـي کـه لـک ورکـا وده تـه کـک وي
بـخـیـل کـه کـک ورکـا وده تـه لـک وي

د پورته بیتونو په لومړي بیت کې د اولې مسرې کلمې په دویمې مسرې کې سره اوښتي

دي او د معنا تضاد يې را منځته کړی دی. سل کرته يا دول، يو کرت نه ورتلل او سل کرته تګ، يو کرت يا دول د صنعت په لحاظ عکس و تبديل دی.

همدارنګه په دويم مثال کې د سخي لک ورکول، کک ګڼل او د بخيل کک ورکول، لک ګڼل سره تضاد لري او له بلې خوا د بيت د لومړۍ مسرې کلمې په دويمې مسرې کې سره اوښتي او د عکس و تبديل صنعت ورځخه جوړ شوی دی.

۵ـ حسن تعليل:

د يوه وصف لپاره د يوه غير حقيقي، مګر لطيف او مناسب سبب چې شاعر د يوه صنعت لپاره داسې علت پيدا کړي چې په اصل حقيقت کې يې سبب نه وي، مګر د لطافت او حسن له کبله يې دغه صنعت ته نسبت کېدای شي، لکه حميد مومند چې وايي:

چې نظر يې د ګلرخ ساقي پر مخ شو
د نرګس له لاسه جام پرېوت نسکور شه

يا:

وغړوه سترګې زلفې لرې د رخسار کړه
ستا ليدو ته رېږدي لمر په پاڼو کې د ګلو

که دې پورته بيت ته وګورو، نو د هغه محبوب ليدنه چې د شرابو جام هم په لاس کې ولري، د نرګس پر ګل دومره اغېز کوي چې خپل جام يې له لاسه پرېوځي او نسکورېږي.

په دويم بيت کې شاعر د يار مخ ليدل د لمر د رېږدېدلو او خوځېدلو علت ګڼلی دی، که څه هم په حقيقت دغه علت نشي کېدلی، خو ډېر ښه لطافت لري.

۶ـ رجوع:

رجوع په لغت کې بېرته راګرځېدلو ته وايي او په ادبي اصطلاح هغه ادبي صنعت دی چې يو څوک يو مطلب يو ځل څرګند کړي او بيا په وروستۍ جمله يا نيم بيتي کې د يوه

خاص غرض لپاره خپله کړې خبره باطله کړي او له خپل مطلب څخه وګرځي، لکه: خوشحال خان خټک چې وايي:

که ښه وايم و چا ته هم يې بد نيسي په زړه کې
يا بخت دی د مغلو يا زما څه عقل کم دی
نه بخت دی د مغلو نه زما څه عقل کم دی
دا کُل واړه پيري ده چې مې کار درهم برهم دی

که دا پورته دوه بيتونه وګورو، وينو چې خوشحال خان خټک يو ځل خپلې کم بختۍ او کم عقلۍ ته اشاره کوي او وروسته بيا له خپل مطلب څخه ګرځي او د هر څه اصلي لامل او علت زړښت او ضعيفي بولي.

۷ _ عارفانه تجاهل:

کله چې د يوه نزاکت او لطافت لپاره شاعر خپل ځان په يوه شي ناخبره واچوي، په داسې حال کې چې ښه پرې خبر او ورمعلوم وي، په شعر او ادب کې دې ته د عارفانه تجاهل ادبي صنعت ويل کېږي.

لکه علي خان چې وايي:

دا د دلبر مخ دی چې له شاله نيم ليده شي
يا زيړوتی نمر دی چې ليده شی نيم له غره

يا لکه دا بيت:

دا يې خط دی چې پر مخ دی ګرځېدلی
کـه زنـګـيـان دي پـه حـرم کـوي طـواف

په پورته بيت کې معشوقې خپل ښکلی مخ په ښکلي ژېړ شال کې پټ کړی دی، خولږه ښکلې برخه ورڅخه په يوه ګوښه کې ښکاري چې د ژېړ شال عکس ورباندې پرېوتی دی، نو شاعر ځان ناخبره غورځوي اووايي چې زه نه پوهېږم چې دا د مازيګر لمر دی او که زما د محبوب ښکلی مخ.

۸ _ تلمیح:

تلمح په لغت کې په مالګه کولو ته وایي او په ادبي اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل شعر کې یوې تاریخي پېښې او حکایت ته اشاره کړې وي.

لکه:

مګر وژاړه فرهاد بیا سیل د زرکو
چې په سرو سترګو راځي له کوهستانه

یا:

د زړه تخت دې ځکه ونیو و دیوانو
چې دې ګوته د سلیمان لاړه له لاسه

یا:

که رقیب مې نژدې نه پرېږدي محبوب ته
د یوسف د کمیس بوی بس دی یعقوب ته

په لومړی بیت کې د شیرینې عاشق فرهاد، په دویم کې د سلیمان علیه السلام نګین او په دریم کې د یوسف علیه السلام او حضرت یعقوب علیه السلام واقعو ته اشاره ده.

د متن لنډیز:

د بدیع علم د ادبي فنونو یوه مهمه څانګه ده چې د وینا او کلام له لفظي او معنوي صنعتونوڅخه بحث کوي. معنوي صنعتونه هغه دي چې په هغو کې د وینا یا کلام ښکلا په معنا پورې اړه لري. که کلمې ته د معنا په حفظ بدلون ورکړو، بیا هم ښکلا پر خپل ځای پاتې کېږي. د معنوي صنعتونو شمېر زیات دی. ځینې ډېر مشهور یې دادي: تضاد یا طباق، ایهام، لف او نشر، مبالغه، تنسیق الصفات، استدلال، مخاطبه، هجو، استخدام، رجوع اونور.

فعاليتونه

١ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي او ستونزمنې کلمې دې په نښه کړي.

٢ـ ښوونکی دې د متن ستونزمنې کلمې پر زده کوونکو او ډېرې ستونزمنې دې په خپله معنا کړي.

٣ـ زده کوونکي دې د متن يوه يوه برخه ولولي، ښوونکی دې د اړتيا پر مهال مرسته ورسره وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، د يوې ډلې يو زده کوونکی دې له متن څخه يو بيت پر تختې وليکي او د بلې ډلې زده کوونکی دې په هغه کې موجود ادبي صنعت معلوم کړي او لازمې څرګندونې دې وکړي. دا لړۍ دې په دواړو ډلو تطبيق شي.


٥ـ په دې لاندې پوښتنو د لوست د زده کړې ارزونه کېږي:

- ادبي فنون څه ته وايي؟
- ادبي فنون کومې څانګې لري؟
- بديع په لغت او ادبي اصطلاح کې څه ته وايي؟
- د بديع علم له کومو ادبي صنعتونو څخه بحث کوي؟
- معنوي صنعتونه تعريف کړئ.
- د پنځو معنوي صنعتونو نومونه واخلئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د خپلې خوښې د معنوي ادبي صنعتونو لپاره له متن پرته نور مثالونه پيدا او په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګيوالوته ووايي.

خیرالبیان



ـ تاسې د پښتو په پخوانیو نثري کتابونو کې کوم کتابونه پېژنئ؟

ـ تاسې د خیرالبیان په نوم د کوم کتاب نوم اورېدلی؟

ـ تاسې بایزید روښان پېژنئ؟

د پښتو ادب منځنی یا کلاسیکه دوره د پښتو ادب په تاریخ کې یوه ځلانده ادبي دوره ده چې ډېر پیاوړي ادبي غورځنګونه پکې رامنځته شوي دي. ډېر علمي او فرهنګي شخصیتونه په دغې دورې کې را ځلېدلي دي. یو له دغو نومیالیو او فرهنګیالیو شخصیتونو څخه بایزید روښان دی. روښان د پښتو، دري، عربي او هندي ژبو په نظم او نثر کې زیات شمېر آثار لیکلي دي. په پښتو آثارو کې یې یو (خیرالبیان) نومېږي. دلته یې په دې لوست کې درپېژنو.

بایزید روښان د قاضي عبدالله زوی و، په قوم اورمړ پښتون و. کورنۍ يې له وزیرستان څخه هندوستان ته تللې وه. روښان هلته په ۹۲۶ هجري قمري کال سترګې نړۍ ته پرانیستې وې. نوموړي د علومو له زده کړې وروسته یوه د طریقت او عرفان لاره رامنځته کړه. ډېر مریدان او پلویان يې وموندل او وروسته دغه روحاني او تصوفي غورځنګ ملي او سیاسي بڼه خپله کړه. بایزید د عرفان او تصوف ترڅنګ د وخت د مغولي واکمنۍ په وړاندې ملي مبارزه پیل کړه او د دغې مبارزې په بهیر کې په (۹۸۵هـ.ق.) کال کې وفات شو.

بایزید روښان (۹۲۶ ـ ۹۸۵هـ.ق.) زموږ د هېواد پیاوړی علمي ـ فرهنګي او سیاسي شخصیت و. نوموړي د خپلې علمي، عرفاني لارې د تبلیغ او د خپلو پیروانو د لارښوونې لپاره په پښتو، دري، عربي او هندي ژبو ډېر آثار لیکلي دي چې په هغو کې یو ډېر مشهور اثر ((خیرالبیان)) نومېږي. سره له دې چې د بایزید روښان د دې اثر په هکله یا دونې د پښتو په پخوانیو منظومو او منثورو آثارو او همدارنګه د بهرنیو ختیځپوهانو په لیکنو کې شوې وې، خو په خپله دغه کتاب زموږ په لاس کې نه و. له ښه مرغه چې د دغه ارزښتناک اثر یوه قلمي نسخه بهرنیو ختیځپوهانو له ځان سره اروپا ته وړې او د جرمني د تبونګین پوهنتون د کتابتون د خطي نسخو په مجموعه کې خوندي وه. د پېښور د پښتو اکېډیمي مشر مولانا عبدالقادر دا نسخه په ډېرو کړاوونو په نوموړي کتابتون کې تر لاسه کړه، د هغې یوه کاپي يې له ځان سره پښتونخوا ته یوړه او د پښتو اکېډیمي له خوا د مولانا عبدالقادر د پېژندګلوی، څرګندونو او د مولانا عبدالقدوس قاسمي له سریزې او تعلیقاتو سره په (۴۳۱) مخونو کې خپره شوه. همدارنګه د همدې قلمي نسخې یوه عکسي کاپي عبدالرؤوف بېنوا ترلاسه کړې وه. د هغې له مخې په افسیټ او عکسي بڼه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا په (۱۳۵۳ لمریز) کال چاپ او خپره شوه. د خیرالبیان د تألیف کال نه دی معلوم. هغه قلمي نسخه چې په کابل او پېښور کې ورځخه د خیرالبیان کتاب خپور شوی، ټول (۳۳۴) مخونه لري. دغه نسخه په (۱۰۶۱ هجري قمري) کال خطاطي شوې ده. د خیرالبیان دا چاپ شوې نسخه په څلورو (پښتو، دري، عربي او هندي) ژبو ده چې ډېره برخه يې پښتو،

په ځينو ځايونو کې په دري ژبه څرګندونې او په عربي ژبه د قرآن آيتونه، نبوي حديثونه، ځينې عربي مقولې او په ځينو برخو کې يې د هندي ژبې په پنجابي لهجه ځينې څرګندونې راغلې دي.

په دې وروستيو کلونو کې د هندوستان د حيدر آباد د دکن په سالار جنګ موزيم کې د خيرالبيان يوه بله بشپړه قلمي نسخه وموندل شوه. دغه نسخه په (۱۰۷۹ هجري قمري) کال کې خطاطي شوې او ټول مطالب په څلور واړو ژبو په برابره اندازه پکې راغلي دي. په څلورو ژبو د خيرالبيان ليکلو په هکله په خپله پير روښان داسې وايي: ((ګوره کړی مې دی خيرالبيان په څلور ژبې موافق له قرآن، پکې دی بيان د رښتيا، دروغ، د حلال او حرام، د کړه نه کړه په هر مقام، په تا دې وي اعلان.)) د خيرالبيان پښتو برخه په مسجع او قافيه لرونکي نثر ليکل شوې ده. استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په خپلو څېړنو کې د هغې ځينې برخې نظم بللې دي. مسجع نثر په لسمه هجری پېړۍ کې بايزيد روښان په پښتو کې دود کړی دی. بايزيد روښان په مسجع نثر د خيرالبيان کتاب وليکه. کله چې اخوند دروېزه د بايزيد روښان مخالفت ته راپورته شو، د خيرالبيان په مقابل کې يې خپل کتاب (مخزن الاسلام) هم د بايزيد روښان په څېر په مسجع نثر وليکه. بيا نورو ليکوالو هم د دغه مسجع نثر ليکنې لار تعقيب کړه او نژدې دوه سوه کاله يې دوام موندلی دی.

خيرالبيان ټول څلوېښت بابونه لري چې ببلا ببل ديني، عرفاني او فقهي مسايل پکې تر (۱۲۱) لويو وړو سرليکونو لاندې راغلي دي. د دې کتاب د ځينو مطالبو سر ليکونه دادي:

د لمانځه د فرايضو، واجباتو او سنتونو بيان، د غسل بيان، د تيمم بيان، د اوداسه بيان، د نجاست د مکروهاتو، اوامرو او نواهيو بيانونه، د روژې، زکات او حج بيانونه، د نفس، ژوند، مرګ، عذاب، دګور، ايمان، ذکر خفي، همدارنګه د روښاني تصوفي عرفاني لارې د اتو مقامونو، لکه: شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، وصلت، وحدت او سکونت په هکله بحثونه پکې راغلي دي.

د خیرالبیان زیات ارزښت او اهمیت په دې کې دی چې دا د پښتو ژبې لومړنی زوړ بشپړ تر لاسه شوی کتاب دی چې په لسمه هجري پېړۍ کې لیکل شوی دی. د زمانې له پېښو او توپانونو خوندي پاتې دی. اوس مورِ د دې کتاب قلمي او چاپي نسخې په لاس کې لرو او په پښتو ژبه یې د مطالبو له لوستلو ګټه اخلو. بله دا چې دا کتاب مورِ ته د روښان تصوفي او عرفاني لاره راپېژني. مورِ د دغه نومیالي علمي او فرهنګي شخصیت له افکارو او نظریاتو سره آشنا کوي او راته د نوموړي علمي او ادبي مقام راجوتوي.

دلته د خیرالبیان د متن پیلامې یوه بېلګه لولو:

بسم الله الرحمن الرحیم

((په نامه د خدای چې بخشاینده دی مهربان. معنا: په نامه د خدایﷻ چې په خدایۍ دی عیان، آغاز د کتاب او

بایزیده! زما ډېر ستر صفت وکښه. خوښې مې پیدا شي چې زما ډېر ستر صفت وایي آدمیان. ګوره! زما تسبیح وایي چې زما په زمکه دي (یا) په آسمان. نشته هیڅ بیرون چې زما تسبیح وایي، ته باور وکړه په دا بیان)).

(۲)

((نبي ویلي دي علیه السلام:

مرګ به ورشي و سړي ته ناګهان، نشته د سړي په دنیا کې تل د تله مقام یا هسې ګڼي چې لویه عزیزي په نښته ده، د قهر په راتلل ده، د تبغ په وهل ده چې وژني آدمیان. ګوره دا هسې چار ده حرام)).

د متن لنډیز:

خیرالبیان د بایزید روښان له مشهورو آثارو څخه دی چې د خپلې عرفاني او تصوفي لارې د تبلیغ او د خپلو مریدانو او پیروانو د لارښوونې لپاره یې لیکلی دی. د دې کتاب قلمي نسخې تر لاسه شوي او د هغو له مخې په کابل او پېښور کې چاپ شوی دی. د دې کتاب ارزښت او اهمیت په دې کې دی چې د پښتو لومړنی بشپړ پخوانی تر لاسه شوی کتاب دی چې په لسمه هجري پېړۍ کې لیکل شوی، د زمانې له حوادثو خوندي پاتې او تر موږ رارسېدلی دی. دا کتاب موږ د روښان پیرله افکارو او نظریاتو سره آشنا کوي او د نوموړي علمي، عرفاني او ادبي مقام موږ ته راښیي.



فعالیتونه

۱ــ ښوونکی دې متن ولولي، ستونزمنې کلمې او مفاهیم دې زده کوونکو ته توضیح او د بایزید روښان د پېژندنې په اړه دې لازمې څرګندونې وکړي.

۲ــ زده کوونکي دې وګومارل شي چې یو ځل متن په پوره غور او دقت په چوپه خوله ولولي.

۳ــ زده کوونکي دې په وار سره د متن یوه یوه برخه د ټولګیوالو په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د اړتیا پر مهال د سمون لپاره مرسته وکړي.

٤ــ زده کوونکي دې په درېو ډلو ووېشل شي او دې ته دې وګومارل شي چې یوه ډله په متن کې ((پښتو)) کلمې، بله ډله ((عربي)) کلمې او دریمه ډله ((دري)) کلمې په نښه کړي. د هرې ډلې استازی دې په نښه کړې کلمې پر تختې په جلا ډول ولیکي.

۵ـ دوه دوه زده کوونکي دې په نوبت سره د تختې مخې ته ورشي، یو تن دې یوه کلمه معنا کړي او بل دې هغه په مناسبه جمله کې وکاروي. دا لړۍ دې په ټولګي کې تر پایه تعقیب شي.

٦ـ زده کوونکي دې په نوبت سره په ټولګي کې د متن مفهوم په خپلو الفاظو ووایي. ښوونکی دې د اړتیا پر مهال له هغوی سره مرسته وکړي.


۷ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست ارزونه وشي:

- خیر البیان چا لیکلی دی؟
- خیرالبیان څه ډول کتاب دی؟
- په خیرالبیان کې له پښتو پرته په نورو کومو ژبو کې مطالب راغلي دي؟
- خیرالبیان په کومو ځایونو کې چا چاپ کړی دی؟
- د خیرالبیان د متن مفهوم په خپلو الفاظو ووایاست؟
- په خیرالبیان کې کوم مسایل راغلي دي؟
- خیرالبیان په کوم ډول نثر لیکل شوی دی؟
- بایزید روښان څوک و؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د پښتو د نظم یا نثر کوم پخوانی کتاب تر لاسه او د هغه په هکله دې لنډ معلومات ولیکي. د پښتو لوست په راتلونکي ساعت کې دې هغه د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

عبدالرحمان پژواک



ـ په معاصرو شاعرانو او ليکوالو کې څوک پېژنئ؟

ـ داسې شخصيتونه درمعلوم دي چې په پښتو او دري دواړو ژبو يې ادبي آثار ليکلي دي؟

زمورږ د هېواد په معاصره دوره کې ځينې داسې ليکوال شته چې شخصيت يې ګڼ اړخونه لري. د علم او فرهنګ په ډګر کې وتلې او منلې څېرې دي. منظوم او منثور ادبي آثار يې ليکلي دي او هم يې کلونه د هېواد په سياسي چارو کې فعاله ونډه لرلې ده. په دغسې شخصيتونو کې يو هم عبدالرحمان پژواک و. نومورې په پښتو او دري ژبو کې په لسګونه منظوم او منثور آثار ليکلي دي. دلته يې په دې لوست کې درپېژنو.

عبدالرحمان پژواک د قاضي عبدالله زوی، د ننګرهار ولایت د سره رود د ولسوالۍ اوسېدونکی و. پژواک په (۱۲۹۷) لمریز کال، هغه مهال چې پلار یې د غزني په ولایت کې د قضاء دنده درلوده، په دغه ښار کې سترګې نړۍ ته وغړولې. کله چې را لوی شو، لومړنۍ مروجې زده کړې یې په خپله علم پاله کورنۍ کې وکړې، بیا د ننګرهار د سره رود د مطلع دانش په ښوونځي کې شامل شو. څه موده یې د خورۍ یاڼیو په ښوونځي او د کابل ښار د اندرابیو په ښوونځي کې زده کړې وکړې. ثانوي زده کړې یې په (۱۳۱٤ لمریز) کال د کابل په حبیبې ښوونځي کې پای ته ورسولې. د لوړو زده کړو لپاره د کابل په طب پوهنځي کې شامل شو. دوه کاله یې دغلته د روغتیایي علومو زده کړه وکړه. د پلار له وفات نه وروسته دې ته اړ شو چې لوړې زده کړې نیمګړې پرېږدي او ماموریت ته مخه کړي. د استاد پژواک لومړۍ ماموریت په (۱۳۱٦) لمریز کال د کابل ادبي انجمن د تاریخ په څانګه کې د انګلیسي ژبې د ژباړونکي په توګه پیل شو. کله چې پښتو ټولنه جوړه شوه، په هغه کې یې خپله دنده تر سره کوله او په (۱۳۲۰ لمریز) کال د دغې لوړې علمي او فرهنګي اداري مشر شو.

سربېره پر دغې دندې یې د مطبوعاتو د مستقل ریاست د خپرونو د دویمې څانګې د مدیر، د مطبوعاتو د لوی مدیر او د باختر آژانس د لوی مدیر په توګه سترې فرهنګي دندې هم تر سره کړې دي.

عبدالرحمان پژواک د هغه لوړ علمي، سیاسي استعداد، وړتیا او ذوق له مخې چې له سیاسي مسایلو سره یې درلود، په (۱۳۲۵) لمریز کال د بهرنیو چارو په وزارت کې د اطلاعاتو لوی مدیر شو. وروسته په لندن کې د افغانستان د سفارت دوهم سکرتر او مطبوعاتي آتشه شو. ورپسې په واشنګټن کې د افغانستان د لوی سفارت مطبوعاتي استازی، سفیر او بلاخره دوه لسیزې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي استازی او بیا د څه وخت له پاره د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې مشري هم ور ترغاړه شوه. په هندوستان کې یې

د افغانستان د لوی سفارت دنده هم تر سره کړې ده. عبدالرحمان پژواک کلونه کلونه خپل هېواد ته په سیاسي ډګر کې د یادونې او ستاینې وړ خدمتونه وکړل. نوموړی که په سیاسي ډګر کې په خدمت هم بوخت و، له ادب او فرهنګ سره یې خپله مینه پالله او په دغه موده کې یې هم ډېر آثار لیکلي دي. په هېواد کی د (۱۳۵۷) لمریز کال له پېښو وروسته، استاد پژواک رسمي دولتي دنده پرېښوده او څه موده وروسته له هېواد نه ووت.

په (۱۳۷۰ لمریز) کال چې ناروغ او بوډا شوی و، پېښور ته ولاړ او په (۱۳۷٤ لمریز) کال کې د جوزا په ۱۸ هملته مړ شو، جنازه یې هېواد ته راوړل شوه او په خپل پلرني ټاټوبي، د ننګرهار په سره رود کې خاورو ته وسپارل شو.

عبدالرحمن پژواک سربېره پردې چې د هېواد نومیالی سیاسي شخصیت و، د پښتو او دري ژبو پیاوړی لیکوال او شاعر هم و. د هېواد او نړۍ په مطبوعاتو کې په زیات شمېر خپرو شوو مقالو سربېره یې شاوخوا شل لیکلي او ژباړلي منظوم او منثور آثار په پښتو او دري ژبو چاپ شوي او ځینې ناچاپ آثار هم لري. دلته یې د ځینو چاپ شوو آثارو نومونه اخلو:

کلمه داره روپۍ (پښتو منظومه ډرامه)، افسانه های مردم کابل (لنډې کیسې)، افغانستان کهن، عروج بارکزیها، پیشوا، باغبان (د ټاګور د اثر ژباړه)، زن از نگاه محمدﷺ، حدیث خون، بانوی بلخ، میهن من او نور.

د عبدالرحمان پژواک پښتو شعرونه له دري شعرونو سره یو ځای په بېلو بېلو مجموعو کې چاپ شوي دي. همدارنګه یې کیسې او ډرامې هم لیکلي دي. کلمه داره روپۍ د پژواک لیکلې پښتو ډرامه ده چې په آزاد شعر یې لیکلې او په (۱۳۳۷ لمریز) کال پښتو ټولنې چاپ کړې ده.

دلته يې د پښتو شعر يوه بېلگه لولو:

هـــم هـــغـــســـې پـــه خـــنـــداکـــې هـــنـــر نـــشـــته
پـــه ژړا کـــې هـــم لـــه ســـره اثـــر نـــشـــته
کـــه دې غـــاړه لـــکـــه غـــر ونـــيـــســـې هـــســـکـــه
پـــه نـــيـــلـــي تـــيـــغ د افـــق کـــې جـــوهـــر نـــشـــته
د ژونـــدون نـــه بـــه کـــوم خـــوب پـــريـــشـــانـــه، نـــه وي
دا دنـــيـــا ده نـــاراحـــتـــه بـــســـتـــر نـــشـــتـــه
دا چـــې خـــاورې شـــوم د مـــيـــنـــې لار کـــې ښـــه دی
خـــو د چـــا زمـــا پـــه خـــاورې ګـــذر نـــشـــتـــه
دا خـــبـــر بـــه څـــوک زمـــا نـــه يـــار تـــه يـــوســـي
چـــې بـــېـــلـــتـــون کـــې مـــې لـــه ځـــانـــه خـــبـــر نـــشـــتـــه
زه پـــژواک يـــم پـــه پـــېـــچـــومـــو کـــې لـــوی شـــوی
دا چـــې چـــوپ يـــم دلـــتـــه غـــر او کـــمـــر نـــشـــتـــه

د متن لنډيز:

عبدالرحمان پژواک د پښتو او دري ژبو پياوړی ليکوال، شاعر او د هېواد نومیالی سياستوال و. نوموړی په (۱۲۹۷) لمريز کال کې زېږېدلی او په (۱۳۷٤ لمريز) کال کې د هجرت په چاپېريال پېښور کې وفات شو. جنازه يې هېواد ته راوړل شوې او د ننګرهار په سره رود کې خاورو ته سپارل شوی دی. عبدالرحمان پژواک په پښتو او دري ژبو د نظم او نثر ډېر علمي، ادبي، او سياسي کتابونه ليکلي او کلونه کلونه يې د هېواد په سياسي ډګر کې په بهرنيو هېوادونو کې د افغانستان د لوی سفير او نژدې دوې لسيزی په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دايمي استازی و. نوموړي له دغې لارې هېواد ته ستر سياسي او ملي خدمتونه کړي دي.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله په غور ولولي، ستونزمنې کلمې او مفاهیم دې له ښوونکي څخه وپوښتي. ښوونکی دې هغوی ته ځوابونه ووایي.

۲ــ زده کوونکي دې په نوبت سره د متن لږه لږه برخه د ټولګیوالو په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د ارتیا پر مهال له هغوی سره په سمون کې مرسته وکړي.

۳ــ زده کوونکي دې په ټولګي کې د پژواک د علمي، ادبي او سیاسي شخصیت په اړه خبرې وکړي.

٤ــ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې په متن کې ((مفرد نومونه)) او بله ډله دې ((جمع نومونه)) په نښه کړي. د ډلو استازي دې هغه جلا جلا پر تختې ولیکي.

مفرد نوم: هغه نوم دې چې یو څیز نوموي، لکه: غر، ځمکه، ګل او ځنګل.
جمع نوم: هغه نوم دی چې له یوه څخه ډېر څیزونه یا شیان نوموي، لکه: غرونه، ګلونه، ځنګلونه او نور.

۵ــ زده کوونکي دې تختې ته وروبلل شي چې هغه مفرد او جمع نومونه یو یو په مناسبو جملو کې وکاروي.

٦ــ زده کوونکي دې په نوبت د ټولګي مخې ته ورشي او د لوست عمومي مفهوم دې په خپلو الفاظو کې ټولګیوالو ته ووایي.

۷ـ ښوونکی دې د عبدالرحمان پژواک د شعر دا لاندې بیتونه پر تخته ولیکي، زده کوونکو ته دې لارښوونه وکړي چې د هغو مفهوم، تشریح او توضیح په خپلو کتابچو کې ولیکي:

د ژونـد نـه بـه کـوم خـوب پرېشانه نـه وي
دا دنـيـا ده نـاراحـتـه بـسـتـر نشته
دا خـبـر بـه څـوک زمـا نـه يـار تـه يوسي
چې ببلتون کـې مـې لـه ځـانـه خبر نشته

۸ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- عبدالرحمن پژواک د چا زوی او په کوم کال چېرې زېرېدلی و؟
- عبدالرحمن پژواک کومې فرهنګي دندې تر سره کړې دي؟
- پژواک کومې سیاسي دندې سرته رسولې دي؟
- پژواک په کوم کال مړ او چېرې خاورو ته وسپارل شو؟
- پژواک کوم کتابونه لیکلي یا ژباړلي دي؟
- (کلمه داره روپۍ) د پژواک څه ډول اثر دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د کوم بل پښتون فرهنګي یا سیاسي شخصیت په هکله لنډ معلومات ولیکي او د پښتو لوست په راتلونکي ساعت کې دې هغه د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

مېرمن حمیده



ـ د پښتو په اوسنيو ښځينه شاعرانو کې څوک پېژنئ؟

ـ د کومې پښتنې ښځينه شاعرې شعرونه او آثار مولوستي دي؟

د پښتو په معاصرې ادبي دورې کې مورِ په خپل ادبي فرهنګي بهير کې ډېرې پياوړې ليکوالې اوشاعرانې لرو. دغو ليکوالو او شاعرانو د خپلو منظومو او منثورو ادبي آثارو په پنځولو او ليکلو د پښتو ادب د ودې او پرمختيا لپاره ارزښتمن کارونه کړي دي.

په دغو نومياليو ادبي او فرهنګي مېرمنو کې يوه هم نومیالی شاعره او ليکواله مېرمن حميده وه چې په دې لوست کې يې درپېژنو.

مېرمن حميده چې يوه اديبه، عالمه او فاضله مېرمن وه، د اروابناد حضرت شاه چې د

تیر ګړیو پاچاصاحب په نوم مشهور و، لور وه. په (۱۲۹۷ لمریز) کال یې د کونړ ولایت د شینکوړک د سیمې په یوې عالمې او روحاني کورنۍ کې سترګې نړۍ ته غړولې وې.

حمیدې خپلې مروجې زده کړې د خپلې کورنۍ له مشرانو او استادانو څخه تر سره کړې وې، له علم او ادب سره د زیاتې مینې او علاقې او د خپلې کورنۍ د علمي او فرهنګي چاپېریال له امله یې د ادبي او دیني علومو مطالعې ته دوام ورکړ. حمیده د علم او ادب لوړو پوړیو ته ورسېده، له کمال او فضیلت څخه برخمنه شوه.

مېرمن حمیدې له کوچنیوالي څخه په شعر ویلو پیل کړی و. ورور یې سید شمس الدین مجروح پیاوړی علمي او فرهنګي شخصیت و. هغه د دې مېرمنې په روزنه کې پوره ونډه لرله. حمیدې به لیکنې کولې او له شعر او ادب سره یې مینه د زړه په وینه پالله. له هماغه لومړیو وختونو څخه یې شعرونه د هېواد په خپرونو کې خپرېدل.

په شعرونو او نثري لیکنو کې یې د سپېڅلې اسلامي عقیدې، افغاني پت، عزت، غیرت او هېوادپالنې ملي روحیه څرګندېږي. همدارنګه یې اخلاقي مسایل او د افغاني مېرمنو حقونه او ټولنیزې ستونزې په ډېره ژوره توګه د شعر او ادب په خوږه او رنګینه ژبه په زړه پورې بڼه بیان کړي دي.

نومورې د خپل ماما له زوی عبدالغفورخان سره چې یو نظامي منصبدار و، واده کړی و او دګډ ژوند ثمره یې څو اولادونه دي.

دغې نومیالې مېرمنې، سره له دې چې په ځوانۍ کې د زړه په ناروغۍ اخته وه او له دې امله یې له کړاوه ډک ژوند درلود، خو بیا هم د علم، ادب ډېره لېواله او مینه واله وه. هغې د هغه وخت د مشهورو پښتو لیکوالو: ګل پاچا الفت، قیام الدین خادم، پوهاند رښتین او نورو ادبي آثار مطالعه کول او خپلو منظومو او منثورو لیکنو ته یې په پوره ذوق دوام ورکاوه. همدغه یې د ژوند لویه بوختیاوه.

دغې نومیالې مېرمنې د ورېښمې ناورغۍ له امله د (۱۳۳۹ لمریز) کال د وږي میاشتې په (۱۵مه) نېټه له ژوندې سترګې پټې کړې. د کونړ په شینکوړک کلي کې خاورو ته سپارل شوې ده.

د مېرمن حمیدې د نظم او نثر کوم ځانګړی کتاب نه دی چاپ شوی، خو ډېر شعرونه

او لیکنې یې د هېواد په مطبوعاتو، په ځانګړې توګه د ننګرهار په ورځپاڼه او کابل مجله کې خوندي دي چې هغه موږ ته د نوموړې د لوړې شاعرې اولیکوالې څرګندویي کوي.

د شعر بېلګه:

اې زما کمه نصیبه!

ماویل زړه به مې خالي شي لږ له غمه
دواړه سترګې به مې وچې شي له نمه
د ښادمنو په ټولګي به شمه یاده
زمانه به را سره ځي په لار سمه
همېشه به مې خندا وي غم به نه وي
نه به ځان سره ژړېږم لکه شمه
په مراد به مې د زړه هره آرزووي
بېګانه به یم دنیا له لویه غمه
نور د صبر په نغمه په زړه للو کړم
زمانې نه مې د سود نشي څه تمه
شپه د هجر شوه اوږده د خدای دپاره
ښکلی مخ دې راښکاره که صبحدمه
په نسیم د اوسیلو به دې راویښ کړم
ای زما په خوب بیده نصیبه کمه!

د متن لنډیز:

مېرمن حمیده د پښتو ژبې معاصره لیکواله او شاعره وه. نوموړې په (۱۲۹۷) لمریز کال د کونړ ولایت په یوه عالمه، فاضله روحاني کورنۍ کې زېږېدلې او را لویه شوې وه. زده کړې یې د خپلې کورنۍ له استادانو څخه وکړې او د خپل ځانګړي ذوق او علاقې له مخې یې د دیني او ادبي علومو مطالعې ته دوام ورکړی و. شاعري او لیکوالي یې د ځوانۍ له لومړیو څخه پیل کړې او د پوخوالي پوړ ته یې رسولې او په ادبي کړیو کې له لوړ نوم او شهرت څخه برخمنه شوې وه. په (۱۳۳۹) لمریز کال په کابل کې وفات شوې ده. د شعرونو یا نثرونو ځانګړي کتابونه یې نه دي چاپ شوي، خو د وخت په موقوتو خپرونو (مجلو او اخبارونو)، په ځانګړې توګه ننګرهار ورځپاڼه او کابل مجله کې یې ډېر شعرونه چاپ شوي دي چې د نوموړې د غوره شاعرۍ او لیکوالۍ څرګندویي کوي.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي، ستونزمنې کلمې او مفاهیم دې په نښه کړي.

۲ــ ښوونکي دې زده کوونکو ته ستونزمنې کلمې، مفاهیم پر هغو او یا په خپله معنا او پر تخته ولیکي.

۳ــ زده کوونکي دې په نوبت سره تختې ته وروبلل شي چې هغه معنا کړي او لغتونه په مناسبو جملو کې وکاروي.

٤ــ ښوونکی دې زده کوونکي یو یو د ټولګي مخې ته راوبولي چې د متن مفهوم په خپلو الفاظو نورو ټولګیوالو ته ووایي.

۵ــ زده کوونکي دې وګومارل شي چې یو ځل بیا متن له ځان سره په غور او دقت ولولي او په هغه کې صفتونه په نښه کړي.

٦ ـ زده کوونکي دې په متن کې په نښه کړي صفتونه ښوونکي ته ووايي. ښوونکی دې د هغو يو توحيد شوی لست پر تختې وليکي.

صفت:

صفت يا ستاينوم په خپلواک ډول څه نه نوموي، خو د يوه حالت څرنگوالی ښيي. يعنې صفت هغه کلمه ده چې د نوم څرنگوالی روښانوي، لکه: روغ، ناروغ، ښه، بد، ښکلی، بدرنگ، پياوړی، کمزوری اونور.

٧ ـ زده کوونکي دې په نوبت سره تختې ته ورووبلل شي چې هغه صفتونه په مناسبو جملو کې وکاروي.

٨ ـ زده کوونکي دې په نوبت سره د متن يو يو پراگراف د نورو ټولگيوالو په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د اړتيا په وخت کې ورسره مرسته وکړي.

٩ ـ ښوونکی دې د مېرمن حميدې د شعر دا درې بيتونه پر تختې وليکي او له زده کوونکو دې وغواړي چې د هغو عمومي مفهوم په خپلو کتابچو کې وليکي:

ما ويل زړه به مې خالي شي لږ له غمه
دواړه سترگې به مې وچې شي له نمه
د ښاد منو په ټولگي به شمه ياده
زمانه به راسره ځي په لار سمه
همېشه به مې خندا وي غم به نه وي
نه به ځان سره ژړېږم لکه شمه

۱۰_ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:


- مېرمن حمیده د چا لور، په کوم کال چېرې زېږېدلې وه؟
- مېرمن حمیدې خپلې زده کړې چېرې او له چانه کړې وې؟
- مېرمن حمیدې د خپل مهال د کومو لیکوالو او شاعرانو آثار مطالعه کول؟
- د مېرمن حمیدې د نظم او نثر بېلګې چېرې خپرې شوې دي؟
- د مېرمن حمیدې د شعرونو ټولګه چاپ شوې ده؟
- مېرمن حمیده په کوم کال زېږېدلې او په کوم کال مړه شوې ده؟
- مېرمن حمیده څه ډول مېرمن وه؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپله خوښه د کومې بلې اوسنۍ یا پخوانۍ پښتو شاعرې یا لیکوالې لنډ ژوندلیک ولیکي او په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي.

د ریا د دیندارۍ نه مې توبه ده
مسلمان زړه ازارۍ نه مې توبه ده
یو نیالګی د مینې ږدي بل یې ښخ کاږي
د دې پټې ښخ کنۍ نه مې توبه ده
((مېرمن سایره))

امیر حمزه شینواری



ـ د پښتو په اوسنیو شاعرانو او لیکوالو کې څوک پېژنئ؟

ـ دکومو اوسنیو شاعرانو د نظم او نثر کتابونه مولوستي دي؟

د پښتو ادب په معاصرې ادبي دورې کې ډېر پیاوړي علمي او فرهنګي شخصیتونه لرو. هغوی د منظومو او منثورو علمي او ادبي کتابونو په لیکلو علم او فرهنګ ته زیات خدمتونه کړي دي. د غو فرهنګي شخصیتونو د پښتو معاصر ادب په وده او پرمختګ کې ارزښتمنه ونډه لرلې ده.

یو له دغو نومیالیو ادیبانو، علمي او فرهنګي شخصیتونو څخه امیر حمزه شینواری دی چې په دې لوست کې یې درپېژنو.

امیر حمزه خان شینواری د ملک باز میرخان زوی، پر (۱۹۰۷) میلادي کال د پښتونخوا د خیبر د لوړګي په سیمې کې یې سترګې نړۍ ته پرانیستې وې. د پنځو کلونو په عمر یې د لوړګي په مدرسه کې د دودیزو علومو په زده کړه پیل وکړ. بیا وروسته یې د پېښور په اسلامیه کالج کې د عصري او دیني علومو زده کړه پیل کړه او تر لسم ټولګي یې هلته خپلو زده کړو ته دوام ورکړ. په لسم ټولګي کې یې زده کړې نیمګړې پرېښودې، رسمي ماموریت یې پیل کړ. څه موده یې د پېښور د پاسپورټ په دفتر کې دنده درلوده. بیا له هغه ځایه د ریلوې (اورګاډي) اداري ته لاړ. څو کاله یې هلته دنده تر سره کړه. د ماموریت په ټوله موده کې یې خپلو علمي او ادبي مطالعاتو ته دوام ورکړ او د پیاوړي علمي، فرهنګي شخصیت خاوند شو. له شعر او شاعرۍ سره یې له کوچینوالي نه ډېره مینه لرله. په لومړیو کې یې په اردو ژبه شعرونه ویل او د ده د خپلې وینا له مخې، د ښوونځي له پنځم ټولګي څخه یې د شعر په ویلو پیل کړی دی. نوموړي به په ډېره مینه خپل دغه ذوق پاله. کله چې پر (۱۹۳۰ میلادي) کال یې پلار مړ شو، د لوړګي له سیمې څخه پېښور ښار ته لاړ. په همدغو وختونو کې یې له عرفان او تصوف سره ډېره مینه پیدا شوه. د پېښور د نومیالي روحاني شخصیت سید ستارشاه پاچا ارادتمند شو. د خپل پیر په سپارښتنه او لارښوونه یې پښتو شاعري او لیکوالي پیل کړه. ډېر ژر د خپل لوړ ادبي ذوق او پیاوړي استعداد په برکت د پښتونخوا په ادبي ټولنو او فرهنګي کړیو کې د لوړ نوم او شهرت خاوند شو. نوموړي خپل فرهنګي خدمتونه د پښتونخوا د نوښار له پښتو ادبي جرګې څخه پیل کړل. وروسته، کله چې په پېښور کې ((پښتو بزم ادب)) ادبي ټولنه جوړه شوه، حمزه شینواری یې مرستیال او بیا د همدې ټولنې مشر شو. په همدې وختونو کې یې د (رڼا) په نامه یوه ادبي مجله هم خپروله او ترڅنګ یې د رحمان ادبي جرګې غړیتوب هم درلود. کله چې پر (۱۹۵۰ میلادي) کال په پېښور کې ((اولسي ادبي جرګه)) جوړه شوه، ((بزم ادب)) ادبي ټولنه هم ورسره یو ځای شوه، حمزه شینواری د دې ادبي جرګې په مشرانو کې و. نوموړي له دغې لارې د ځوانو لیکوالو په روزنه کې ارزښتمنه ونډه تر سره کړه. حمزه شینواری په شعر کې د لوړ استعداد او وړتیا له مخې په ادبي ټولنو کې د ((پښتو غزل بابا)) په لقب ویاړل شوی دی. حمزه شینواری په علمي

او ادبي نثر ليکنې کې هم د پياوړي استعداد خاوند و. ډېرې نثري علمي ادبي ليکنې، لنډې کيسې، ډرامې، طنزونه، تکلونه، سفرنامې، ادبي راپورتاژونه او د منثور ادب نور ډېر ډولونه يې ليکلي دي. د حمزه شينواري د منظوم ادب بېلا بېل ژانرونه هم د وخت په راډيويي او چاپي خپرونو (مجلو او اخبارونو) کې خپاره شوي دي. د پښتو لومړنی فلم د ده د ليکلې کيسې ((ليلی او مجنون)) له مخې پر (۱۹٤۱ ميلادي) د هندوستان په ممبيي کې جوړ او نندارې ته وړاندې شو.

حمزه شينواري له سلګونو علمي او ادبي مقالو سربېره په نظم او نثر کې په لسګونو ليکلي او چاپ شوي آثار لري چې د ځينو نومونه يې دا دي:

په منظوموکتابونو کې د بېلګې په توګه: غزونې، يون، پريونې، پسرلی په آئينه کې، بهير، ژوند او يون د خبرورېمې او نور چې دا ټول اوس په کابل کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا په درو ټوکو کې ((د اميرحمزه شينواري کليات)) په نوم چاپ شوی دی. په نثري کتابونو کې يې د تجليات محمديه، د حجاز کاروان (سفرنامه)، نوی پښتون (سفرنامه)، نوې چېې (ناول)، انساني آنا او پوهه، د خوشحال خټک يو شعر، ژورفکرونه (تکلونه) اونور يادولی شو.

حمزه شينواری د پښتو د معاصر ادب په وده او پرمختيا کې د ستاينې وړ ونډه لرلې ده. نوموړي د ادب په ډېرو څانګو، په ځانګړې توګه شاعرۍ کې د لوړ نوم او شهرت څښتن دی. پښتو غزل يې لوړ پوړ ته رسولی دی، له همدې امله ((د پښتو غزل بابا)) په درانه لقب ويارل شوی او نمانځل شوی دی.

دغه پياوړی عالم، شاعر او ليکوال د (۱۳۷۲) لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۲۹مه نېټه د ۸۷ کلونو په عمر وفات او د پښتونخوا په لوارګي کې خاورو ته وسپارل شو.

د شعر بېلگه:

غـزل

يـــاره چـــې آســـمـــان تـــه دې بـــانـــه گـــوري
ســتــرګــې دې زمـــا پـــه مـــخ کـــې خـــه گـــوري
ښـکـلـی نـظـر سـتـا چـــې بـــې قـــراره دی
زړه تـرښـنـه ورک شـــوی دی کـــه زړه گـــوري
شـونـډې دې خـــوارې خـــوارې ســتـونـه کـړي
ســتــرګــې دې آشـنـــا ولـــې تـــراخـــه گـــوري
ســتــرګــې دې د ســتــرګـو پـــه لار زړونـــه وړي
خـوک د تـــورې شـپـې بـه چـېـرتـه غـلـه گـوري
غـــل د مـحـبـت غـلـطـېـدای نـشـي
خـوک چـې پـه مـحـفـل کـې چـاتـه نـه گـوري
خُـشـکـې چـې ارمـــان مـې چـيـنـې سـتـرګـې کـړي
لارې د زړه پـــه تـــل کـــې مـــې اوبـــه گـــوري
زه ((حـــمـــزه)) پـــه زړه هـــم ورکـــتـــی نشم
خـــه پـــرې کـــه آشـنـــا مـــې پـــه لـېـمـه گـوري

د متن لنډيز:

حمزه شينواری د پښتو د معاصر ادب ځلانده ستوری دی. په (۱۹۰۷) ميلادي کال د پښتونخوا د لوارګي په سيمه کې زېږېدلی. د ديني علومو لومړنۍ زده کړه يې د خپلې سيمې له عالمانو او بيا عصري زده کړې يې تر لسم ټولګي پورې د پېښور په اسلاميه کالج کې تر سره کړې دي. ځينې رسمي او شخصي دندې يې هم ترسره کړې، خو د خپل ذوق له مخې يې د ديني او ادبي علومو مطالعاتو ته دوام ورکړ، پياوړی، شاعر ليکوال او د لوړو فلسفي افکارو خاوند شو. په شعر او ادب کې داسې پوړ ته ورسيد چې د پښتو غزل د بابا په لقب ووياړل شو. د نظم او نثر په لسګونو کتابونه يې ليکلي او چاپ شوي دي چې په منظومو آثارو کې يې د غزونې، پريونې، يون، بهير، پسرل په آئينه کې، د خپر وړمې او په منثورو آثارو کې يې د تجليات محمديه، د حجاز کاروان، نوی پښتون، نوې چېپې، انساني انا او پوهه، د خوشحال خټک يو شعر او نور د ښلګې په توګه يادولی شو.

فعاليتونه

۱ــ زده کوونکي دې متن په چوپه خوله په غور او دقت سره ولولي، ستونزمنې کلمې دې په نښه کړي.

۲ــ ښوونکی دې د زده کوونکو په نښه کړې کلمې پر تختې وليکي، ځينې دې د زده کوونکو په وسيله او هغه چې زده کوونکي يې په معنا او مفهوم نه پوهېږي، په خپله دې معنا او توضيح کړي.

۳ــ زده کوونکي دې په نوبت سره د متن يو يو پاراګراف په ټولګي کې ولولي. ښوونکی دې د اړتيا پر مهال ورسره مرسته وکړي.

٤ــ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي او دې ته دې وګومارل شي چې متن په غور او دقت ولولي. يوه ډله دې په متن کې خاص نومونه او بله دې عام نومونه په نښه کړي، د هرې

ډلې استازی دې د نورو په استازیتوب هغه جلا جلا پر تختې ولیکي. ښوونکی دې د اړتیا پر مهال د خاصو او عامو نومونو د لست په بشپړولو کې له زده کوونکو سره مرسته وکړي.

خاص نوم: هغه دی چې یو ځانګړی وګړی (شخص)، ځیز یا ځای نومولی، لکه احمدشاه بابا، ننګرهار، پېښور او نور.

عام نوم: چې په عام ډول شیان نومولی، لکه: ګل، غر، پوهنتون او نور.

۵ـ زده کوونکي دې په نوبت سره تختې ته ورووللی شي چې یو خاص یا عام نوم په مناسبه جمله کې وکاروي.

٦ـ زده کوونکي دې په نوبت سره د ټولګیوالو په وړاندې د لوست مفهوم په خپلو الفاظو ووایي.

۷ـ د لوست د زده کړې ارزونه دې په دې لاندې پوښتنو وشي:

- حمزه شینواری څه ډول شخصیت و؟
- حمزه شینواری په کوم کال چېرې زېږېدلی و؟
- د حمزه شینواري د پنځو منظومو آثارو نومونه واخلئ.
- د حمزه شینواري د پنځو نثري کتابونو نومونه واخلئ.
- حمزه شینواری کله وفات او چېرې ښخ دی؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه په متن کې د امیر حمزه شینواري د شعر مفهوم په لنډه توګه وليکي او د پښتو په راتلونکي درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي.

د پښتو ادبياتو لرغونې دوره



ـ تاسې پوهېږئ چې د ادب تاريخ څه ته وايي؟

ـ د ادبياتو په تاريخ کې مو د ادبي دورو نوم اوربدلی؟

ـ د پښتو ادب لرغونې دوره څه معنا او مفهوم لري؟

د ادب يا ادبياتو تاريخ په بېلا بېلو دورو کې د يوې ژبې د ادبياتو د ودې او پرمختيا جريان څېړي. د هرې ژبې ادبيات په تاريخي لحاظ په څو بېلا بېلو دورو وېشل کېږي.

ادبي تاريخ ليکونکو د پښتو ژبې ادبيات په تاريخي لحاظ په درو سترو دورو وېشلي دي:

(۱) لرغونې دوره (۲) منځنۍ يا کلاسيکه دوره (۳) اوسنۍ يا معاصره دوره.

په دې لوست کې د پښتو ادب لرغونې دوره در پېژنو.

ادبي تاريخ د تاريخ په اوږدو کې د يوې ژبې د ادبياتو د ودې او پرمختيا څرنګوالی بيانوي. د ادبياتو تاريخ د يوې ژبې ادبيات په بېلابېلو دورو وېشي. د ادبياتو د تاريخ هره دوره خپلې ځانګړنې لري چې د هغو له مخې يوه دوره له بلې جلا کېږي. د پښتو د ادبي تاريخ ليکونکو د پښتو ژبې ادبيات په درو سترو دورو بېل کړي دي:

لومړۍ دورې ته يې د پښتو ادبياتو لرغونې دورې نوم ورکړی دی. دويمې دورې ته منځنۍ يا کلاسيکه دوره وايي او دريمه دوره يې معاصره يا اوسنۍ ادبي دوره نومولې ده. د پښتو ادب منځنۍ او معاصره دورې به په راتلونکو ټولګيو کې ولولئ. دلته د پښتو ادب لرغونې دوره درپېژندل کېږي.

مورِ د پښتو ادبياتو ډېر لرغوني آثار په لاس کې نه لرو. هغه څه چې په لاس کې يې لرو، له اسلام څخه په راوروسته زمانې پورې اړه لري. څرنګه چې د يوې ژبې د ادبي تاريخ دورې د موجودو آثارو له مخې ټاکل کېږي، نو ځکه مورِ د پښتو ادب تاريخ لومړنۍ يا لرغونې دوره له دويمې هجري پېړۍ څخه را پيل شوې ګڼو. دا چې له دويمې هجري پېړۍ څخه تر (۱۰۰۰) هجري کال پورې مورِ ته د لږ شمېر شاعرانو او ليکوالو د نظم او نثر آثار په لاس راغلي دي، نو ځکه د ادبي تاريخ ليکونکو دغه د اوو يا اتو پېړيو ادبيات ټول په يوې دورې کې شامل کړي دي.

د پښتو ادب لرغونې دوره د اميرکرور سوري د تر لاسه شوي شعر څخه راپيلېږي. دغه شعر چې يوه ويارنه يا حماسي سندره ده، د دويمې هجري پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې ويل شوی دی. دا شعر مورِ ته د محمد هوتک د پټې خزانې په وسيله را رسېدلی دی.

امير کرور د امير پولاد سوري زوی و. نوموړی پر (۱۳۹هـ.ق.) کال د غور په مندېش کې پاچا او پر (۱۵٤هـ.ق.) کال د پوشنج په جګړو کې مړ شو. اميرکرور سربېره پردې چې يو عادل پاچا او واکمن و، د پښتو ژبې شاعر هم و. د نوموړي کوم شعر چې پټې خزانې مورِ ته رارسولی دی، مطلع يې داسې ده:

زه يـم زمـرى پـه دې نـړۍ لـه مـا اتـل نسته
پـه هندوسند و پـر تـخـار او پـر کـابـل نسته
بـل پـه زابـــل نـسـتـه _ لـه مـا اتـــل نسته

له امیر کرور وروسته چې د پښتو ژبې کوم بل شاعر او لیکوال مورږ ته را معلوم دی، هغه ابو محمدهاشم سرواني دی. نومورې په (۲۲۳ هـ.ق.) کال د هلمند په سروان کې زېږېدلی و. لومړنۍ زده کړې يې په خپله سیمه کې کړې او بیا عراق ته تللی و. په (۲۹٤ هـ.ق.) کال بېرته خپل هېواد ته راغلی او په (۲۹۷ هـ.ق.) کال مړ دی. د ابوهاشم یو شعر چې د خپل استاد ابن خلا د عربي شعر يې پښتو ته را ژباړلی دی، مورږ ته را پاتې دی. د شعر مطلع داسې ده:

ژبـــه هـــم ښـــه ويـنـــا کـــانـــدې چـې ويـنـه
د خـاونـد پـه لاس کـې زر او درهـمـونـه

په پټه خزانه کې راغلي چې ابو محمد هاشم ابن زید السرواني د ((سالو ورمه)) په نامه په پښتو نثر کې یو کتاب هم لیکلی و. خو دا د پښتو نثر لومړنی کتاب تر اوسه نه دی ترلاسه شوی.

په درېمه هجري پېړۍ کې مورږ د بیټ نیکه په نامه یو بل عارف او پښتون شاعر پېژنو. د نومورې یو عرفاني شعر او د ژوند لنډ حالات مورږ ته د سلیمان ماکو د ((تذکرة الاولیاء)) نومي کتاب په وسیله را رسېدلي دي. د شعر لومړي بیتونه يې دادي:

لـويـه خـدايـه لـويـه خـدايـه ستـا پـه مـيـنـه پـه هـر ځـايـه
غـر ولاړ دی درنـــاوي کې تـولـه ژوي پـه زاري کـې
دلـتـه دي د غـــرو لـمـنـې ز مـورږ کـېـږدۍ دي پـکـې پلنې
دا وګـــړي ډېـر کـــړې خـدايـه
لـويـه خـدايـه _ لـويـه خـدايـه

تذکرة الاولیاء او پټه خزانه مورِ ته په همدغه دربمه او څلورمه هجري پېړۍ کې د شیخ اسمعیل او خربنبون په نامه دوه نور شاعران هم راپېژني. په پورتنیو کتابونو کې د دغو شاعرانو د شعرونو بېلګې هم خوندي دي. په همدغې زمانه کې د نصر لودي او شیخ رضي لودي په نامه دوه نور پښتانه شاعران هم تېر شوي دي.

په پنځمه هجري پېړۍ کې مورِ د شیخ اسعد سوري په نامه یو پیاوړی شاعر پېژنو. نوموړي د خپل معاصر واکمن امیرمحمد سوري ویرنه ویلې ده چې مطلع یې داده.

د فلک لـه چـارو څـه وکـړم کوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

تر دی وروسته د ښکارندوی غوري په نامه یو شاعر را معلوم دی چې په شپږمه هجري پېړۍ کې یې د واکمن شهاب الدین غوري په ستاینه کې یوه قصیده ویلې ده. د قصیدې مطلع داسې ده:

د پسرلی ښکلونکي بیا کـړل سینګارونه
بـیـا یـې ولـونـل پـه غـرونـو کـې لالـونـه

د ادبیاتو د تاریخ په دغه دوره کې د ملک یار غر شین په نامه شاعر هم لرو چې د سلطان شهاب الدین غوري معاصر دی. د نوموړي یو شعر را پاتې دی چې په هندوستان کې یې د غوریانو د سوبو په مهال افغاني غازیان هڅولي دي. د دغه شعر لومړۍ کړۍ داسې ده:

څښتن مو مل دی اوس مو یرغل دی هېواد د بل دی
غازیانو ګورئ څښتن مو مل دی

تایمني هم د همدغې زمانې شاعر دی چې یو شعر یې د شهاب الدین غوري په ستاینه کې ویلی او مورِ ته را رسېدلی دی. د شعر لومړی بیت داسی دی:

نـن زه غـږیـږم پـه صـفـت د سلطان
چې دی بـادار غـازي ملک د جهان

د سلیمان ماکو په نامه یو پښتون لیکوال پېژنو چې د اوومې هجري پېړۍ په لومړیو

کې له (۶۱۲هـ.ق.) کال را وروسته يې د ((تذکرة الاولیا)) په نامه په پښتو نثر کې يو کتاب ليکلی دی. د دې کتاب د سر څو پاڼې ترلاسه شوې دي. په هغو پاڼو کې يې د پښتو ځلور تنه پخواني شاعران راپېژندلي او د هغې د شعر بېلګې يې هم خوندي کړي دي. د پښتو دغه پخواني شاعران دا دي: بيټ نيکه، شيخ اسمعيل، ملک يار غر شين او قطب الدين بختيار کاکی دی. سليمان ماکو د اوومې هجري پېړۍ په لومړيو کې د کندهار په ارغسان کې اوسېده. د بارک خان سابزی ماکو زوی و.

پر افغانستان باندې د چنګېز د يرغل په زمانه کې د بابا هوتک او د هغه زوی ملک يارهوتک په نامه دوه نور پښتانه شاعران لرو. د دوی د شعرونو يوه يوه بېلګه مورِ ته راپاتې ده. د بابا هوتک د حماسي سندرې مطلع چې پښتانه يې پکې د يرغلګرو په وړاندې مقاومت ته هڅولي دي، دا ده:

پـر سـور غـر بـل راتـه نـن اور دی وګـړيـه جـورِ راتـه پـيـغـور دی
پـه کلي کـور بـانـدې مغل راغـی هـم پـه غزني هـم پـه کابل راغی

شيخ متي هم د همدغې زمانې شاعر دی. نومورې په (۶۸۸هـ.ق.) کال د کلات د ترنک د سيند په غاړه وفات شوی او د کلات پر غونډۍ ښخ دی. د شيخ متي يوه عرفاني سندره مورِ ته د پتې خزانې په وسيله را رسېدلې ده. د شعر مطلع يې دا ده:

پـه لـويـو غـرو هـم پـه دښـتـو کې پـه لـوی سـهـار پـه نيمو شپوکې
پـه غـاړه غـرِ او پـه شپېلکو کې يـا د ويـر ژلـيـو پـه شـپـيـلـو کې
ټـول ستا د يـاد نـارې سـورې دي
دا سـتـاد مـيـنـې نـنـداري دي

په اتمه هجري پېړۍ کې د اکبر زميندااوري په نامه خورِ ژبی شاعر لرو. وايي چې دغه شاعر د شعرونو لوی ديوان درلود، خوله بدمرغه چې د زمانې توفاني سېلیو له ځان سره وړی دی. د اکبر يو مثنوي او څو غزلې خوندي دي. د يوې غزلی لومړی بيت يې دا دی:

د خپل ځان له حیرانیه څه ویل کړم
د عشق ویر به تل په خپله پتول کړم

خلیل خان نیازی او سلطان بهلول لودي دواړه د نهمې هجري پېړۍ شاعران دي چې په هندوستان کې اوسېدل. زرغون نورزی هم د همدغې زمانې شاعر دی چې د کندهار اوسیدونکی و. د نومورې یوه ساقي نامه راپاتې ده چې څو لومړي بیتونه یې دا دي:

ساقي پاڅه پیاله را کړه مرور یار مې پخلا کړه
اوبه تویې په لمبو کړه اور مې مړ په دې اوبو کړه
پسرلی سو غونچه ګل کا زلفې تاوې د سُنبل کا

د نهمې هجري پېړۍ په وروستیو او د لسمې پېړۍ په لومړیو کې درې پیاوړې سځینه شاعرانې هم پېژنو. لومړۍ زرغونه کاکړه ده چې د ملادین محمد کاکړ لور او د کندهار د پنجوایي اوسېدونکې وه. نومورې پیاوړې شاعره او سنه خطاطه وه. په (۹۰۳هـ.ق.) کال یې د شیخ سعدي شېرازي ((بوستان)) پښتو ته ژباړلی دی. د یوه حکایت څو بیتونه یې دا دي:

اوربدلې مې قصه ده چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار بایزید چې و رویدار

بله شاعر رابعه نومېدله چې د مغلي واکمن ظهیرالدین بابر معاصره وه. د شعرونو دیوان یې درلود، خو اوس ورک دی. دا لاندې څلوریزه یې پتې خزانې خوندي کړې او تر موږ یې را رسولې ده:

آدم یې ځمکې وته راستون کا په اور د غم یې سوی لرمون کا
دوزخ یې روغ کا پر مخ د ځمکې نوم یې د هغه دلته بېلتون کا

بي بي نېکبخته هم د دغې زمانې شاعره ده. پر (۹۶۹هـ.ق.) کال يې د ((ارشاد الفقراء)) په نامه يو کتاب په پښتو ژبه ليکلی چې محمد هوتک يې په پټه خزانه کې نمونې خوندي کړي دي. يوه بېلگه يې دا ده:

پـه زړه ښـاد شـې ای مؤمنه! پـه ظـاهـر پـه بـاطـن سپينه
ظـاهـر زهـد پـه اخـلاص کړه پـه زړه ټينګ شـه لـه يقينه
شـکـر صـبـر پـه هـر حـال کړه خـود نـمـای مـه شـه خـود بينه

دوست محمد کاکړ هم د لسمې هجري پېړۍ د لومړۍ نيمايي شاعر دی چې پر (۹۲۶هـ.ق.) کال يې د ((غرغښت نامې)) په نوم په نظم يو کتاب ليکلی دی. شيخ بوستان برېځ هم د همدغې زمانې شاعر دی. د ((بستان الاولياء)) په نامه يې پښتو کتاب ليکلی دی.

په لرغونې دورې کې سربيره له پورتنيو شاعرانو او ليکوالو څخه چې موږ يې د ژوند او آثارو په باب لنډې څرګندونې وکړې، محمد هوتک په خپل اثر ((پټه خزانه)) کې د ځينو نورو ليکوالو او د هغو د آثارو نومونه اخيستي دي، لکه د شيخ کټه ((لرغوني پښتانه))، د محمد بن علي البستي تاريخ سوري او نور، خو دا چې په خپله دغه آثار او د هغو د ليکوالو په باب معلومات نه دي ترلاسه شوي، نو ځکه يې په اړه څه نه وايو.

د پښتو لرغونې دوره چې د دويمې هجري پېړۍ له لومړۍ نيمايي څخه پيل او تر (۱۰۰۰) هجري قمري پورې را رسېږي، په عمومي ډول د دې دورې ځانګړنې په لنډه توګه داسې ښودلی شو:

۱ـ په لومړۍ دورې کې موږ د ډېرو لږو شاعرانو او ليکوالو د منظومو او منثورو آثارو ډېرې لږې بېلګې په لاس کې لرو.

۲ـ که د دغې دورې آثار د کميت په لحاظ لږ دي، خو په کيفي لحاظ يې ځينې آثار ډېر لوړ ارزيابي کېدای شي، لکه: د غوري دورې قصيدې، د شيخ متي مناجات، د اکبر زميندارې شعرونه او نور.

۳ـ په دغې دوره کې ادبي آثارو د شکل او موضوع له مخې وده او پرمختيا موندلې

ده. قصيده، غزل، څلوريزه، مثنوي او نور شعري فورمونه پښتو ادب ته راغلي دي. ديني، اخلاقي، عشقي، حماسي او عرفاني مسايل په شعر او ادب کې بيان شوي دي.

٤ـ په دغې دوره کې ژباړه دود شوې، د ابوهاشم سرواني ژباړلی شعر او د زرغونې کاکړې پښتو بوستان يې غوره بېلګې دي.

٥ـ د دربارونو له خوا پښتانه شاعران او ليکوالان روزل شوي، غوره بېلګې يې د سوريانو، غوريانو او لودیانو په دربارونو کې پښتو پالنه ده.

٦ـ د دغې دورې زياتره د نظم او نثر آثار مور ته د ((تذکرة الاولياء)) او ((پټې خزانې)) په وسيله را رسېدلي دي.

٧ـ د دې دورې په آثارو کې که له يوې خوا د پښتو زاړه لغات او ترکيبونه راغلي، له بلې خوا پرې د دري او عربي ژبې اغېزه هم څه ناڅه ښکاري.

د متن لنډيز:

لرغونې دوره د پښتو ادبياتو د تاريخ لومړۍ دوره ده. دغه دوره له دويمې هجري پېړۍ څخه پيل او تر (١٠٠٠) هجري قمري پورې رسېږي. د دې دورې ډېر لږ آثار د زمانې له توفانونو څخه پاتې او تر مور ته رسېدلي دي. د دې دورې په نومياليو شاعرانو او ليکوالو کې د امير کرورسوري، بيټ نيکه، شيخ اسمعيل، شيخ خرښبون، شيخ اسعد سوري، ښکارندوی غوري، شيخ تيمن کاکړ، شيخ متي، نصرلودي، شيخ رضي لودي، بابا هوتک، سليمان ماکو، اکبر زميندوري، زرغون خان، رابعه، بي بي نيکبخته، زرغونه کاکړه، دوست محمد کاکړ او نور دي.

د دې دورې د زياترو شاعرانو د ژوند په باب معلومات او د آثارو بېلګې مور ته د سليمان ماکو د پښتو اثر ((تذکرة الاولياء)) او د محمد هوتک د ((پټې خزانې)) په وسيله را رسېدلي دي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې په غور سره متن ولولي او ستونزمنې کلمې دې په نښه کړي.

۲ـ ښوونکي دې ستونزمنې کلمې پر زده کوونکو معنا او که هغوی یې نشي حل کولای، په خپله دې توضیح کړي.

۳ـ زده کوونکي دې په نوبت سره د متن یو یو پراګراف ولولي. ښوونکی دې د اړتیا پر مهال ورسره مرسته وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي او ورته ودې ویل شي چې متن یو ځل بیا په غور ولولي. یوه ډله دې په متن کې د اشخاصو نومونه او بله ډله دې د کتابونو نومونه ولیکي. د هرې ډلې استازی دې هغه پر تختې ولیکي. ښوونکی دې د هغه لست په بشپړولو کې مرسته وکړي او د ځینو شاعرانو، لیکوالو او کتابونو په اړه دې لازمې څرګندونې وکړي.

۵ـ زده کوونکي دې په نوبت سره د ټولګي مخې ته راوبلل شي چې د پښتو ادب د لرغونې دورې ځانګړنې په خپلو الفاظو کې نورو زده کوونکو ته ووایي.

٦ـ ښوونکی دې د بیټ نیکه د مناجات دا لاندې بند پر تخته ولیکي او له زده کوونکو دې وغواړي چې د هغه مفهوم او معنا په خپلو کتابچو کې ولیکي.

لـویـه خـدایـه لـویـه خـدایـه سـتـا پـه مـیـنـه پـه هـر ځـایـه
غـر ولاړ دی درنـــاوی کې ټـولـه ژوي پـه زاری کې
دلـتـه دي د غـــرو لمنې زمـــوږ کـښـږدی پـه کـې پلنې
دا وګـــړي ډېـر کـړې خـدایـه
لـویـه خـدایـه لـویـه خـدایـه

دلـتـه لـږ زمـــوږ اور بـل دی وړ کورګی دی ووړ بورجل دی
مینه ستا کـې مـوږ مېشته یو بـل د چـا پـه مـلـه تـلـه نـه یو
هسک او مځکه نغښته ستا ده د مـــړو وده لـــه تـــا ده

دا وګـــړي ډېـر کـړي خـدایـه
لـویـه خـدایـه لـویـه خـدایـه

۷ـ ښوونکی دې په دې لاندې پوښتنو د لوست ارزونه وکړي:

- د پښتو ادب تاریخ په څو دورو وېشل شوی دی. نومونه یې واخلئ.
- لرغونې دوره له کومې پېړۍ څخه پیل او تر کومه وخته رارسېږي؟
- د پنځو لرغونو شاعرانو نومونه واخلئ.
- د دریو ښځینه پښتو شاعرانو نومونه واخلئ.
- د څو لرغونو کتابونو نومونه واخلئ.
- د دې دورې د شاعرانو په شعرونو کې مو د چا شعر خوښ شو؟
- که د کوم شاعر د شعر بیت مو زده شوی وي، ویې وایئ.
- د لرغونې دورې د ادبیاتو څو ځانګړنې ووایئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه په متن کې د راغلي یوه شاعر په هکله معلومات ولیکي او د پښتو لوست په راتلونکي ساعت کې دي هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي.

د لويو جرګو تاريخچه



ـ ويلی شئ چې جرګه څه ته وايي؟

ـ تاسې په کور و کلي کې ليدلي چې د يوې ستونزې د حل لپاره مشران را ټول شي او د هغه په باب پربکړه وکړي؟

جرګه هغې غونډې ته وايي چې د قبيلوي، قومي، ولسي او ملي مسايلو د حل او څېړلو لپاره جوړېږي. جرګه ځانګړي اصول او مقررات لري. جرګه په دوه ډوله ده. يوې ته يې کليوالي جرګه او بلې ته يې لويه جرګه وايي. په دې لوست کې جرګه، د هغې اصول او مقررات او د جرګو ډولونه در پېژنو او د لويې جرګې د تاريخچې په هکله معلومات درکوو.

د جرګې د کلمې معنا او مفهوم په هغې غونډې اطلاق کېږي چې د پرېکړې او فیصلې صلاحیت لري او حکم یې د منلو وړ وي.

په عام ډول د جرګې اصطلاح د هغې غونډې لپاره کارول کېږي چې د ځانګړو قومي، ولسي او ملي مسایلو د حل او څېړلو لپاره جوړېږي.

افغاني ولسي جرګې خپل ځانګړي اصول، قوانین او کړنلاره لري. په هره سیمه کې د جرګو مرکو خلک معلوم، منل شوي او پېژندل شوي وي. دغو خلکو ته په ولسي اصطلاح جرګه مار، مرکچیان یا مشران ویل کېږي. جرګه خاص مشر نه لري، مشران او د نظر خاوندان د یوې پېښې د حل لپاره سره راغونډېږي. کله چې راغونډ شي، معمولاً په دایروي بڼه کښېني. د پورته او ښکته امتیاز پکې نه وي، پر موضوع باندې بحث په آزاده بڼه دوام مومي. هر څوک په خپل وار پر اړونده موضوع باندې خبرې او تبصره کوي. په جرګه کې هر څوک له ټولنیز پوړ یا دریځ (موقف) او امتیاز څخه پرته خپل نظر څرګندوي.

جرګه زموږ په ولسي او ملي عنعناتو کې ډېر لوړ ځای او ستر اهمیت لري. په تاریخي لحاظ په افغاني ټولنه کې له ډېرې لرغونتیا څخه برخمنه ده. له تاریخي څېړنو څخه جوتېږي چې لرغونو آریایانو به خپلې زیاتره ټولنیزې کوچنۍ او سترې مسئلې د جرګو مرکو له لارې هوارولې.

آریایانو په عمومي توګه دوه ډوله جرګې درلودې چې یوې ته یې ((سیمتي)) او بلې ته ((سبها)) ویله. په لومړۍ کې به د قبیلې سپین ږیري او مشران راغونډېدل او دویمې یې کلیواله بڼه درلوده. یا په بله وینا، ((سیمتي)) په اوسني مفهوم د مشرانو جرګې رول درلود او د قبیلې سترې مسئلې، لکه: د مشر ټاکل، له خپل ټاټوبي څخه دفاع او داسې نورې به یې حل کولې او ((سبها)) د یوې وړې کلیوالې جرګه ګۍ یا مرکې دنده درلوده چې په کوچنیو کورنیو او کلیوالي مسایلو به یې غور کاوه. همدغه جرګې مرکې افغانانو تر ننه د یوه غوره میراث په توګه ژوندۍ ساتلي او په ملي عنعناتو کې یې ډېر ستر ارزښت او اهمیت لري.

په عام مفهوم، اوس زمونږ په هېواد کې جرګې په دوو بڼو جوړېږي: يو په کليواله او سيمه ييزه سطحه د کورنيو، خپلونو، قبيلو او قومونو ترمنځ د راولاړو شوو شخړو او مسايلو د هوارولو لپاره چې دې ډول جرګې ته ((کليوالي)) يا ((سيمه ييزې)) جرګې وايي.

بل په ملي سطحه د يوه ستر ملي مقصد او مرام لپاره جوړې شوې جرګې دي چې هغوته د ((لويې جرګې)) نوم ورکړل شوی دی.

لويې جرګې زمونږ د هېواد په تاريخ کې له ډېر ستر ارزښت او اهميت څخه برخمنې دي. دغه ډول جرګې زمونږ د هېواد په تاريخ کې په ملي کچه هېواد ته د ورپېښو ستونزو او کړکېچونو، لکه: د مشرتابه ټاکلو، د بهرنيو يرغلونو په وړاندې د پاڅونونو او نورو سترو ملي مسايلو د حل وفصل لپاره جوړې شوې دي. هرې يوې جرګې په خپل وخت او ځای ډېرې ارزښتناکې اغېزې او پايلې (نتيجې) لرلې او ملت يې په ډېرو حساسو او نازکو حالاتو کې له سترو بحرانونو څخه ژغورلی دی.د دغو لويو جرګو په لړ کې د بېلګې په توګه د ميروس خان نيکه د وخت درې لويې جرګې يادولی شو. لومړۍ جرګه پر (۱۱۰۵هـ.ق.) کال د کوکران په کلي کې جوړه شوې وه، دويمه په (۱۱۱۹هـ.ق.) کال په مانجه کې او درېمه په همدغه کال په کندهار کې جوړه شوې وه. دغو جرګو ملت د بهرنيو په وړاندې پاڅون ته چمتو او ميرويس نيکه يې د ملي مشر په توګه ټاکلی دی. د شېر سرخ د مزار لويې جرګې په (۱۷٤۷م.) کال کې احمدشاه بابا د ملي مشر او واکمن په توګه وټاکه. همدارنګه پر افغانستان د انګرېزانو له يرغل څخه وروسته په (۱۸٤۱م.) کال کې د ملي مجاهدينو لويې جرګې ملت پاڅون ته چمتو او د پاڅون مشرتوب يې وټاکه. همدارنګه د امير شېرعلی خان د واکمنۍ په لويې جرګې کې پاچا نوې کابينه (صدراعظم او وزيران) وټاکل. د امير حبيب الله خان د وخت لويې جرګې په لومړنۍ نړيوالې جګړې کې يې د افغانستان بې طرفي تصويب کړه او ورپسې د امير امان الله خان، د واکمنۍ پر مهال څلور لويې جرګې جوړې شوې دي: په لومړۍ لويه جرګه (۱۹۲۰م.) کال کې هېواد او خلک د خپلواکۍ ساتنې لپاره چمتو کړای شول. په دويمه

لویه جرګه کې په (۱۹۲۳م.) کال د هېواد لومړنی اساسي قانون تسوید شو. په درېمه جرګه کې په (۱۹۲٤م.) کال د کورنۍ اړدوړ د آرامولو لپاره تدبیرونه ونیول شول او په څلورمه لویه جرګه کې په (۱۳۰۷) لمریز کال اروپا ته د امان الله خان د سفر پایلې وڅېړل شوې. د نادرخان د واکمنۍ پر مهال لویې جرګې په (۱۳۰۹) لمریز کال د هېواد اساسي قانون تسوید کړ، د محمد ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال په (۱۹٤۱م.) کال لویې جرګې په دویمې نړیوالې جګړې کې د هېواد د برخې نه اخیستلو پرېکړه وکړه، د (۱۳٤۳) لمریز کال لویې جرګې د هېواد نوی اساسي قانون تسوید کړ او همدارنګه تر اوسه پورې نورې لویې جرګې هم جوړې شوې چې هرې یوې پر خپل وخت ځانګړی ارزښت او اهمیت لرلی دی.

نو د پایلې په توګه د ویلو ده چې لویې جرګې د افغاني ټولنې د ملي تفاهم یوه ډېره مهمه او اغېزناکه وسیله ده، زمونږ پر ملت او ټولنې ډېرې ژورې ټولنیزې، رواني او روحاني اغېزې لري. همدې جرګو د پېړیو په پوړیو کې د ډېرو سترو کړکېچونو پرمهال هېواد ژغورلی او له ستونزمنو حالاتو سره د مقابلې لپاره یې چمتو کړی، نو موږ باید د دغې عنعنې درناوی وکړو او ژوندۍ یې وساتو.

د متن لنډیز:

د جرګې اصطلاح د هغې غونډې لپاره کارول کېږي چې د ځانګړو، قبیلوي، قومي، ولسي او ملي مسایلو د حل او څېړلو لپاره جوړېږي. افغاني جرګې ځانګړي اصول او مقررات لري، په ولس کې د جرګې کسان معلوم دي، هغوی راغونډېږي، پر ستونزه باندې آزادانه بحث کوي او خپله پرېکړه اعلانوي. جرګې دوه ډوله دي: یوې ته یې کلیوالي او بلې ته لویې جرګې وایي. لویوجرګو زمونږ د هېواد د معاصر تاریخ په وروستیو درو پېړیو کې په ډېرو حساسو او نازکو حالاتو کې ارزښتمن رول تر سره کړی دی.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن له ځان سره په چوپه خوله ولولي. ستونزمنې کلمې دې په نښه کړي.

۲ـ زده کوونکي دې په نوبت سره په نښه کړې ستونزمنې کلمې ووایي. ښوونکی دې هغه پر تختې وليکي. ځینې دې په خپله پر زده کوونکو معنا کړي او هغه چې زده کوونکي يې نشي معنا کولای، په خپله دې معنا کړي او د متن په هکله دې لازمې توضیحي خبرې وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې د نورو ټولګیوالو په وړاندې د متن یوه یوه برخه ولولي. ښوونکی دې د اړتیا پرمهال لازمه مرسته وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته وروبلل شي چې د متن عمومي معنا او مفهوم په خپلو الفاظو ووایي.

٥ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي: یوه ډله دې وګومارل شي چې په متن کې صفتونه په نښه کړي او بله ډله دې قیدونه. بیا دې د هر ډلې استازی د ټولګیوالو په مخ کې خپل په نښه کړي قیدونه او صفتونه ولولي. ښوونکی دې هغه پرتخته وليکي.

قیدونه: هغه کلمې یا ژبنې توکي دي چې په جمله کې د فعل حالت څرګندوي، یا د فعل د پېښېدلو څرنګوالی ښیي، لکه: ښوونځي ته ژر لاړ شه. په دې جمله کې ژر قید دی.

صفتونه: هغه کلمې دي چې د نومونو حالت او څرنګوالی ښیي. یعنې دا چې صفت د نوم معنا څرګنده او روښانوي، لکه: روغ، ناروغ، ښکلی، بدرنګ، بد، ښه، سپین، تور او نور.

٦ـ د يوې ډلې زده کوونکي دې په نوبت سره تختې ته وروبلل شي چې پر تختې ليکل شوي قيدونه او د بلې ډلې زده کوونکي دې ليکل شوي صفتونه په مناسبو جملو کې استعمال کړي.

٧ـ زده کوونکي دې د يوې موضوع د حل لپاره د جرګې په دود را ټول او جرګه دې تمثيل کړي.

٨ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې د کچې ارزونه وشي:

- جرګه څه شی ده؟
- څو ډوله جرګې پېژنئ؟
- زمورِ په لرغوني هېواد (آريانا) کې څو ډوله جرګې موجودې دي، نومونه يې واخلئ؟
- لومړنۍ لويه جرګه چې په تاريخ کې مورِ ته معلومه ده، د کوم واکمن په وخت کې جوړه شوې وه؟
- احمد شاه بابا د کومې لويې جرګې له خوا د افغانستان د واکمن په توګه وټاکل شو؟
- د اعليحضرت امان الله خان په وخت کې څو لويې جرګې جوړې شوې او هغه کومې وې؟
- د کوم واکمن په وخت کې لويې جرګې په دويمه نړيواله جګړه کې د افغانستان بې طرفي تصويب کړه؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د لوست مفهوم په خپلو الفاظو وليکي او په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه د نورو ټولګيوالو په وړاندې ولولي.

په پښتو ادب کې لنډه کیسه



ـ تاسې کیسه پېژنئ؟

ـ کله مو داسې کیسه لوستې یا اورېدلې چې د ژوند رښتیني واقعیتونه پکې ډېرښه بیان شوي وي؟

انسان په فطري ډول د کیسې اورولو او اورېدلو ذوق لري. دغه د کیسې اورولو او اوریدلو هیله او غوښتنه هغه ځانګړنه ده چې د انسان په خټه کې اخښل شوې ده. له همدې امله ده چې د بشري تاریخ په اوږدو کې د کیسو بېلابېل ډولونه رامنځته شوي دي. د کیسې په ډولونو کې یو مهم ډول لنډه کیسه ده چې په دې لوست کې یې در پېژنو او په پښتو ادب کې یې پر تاریخي بهیر بحث کوو.

د لنډې کیسې یوه ډېره عامه پېژندنه داسې ده چې: ((لنډه کیسه هغه نثري داستان دی چې لنډ وي او له نیم ساعت څخه تر دوو ساعتو پورې ختم شي.)) ځینې لیکوال بیا وایي چې لنډوالی د لنډې کیسې لپاره یوازینی شرط نه دی، بلکې د دې ترڅنګ ځینې نورې ځانګړتیاوې هم لري او هغه دا چې: منظمه او مشخصه طرحه لري. یو اصلي کرکټر په کې وي، لنډه وي، بې ضرورته خبرې پکې نه ځایېږي او ټولې برخې یوه له بلې سره متقابلې اړیکې لري او یوه اغېزه ښندي.

لنډه کیسه د اوسني پر مختللي عصر زېږنده او پیداوار ده. څومره چې بشري ټولنې له یوې ورځې څخه بلې ته په ذهني او مادي لحاظ د پرمختګ پړاوونه وهلي دي، په هماغه اندازه د انسانانو ضرورتونه او مصروفیتونه هم زیات شوي دي. پروني انسان چې ډېر وزګار وختونه او فرصتونه یې لرل، نو شپې شپې به یې د مینې او محبت په رومانې کیسو او دجنګونو او ننګونو په حماسي کیسو سبا کولې او یا به یې د ښاپېریانو او دیوانو خیالي او موهومي اوږدې اوږدې کیسې لوستلې او اورېدلې له دغو کیسو څخه به یې خوندونه، پندونه او انتباه اخیستله او هم به یې د کیسې اورېدنې تنده پرې خړوبوله.

خو د اوسنۍ زمانې انسان د ژوندانه په بهیر کې د ډېرو بوختیاوو له امله دا کار نشي کولای، نو څرنګه چې د کیسو یا پېښو اورېدنه او ځان خبرونه، لوستنه او ځان پرې پوهونه د انسان د ذهن فطري غوښتنه ده، له همدې امله د وخت په تېرېدو او د حالاتو په بدلېدو هغو اوږدو اوږدو کیسو او د استانونو د اوسنۍ لنډې کیسې بڼه خپله کړه. څرنګه چې اوس لنډه کیسه د خلکو ډېره خوښېږي، یو ډېر ستر لامل یې د وخت د ضایع کېدو مخنیوی او سپما ده.

دغه ډول کیسې لوستونکی یا اورېدونکی په لږ وخت کې لوستلای یا اورېدلای شي او ورځخه دخوند، پند او انتباه دنده په ډېره آسانه او اغېزناکه توګه تر سره کېدلای شي.

په اوسني معاصر مفهوم د لنډې کیسې لیکنې پیلامه د نولسمې پېړۍ په لومړیو دوو لسیزو کې په اروپا کې پیل شوې او بیا نورې نړۍ ته د یوې اغېزناکې لیکنۍ لارې په توګه خپره شوې ده.

لنډه کیسه پښتو ادب ته د لیکنې د یوه ډول په توګه د شلمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې راغلې ده. لومړنی پښتون لیکوال چې د لنډې کیسې پرلیکنه یې خپل قلمي ځواک آزمویلی، سید راحت زاخیلی دی چې په ۱۹۱۷ میلادي کال یې د ((کونډه نجلی)) په نوم لومړنۍ پښتو لنډه کیسه لیکلې او چاپ کړې ده.

په پښتونخوا کې له سید راحت زاخیلي څخه وروسته، ځینو نورو لیکوالو هم د نثري ادب دې ډول ته مخه کړې او غوره لنډې کیسې یې لیکلي دي چې په هغو کې د میا آزاد ګل په ۱۹۲۶م. کال کې لیکلې کیسه ((د مړي پیغام)) د بد رښو د سر بلند خان د ((نواب صاحب آشنایي)) یادولای شو. لنډې کیسې په همدغو وختونو کې لیکل شوې او خپرې شوې دي. همدارنګه په دغې دورې کې د سید رسول رسا، حمزه شینواري. ایس ای رحمان کاکاخېل، مفلس درانې، ادیب سرحدي او نورو نومونه دیادونې وړ دي چې د پښتونخوا په افغان، پښتون، اسلم او نورو مجلو او اخبارونو کې یې ډېرې غوره او معیاري لنډې کیسې چاپ شوي دي. په را وروسته کلونو کې د لنډې کیسې لیکنې په پښتونخوا کې ډېره وده او پرمختیا موندلې، په خپرونو کې د لنډې کیسې په خپرېدو سربېره لیکوالو د لنډو کیسو ډېرې ټولګې هم چاپ کړي دي. په افغانستان کې د پښتونخوا په پرتله د لنډې کیسې لیکنه وروسته دود شوې ده. لومړنی پښتون لیکوال چې په افغانستان کې یې لنډه کیسه لیکلې، پوهاند عبدالحی حبیبي دی. نوموړي لومړنۍ پښتو لنډه کیسه د ((توریالی پښتنه)) په نوم لیکلې او پر ۱۳۱۵ لمریز کال په طلوع افغان کې خپره شوې ده.

وروسته بیا ځینو نور ولیکوالو هم د لنډو کیسو په لیکنه خپل قلمي ځواک آزمویلی چې په هغو کې د استاد ګل پاچا الفت، سراج الدین سعید، قیام الدین خادم، عبدالقدوس پرهېز، غلام محی الدین زرملوال، عبدالرؤوف بېنوا او د نورو نومونه د یادونې وړ دی. د هغه وخت په موقوته خپرونو کې د دغو لیکوالو د لنډو کیسو غوره بېلګې چاپ شوي دي.

زموږ په هېواد کې له ۱۳۲۰ لمریز کال راهیسې د لنډې کیسې لیکنې په برخه کې بنسټیز کار پیل شوی، ډېر پیاوړي لیکوال رامنځته شوي او په خپرونو کې په چاپ شویو لنډو کیسو سربېره یې د لنډو کیسو ټولګې هم چاپ کړي دي. د میراجان سیال ((د پښتونخوا افسانې)) او د موسٰی شفیق ((عبقریان)) نومونه د یادونې وړ دي چې د لنډو کیسو ډېرې غوره بېلګې لري. د روانې پېړۍ په پنځمې لسیزې کې د لنډې کیسې لیکنې ډېره وده او پرمختیا موندلې ده او پیاوړي لیکلوال په کې رامنځته شوي دي.

د لنډو کیسو په چاپ شوو ټولګو کې د ((سره غالۍ))، ((شاړې کوڅې))، ((ګیلې))، ((تانده غوټۍ))، ((موسکا))، ((د څپو په وزرونو))، ((سبا به بیا کډې بارېږي))، ((تیارې لارې رڼې کرښې))، د ((ارمانونو ځولۍ)) او نورې د بېلګو په توګو یادولای شو.

اوس په پښتو نخوا او افغانستان کې د لنډې کیسې لیکنې ډېره وده او پرمختیا موندلې او دا بهیر ښه ګړندی روان دی، ډېر لیکوال رامیدان ته شوي او په سلګونو ټولګې چې د لنډو کیسو ډېرې غوره بېلګې په کې خوندي دي، چاپ شوي. اوس لنډه کیسه د لیکنې پیاوړي لیکوال او د لوستنې ډېر مینه وال لري.

د متن لنډیز:

لنډه کیسه د اوسني معاصر نثري ادب یو په زړه پورې ادبي ډول (ژانر) دی.

هغې کیسې ته لنډه کیسه وایي چې لنډه وي او له نیم ساعت څخه تر دوو ساعتونو پورې ختمه شي. نورې ډېرې ځانګړنې هم لري.

لنډه کیسه په اوسني مفهوم په لوېدیځ کې د نولسمې پېړۍ پر لومړیو کې پیدا شوې او بیا له هغه ځایه د نړۍ نورو ژبو ته تللې ده.

پښتو ادب ته د شلمې پېړۍ په لومړیو دوو لسیزو کې راغلې او لومړنۍ پښتون لیکوال چې په دې ډګر کې یې خپل قلمي ځواک آزمویلی، سید راحت زاخیلی دی.

نوموړی د پښتونخوا په پېښور کې پر (۱۹۱۷م.) کال د کونډې نجلۍ په نامه لومړنۍ پښتو لنډه کیسه ولیکله او هغه مهال خپره شوه. په افغانستان کې لومړنی لیکوال چې پښتو لنډه کیسه یې لیکلې ارواښاد پوهاند عبدالحی حبیبي دی. د ((توریالۍ پښتنه)) په نامه یې لومړنۍ پښتو لنډه کیسه و لیکله او پر (۱۳۱۵) لمریز کال یې له کندهار نه په خپرېدونکي اخبار طلوع افغان کې خپره کړه. وروسته بیا لنډې کیسې لیکنې په پښتونخوا او افغانستان کې ښه وده او پرمختیا موندلې ده، ډېر لیکوال یې را پیدا شوي او ډېرې لنډې کیسې یې د وخت په خپرونو (اخبارونو او مجلو) او ځانګړو ټولګو کې چاپ شوي او دا بهیر اوس په پښتو ادب کې ښه ګړندی روان دی.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي، ستونزمنې کلمې او مفاهیم دې په نښه او له ښوونکي څخه دې دهغو ځوابونه وغواړي.

۲ــ ښوونکی دې لومړی ستونزمنې کلمې په خپله د زده کوونکو په وسیله معنا کړي او که هغوی یې نشي معنا کولای، په خپله دي هغه معنا کړي او د ځینو مفاهیمو په اړه دې لازمې څرګندونې وکړي.

۳ــ زده کوونکي دې په نوبت سره د متن یوه یوه برخه ولولي، دا لړۍ دې په ټولګي کې تر پایه تعقیب شي. د اړتیا پر مهال دې ښوونکی د متن په سمې لوستنې کې له زده کوونکو سره مرسته وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، يوه ډله په متن کې د راغلو کتابونو نومونه او بله ډله دې د اشخاصو يا ليکوالو نومونه په نښه کړي. د هرې ډلې استازی دې هغه خپل په نښه کړي د کتابونو يا اشخاصو نومونه پر تختې وليکي. ښوونکی دې تر ممکنې اندازې د کتابونو او ليکوالو په هکله زده کوونکو ته خرګندونې وکړي.

٥ـ ښوونکی دې د لنډې کيسې يوه بېلګه زده کوونکو ته ولولي، بيا دې هغوی وګوماري چې د يوې کيسې د ليکلو هڅه وکړي.

٦ـ ښوونکی دې د هغوی ليکلې کيسې وګوري او په اصلاح او سمون کې دې له زده کوونکو سره مرسته او لازمې لارښوونې وکړي.


٧ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست زده کړې ارزونه وشي:

- لنډه کيسه څه ډول کيسه ده؟
- لنډه کيسه ولې رامنځته شوه؟
- لنډه کيسه لومړی کله او چېرې رامنځته شوې ده ؟
- د پښتو د لنډې کيسې د پنځو ليکوالو نومونه واخلئ؟
- د پښتو د لنډو کيسو د پنځو ټولګو (مجموعو) نومونه واخلئ؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې کومه چاپ شوې پښتو لنډه کيسه پيدا او د کورنۍ دندې په توګه دې د هغې لنډيز په خپلو الفاظو وليکي او د پښتو لوست په راتلونکي ساعت کې دې هغه نورو ټولګيوالو ته ولولي.

ادبي ليکونه



ـ کله مو چا ته ليک ليکلی دی؟

ـ د ادبي ليک په معنا او مفهوم پوهېږئ؟

ـ ادبي ليک له عادي ليک سره څه توپير لري؟

ليک ليکنه يا مکاتبه د ليکوالۍ ډېره مهمه برخه ده. ليک ليکنه په ټولنيز ژوند کې ډېر ستر ارزښت او اهميت لري. ليکونه په دوه ډوله دي: يو عادي ليکونه چې وګړي يې په خپلو منځو کې د پوهونې، خبرونې او مقابل لوري ته د خپل پيغام رسونې لپاره ليږي. بل ډول ادبي ليکونه دي چې اديبان يې په ادبي ژبه ليکي، خپل پيغام پکې په خوږه ادبي هنري ژبه رانغاړي او مقابل لوري ته يې ورليږي. په دې لوست کې دغه ډول ادبي ليکونه او د هغو ډولونه درپېژنو.

د ادبي ليکونو په هکله له څه ويلو د مخه دا ضروري ده چې لومړی په عامه توګه ليک در وپېژندل شي.

ليک يا خط د وضعه شوو رسمونو يوه ټولګه او مجموعه ده. دا رسمونه وګړي په ټولنه کې په قراردادي او اتفاقي ډول د يوې ژبې د غږونو، وينا او افکارو د ليکلو او ثبتولو لپاره کاروي. ليک ليکنه يا مکاتبه د ليکوالۍ له ډېرو مهمو ډولونو څخه ده. د ليکنې دا ډول په ټولنه کې ډېر ارزښت او اهميت لري.

ليکونه په دوه ډوله دي: يو يې عادي ليکونه دي چې په شخصي او رسمي ليکونو وېشل کېږي او بل يې ادبي ليکونه دي چې دلته يې درپېژنو.

د ادبي ليکونو د پېژندنې په لړ کې ويل کېږي: دا هغه ليکونه دي چې ليکوال پکې ټولنيز، سياسي، تاريخي، اخلاقي، انتقادي، انتباهي اونور ډول ډول مسايل په ډېره ښکلې ادبي ژبه مقابل لوري ته وړاندې کوي.

له عادي ليکونو څخه د ادبي ليکونو ډېر ستر توپير دا دی چې په دې ډول ليکونو کې د ليکنې ژبه ادبي وي، هنري رنګ او بڼه لري. په ادبی ليکونو کې ادبي ژبه کارول شوې وي. په دې ليکونو کې د روحي حالت او عواطفو له بيا نولو څخه نيولې، تر هر ډول علمي، ادبي، تاريخي او نورو هر راز مسايلو پورې مطرح کېږي. دا د ادبي ليک د ليکوال په ژبنې هنر، ذوق، ژور درک، ذهانت او د ظرافت په اندازې پورې اړه لري چې ښکلي او په زړه پورې ليکونه تخليق کړي. ليکوال چې هر څه ليکي او مقابل لوري ته يې لېږدول غواړي، ژبه يې ادبي، هنري او د تخيل رنګ پرې ډېر غالب وي. د شعر په څېر له استعارو، کنايو، تشبيهاتو او نورو ډول ډول ادبي صنعتونو څخه پکې کار اخلي. ژبه يې خوږه، رنګينه او دومره په زړه پورې وي چې د لوستونکي ادبي تنده ماتوي او له لوستنې څخه يې ډېر خوند اخلي.

ادبي ليکونه دوه ډولونه لري:

۱ـ هغه ادبي ليکونه دي چې په عامه توګه د ادیبانو (ليکوالو او شاعرانو) ترمنځ تبادله کېږي. موږ يې په پښتو ادب کې ډېرې ښلګې لرو. ښه او غوره يې د اروښاد پوهاند رښتين ((ادبي ليکونه)) او د مولانا عبدالقادر ((خطونه)) نومي آثارو چاپ شوې ټولګې او همدارنګه په نورو چاپي خپرونو (مجلواو اخبارونو) کې چاپ شوي ادبي ليکونه دي چې معلومو ليکوالو، هنروالو، سياستوالو او ادبپوهانو خپلو دوستانو او ارادتمندانو ته ليکلي دي. ليکوال او مخاطبين يې دواړه معلوم دي.

۲ـ هغه ادبي ليکونه دي چې ټاکلي مخاطبين نه لري او د يوه فرضي مخاطب په نوم ليکل کېږي. د دې ډول ادبي ليکونو قالب ليکوال ته د خپلو افکارو د څرګندولو يوه بهانه ده چې ددغه ډول ليک په وسيله خلکو ته خپل اندونه او نظريات په خوږه او رنګينه ادبي ژبه بيانوي. ددې ډول ليکونو د ليکنې لاره داسې ده چې ليکوال له څوکلمو يادوو درو لنډو جملو وروسته چې خپل فرضي مخاطب ته يې وړاندې کوي، هغه موضوع چې په پام کې يې لري، تعقيبوي او تر پايه يې بيانوي. په پښتو ادب کې د دې ډول ادبي ليکونو ډېرې غوره بيلګې د عبدالرؤوف بښوا ((د زړه خواله))، د روغ لېوني ((بي بي نوره)) او د اجمل خټک ((کچکول)) نومي چاپ شوو اثرونو کې خوندي دي.

ادبي ليکونه د پښتو منثور ادب يو ډېر په زړه پورې ادبي ډول دی، ډېر ليکوال اود لوستلو مينه وال لري. مقصد او موخه يې د ټولنې د اصطلاح او سمون لپاره د خلکو وېښول او د دې ډول ليکونو په وسيله خلکو ته آسانه خپل پيغام رسول دي. دغه ډول ليکنې د ودې او د پرمختيا په حال کې دي او ليکوال پکې خپلې پراخې تجربې کوي. د ليکنې دا ډول ليکوالو ته دا واک او ځواک ورکوي چې خپلې هيلې، ارمانونه او پېغامونه په خوږه رنګينه ادبي ژبه را ونغاړي، خپلو مخاطبينو ته يې وړاندې کړي او هغوی ته په ښه او ژر پوهېدنه کې ډېر اغېزناک واقع شي.

د متن لنډيز:

ليکونه په عامه توګه په دوه ډوله دي: عادي ليکونه او ادبي ليکونه. ادبي ليکونه هغه ليکونه دي چې ليکوال پکې ټولنيز، تاريخي، سياسي، اخلاقي، انتباهي، عاطفي او نور ډول ډول مسايل په ډېره ښکلې ادبي ژبه نورو ته وړاندې کوي. هغه مهمه ځانګړنه چې ادبي ليکونه له نورو عادي ليکونو څخه رابېلوي، ادبي او هنري ارزښتونه دي.

ادبي ليکونه دوه ډوله دي: يو هغه ادبي ليکونه دي چې ادیبان (ليکوال او شاعران) يې په خپلو منځو کې يو بل ته ليکي، ژبه يې ادبي، خوندوره، په زړه پورې او په ادبي صنايعو پسوللې وي.

بل هغه ادبي ليکونه دي چې ادیب يې د يوه فرضي مخاطب په نوم ليکي، ژبه يې ادبی او ډول ډول مسايل پکې خپل فرضي مخاطب ته ليکي، خو هدف يې نوره ټولنه او خلک وي. د ليکونو دواړو ډولونو په پښتو ژبه او ادب کې مناسبه وده او پرمختيا موندلې ده.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي، ستونزمنې کلمې او مفاهيم دې په نښه او له خپل ښوونکي څخه دې د هغو ځواب وغواړي.

۲ـ ښوونکی دې د زده کوونکو ستونزمنې کلمې په خپله د زده کوونکو په وسيله ځواب او که هغو يې نشي ځوابولای، په خپله دې هغه معنا او لازمې څرګندونې دې وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې په ترتيب او نوبت سره د متن يوه يوه برخه ولولي. ښوونکی دې د اړتيا پر مهال په سمون کې ورسره مرسته وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې وګومارل شي چې يو ځل بيا ټول متن په غور او دقت سره ولولي او په

هغه کې آدات يا ويکي په نښه کړي.

۵ـ ښوونکی دې د زده کوونکو په نښه کړو ويکو (اداتو) څخه توحيدي ليست ترتيب او هغه دې پر تختې وليکي. زده کوونکي دې هغه په خپلو کتابچو کې وليکي.

ادات: هغه نا خپلواکه کلمې دي چې په ځانګړې توګه کومه معنا او مفهوم نه لري، خو کله چې له نورو خپلواکو کلمو سره په جملو کې يو ځای شي، نو بيا معنا ورکوي. ادات د جملو په جوړښت کې اساسي ونډه لري او له هغو پرته جملې نه جوړيږي. ادات دا لاندې ډولونه لري:

(۱) ارتباطي ادات؛ لکه: هسې، که څه هم او داسې نور.

(۲) د عطف ادات؛ لکه: او، که، يا اونور.

(۳) د اضافت ادات، لکه: (د) د احمد قلم.

(٤) تشبيهي ادات، لکه: غوندې، په څېر، په دود، په توګه او نور.

٦ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- ليک څه شی دی؟
- ليک په څو ډوله دی؟
- عادي ليک او ادبي ليک څه توپير لري؟
- د ادبي ليکونو د دوو چاپ شوو مجموعو نومونه واخلئ.
- د ادبي ليکونو د دوو ليکوالو نومونه واخلئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه په خپله د يوه ادبي ليک ښېلګه وليکي او يا دې د کوم بل ليکوال ادبي ليک وليکي او په راتلونکی پښتو درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګيوالو ته ولولي.

د ادبي ليک بڼلګه

ښاغلی فاضل رښتين صاحب!
خدای دې روغ جوړ لره!

موږ له ډېر وخت نه په دعاګانو آموخته شوي يو او په مکتوبونو کې هم راځخه اول ځل دعا خولې ته راځي. دا زموږ زوړ عادت دی، مګر دومره ښه ده چې زه دغه شان دعاګانې هغه چا ته کوم چې د هغوی صحت او حيات د پښتو له پاره مفيد وي او يو کار پرې جوړ وي.

له دې خوا خير خيريت دی او تر اوسه ژوندي پاتې يو، مګر ډېر غاښونه راته چيچل کېږي. کومه اجتماعي فايده چې زموږ په نظر کې ده، هغه لاس ته نه راځي اوخلک ويده دي. مګر هغه کسان چې زموږ خبرې د ځان لپاره ښې نه ګڼي، ويښ دي او په زړه کې يې راته اچوي. کاشکې د دغه نفرت او حسادت په غرض کې د څه اجتماعي مفاد امېد هم وای.

په هر صورت، موږ اوس ماليخوليا مجبور کړي يو چې څه په زړه کې لرو، هغه ښکاره کړو او خپل هغه مسؤوليت چې د نن ورځې تفتيشونه يې پوښتنه کوي او زموږ په ژوند يې څوک پاڼه نه اړوي، تر يوه حده رفع کړو. مګر ګورو چې دا کار تر کله کولای شو. هغه څه چې يو رياست يې مقابله نه شي کولای، يو مديريت به يې څنګه وکړي. زه اوس له ډېرو مشکلاتو سره مواجه يم او که رښتيا ووايم، نو د نورو مطبوعاتو په تناسب لږ غوندې افراطي شوي يو.

خير دی، دا قصه به پرېږدو او تا ته به عرض وکړو چې ((اتحاد مشرقي)) خو ستاسې ملګرو په قلمي مرسته يو څه قدر ژوندی شوی و. يو زه خو هېڅ نشم کولای او نه زما له لاسه څه کېږي. که په دې وختو کې د ښاغلي خادم صاحب مرسته له موږ سره نه وای، نو اخبار خو به د پخوانيو مهمو ليکوالو له آثارو ببخي محروم شوی و، ځکه چې ستا له خوا هېڅ رانغله، د تېرو ورځو لپاره خو ته قوي ځواب لرې چې يو ډېر مهم کار در په غاړه و. اوس چې په خير کابل ته راغلې، ولې دې اتحاد مشرقي هېر کړی دی؟

رښتين صاحب! په مشرقي کې د ډېرو خلکو مينه او محبت ستاسې په نسبت وينم او ستا غوره مضامينو او آثارو ته دلته تلوسه او تنده موجوده ده. ((اتحاد مشرقي)) ستا له قلمي ملګرتيا ډېره استفاده کړې ده او همېشه مو ستاسې لور ته انتظار او سترګې وې، نو موږ مه هېروه او د دې ځای علاقمندان خوشحاله ساته.

ګل پاچا الفت
جلال آباد
(۱۳۲۶ هـ.ش. کال)

يادښت: دا ادبي ليک اروابنا د استاد ګل پاچا الفت هغه مهال له جلال آباد (ننګرهار) څخه د صديق الله رښتين په نوم کابل ته لېږلی و چې دی د اتحاد مشرقي مسؤول مدير او هغه د پښتو ټولنې مشر و.



سيند

(ادبي هنري نثر)

ـ تاسې څو ډوله نثرونه پېژنئ؟

ـ د ادبي نثر نوم مو اورېدلی؟

ـ کوم ادبي نثر مو لوستی دی؟

ـ ادبي نثر له عادي نثر سره څه توپير لري؟

اوسني نثرونه د بڼې له مخې په دوو سترو ډولونو وېشل کېږي: ساده يا عادي نثرونه او ادبي يا هنري نثرونه.

هنري ادبي نثرونه خپلې ځانګړنې لري. د همدغو ځانګړنو په لرلو سره له ساده نثرونو څخه بېلېږي. په دغو ځانګړنو کې تر ټولو ستره او مهمه ځانګړنه هنري او ادبي ارزښت دی. هنري ادبي نثرونه ډېر ډولونه لري چې ډېر مشهور يې لنډه کيسه، ناول او ادبی ټوټه اونور دي. دلته مو په دې لوست کې د اروابنداد استاد الفت له غوره نثرونه څخه د ((سيند)) په نوم يوه ادبي ټوټه را خوښه کړې ده.

د وچو ډاګونو دښتو او مېرو له څنګه لوی سیند بهېږي، مګر دغې وچې بېدیا ته اوبه نه ورکوي.

په دغسې وچکالۍ کې چې په اوبو باندې سر ماتېږي، سیند لکه شوم بخیل په شتاب درومي او زمور تندې ته نه ګوري.

کله چې سیند په څپو راشي، آباد پټي هم له ځانه سره یوسي.

همدغه سیند له مور نه هغه بل خوا بل راز روان دی او له نورو سره یې رویه بل راز ده.

هلته دغسې ورانی نه کوي، دومره بخل نه لري. دغه راز بې رحمي پکې نشته.

هلته د سیند په غاړه زرشویان له شګونه زر راباسي، ماهي ګران پکې په خروارونو کبان نیسي او ښکاریان یې په لوی او ستر ډنډ کې هیلۍ ولي. هلته له سیند نه ډېرې لویې او سترې وبالې بېلې شوې دي.

ډېر لوی لوی ډاګونه له اوبو لاندې شوې، کلي او ښارونه آباد شول، شارې ځمکې په ثمر راغلې، د غلو او مېوو پکې څه کمی نشته.

هلته د سیند په مخکې لوی لوی بندونه جور شول، د برېښنا ماشینونه ودرېدل، فابریکې او کارخانې په کار ولوېدې، خلک آباد او ماړه شول.

دا سیند ولې دلته دغسې او هلته هغسې دی.

مور ته په قهر دی او پر هغوی پېرزوینه لري. دلته ډېر توند او په خېزو روان دی، هلته غلی او آرام بهېږي. دلته کور وور، ځي او هلته مجرا بدلوي. هلته په خپله تاکلې لاره روان دی او بې لارې نه ځي.

په رښتیا چې سیند دلته ډېر ورانی کوي او هلته د یوه نظام او قانون تابع دی چې ورانې ته یې نه پرېږدي.

زمور ګناه د سیند پرغاړه ده!

سیند له مور نه ډېر څه وړي دي او ډېر یې رانه وژلي دي. دا سیند خوني سیند دی او له مور سره یې زړه دښمني ده. څو ځله یې زمور کورونه وران کړي او آباد پټي یې رانه په وارو وارو وړي دي.

زمونږ ټوله ګناه د سيند په غاړه ده!

سيند زورور دی او پر مونږ باندې هر وخت ظلم او تېری کوي.

آه! مونږ څومره ناپوه يوچې دغه راز فکر کوو او په خپله ګناه نه پوهېږو. مونږ خپله ګناه د سيند په غاړه اچوو.

د سيند په غاړه خو مونږ پراته يو، په رښتيا چې دا زمونږ ګناه ده، د سيند نه ده.

سيند له چا سره د ښمنۍ نه لري.

سيند هر تږي ته اوبه ورکوي او د هر چا خيرنې جامې پاکوي.

سيند پوخ کار غواړي او پاخه بندونه ورته په کار دي.

که زمونږ کار پوخ وای او زمونږ بندونه پاخه وای، زمونږ ويالې نه وچېدې او زمونږ پټې اوبو نه وړل.

مونږ د سيند په بندوبست پوه نه شو او له سيند نه موکار وانخيست.

دا سيند د ژوند او حيات سيند دی.

په ده کې د ورانۍ او ودانۍ دواړه قوتونه موجود دي.

سيند د هر چا ظرف او استعداد ته ګوري، هغومره اوبه ورکوي.

د منګي خاوند او د منګوټي خاوند ته سيند برابره برخه نه ورکوي او نه وړو لښتيو ته د ويالو په اندازه څه ورکولی شي.

سيند د هر چا کار ته ګوري او هغسې ورسره کوي، يعنې خام بندونه ورانوي او پاخه بند ته ځان تسليموي.

هغه څوک چې د ژوندانه سيند په خپل سر پرېږدي او يوه معينه مجراء ورته نشي ټاکلی، له ژوند نه استفاده نشي کولی.

(ګل پاچا الفت ـ غوره نثرونه)

گل پاچا الفت:

د میرسیدجان پاچا زوی و. په (۱۲۸۷) لمریز کال د لغمان د عزیزخان کځ په سیمې کې زېږیدلی و. د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال، شاعر، علمي او فرهنګي شخصیت تېر شوی. کلونه کلونه یې د هېواد په علمي فرهنګي ادارو کې د علمي غړي، لیکوال، مدیر او لوی رئیس او د کابل پوهنتون د ادبیاتو، حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځیو د استاد په توګه دنده سرته رسولې ده. څو دورې یې په ملی شورا کې د ننګرهار او لغمان د خلکو د ټاکل شوي استازي او وکیل په توګه هم کار کړی دی.

پر (۱۳۵۶) لمریز کال د لیندۍ د میاشتې په (۲۶مه) نېټه په کابل کې مړ شو او د لغمان د عزیزخان کځ په هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی. د ګل پاچا الفت په مطبوعاتو کې په سلګونو مقالو سربېره په لسګونو ځانګړي علمي، ادبي منظوم او منثور کتابونه هم چاپ شوي دي. د بېلګې په توګه یې غوره نثرونه، غوره شعرونه، لیکوالي، پښتو سندرې، لوړ خیالونه او ژور فکرونه او ادبي بحثونه یادوو.

د متن لنډیز:

لیکوال په دې ادبي ټوټه کې په ډېره خوږه ادبي ژبه د یوه لوی سیند یادونه کوي چې زموږ د هېواد او یوه بل ګاونډي هېواد تر منځ بهېږي، خو موږ ورځخه د خپلې بې علمۍ او بې کارۍ له امله هېڅ ګټه نشو اخیستلای، ځمکې مو شاړې او سپېرې پرتې دي. کال په کال چې سیند تونانې کېږي، نو زموږ خواته ډېرې ځمکې او کورونه وړي، خو په هغه بله خوا کې خلکوته د هغوی د کار او زیار په نتیجه کې ډېر ګټور واقع شوی. د اوبو او برښنا بندونه یې پرې جوړ کړل، ځمکې یې پرې خړوبې کړې او د ودانۍ او سمسورتیا لامل ګرځېدلی دی.

وروسته بیا لیکوال همدغه سیند له انساني ژوند سره تشبیه کوي او دا وایي چې ژوند یو الهي نعمت دی، دا په خلکو پورې اړه لري چې له دغه نعمت څخه څه ډول استفاده کوي. په ښو چارو کې یې تېروي، که په بدو او ناوړو چارو کې.

فعالیتونه

۱ـ ښوونکی دې متن ولولي، اصلي معنا او مفهوم دې زده کوونکو ته ووایي. ستونزمنې کلمې دې له معنا سره پر تختې ولیکي.

۲ـ زده کوونکي دې تختې ته وروبولي چې پر تختې لیکل شوې کلمې په مناسبو جملو کې وکاروي، ښوونکی دې د اړتیا پرمهال ورسره مرسته وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن یو یو پرګراف نورو ټولګیوالو ته ولولي. ښوونکی دې د اړتیا پر مهال ورسره مرسته وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې په درو ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې په متن کې د عربي کلمې، بله دې دري کلمې او دریمه ډله دې سوچه پښتو کلمې په نښه کړي. د هرې ډلې استازی دې د خپلې ډلې په نښه کړې کلمې پر تختې ولیکي.

۵ـ ښوونکی دې زده کوونکي په نوبت سره تختې ته ور وبولي چې هغه په نښه کړې عربي، دري او پښتو کلمې معنا کړي. ښوونکی دې د اړتیا پر مهال ورسره مرسته وکړي. زده کوونکي دې هغه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

٦ـ زده کوونکي دې وګومارل شي چې متن یو ځل بیا په ډېر غور ولولي او په هغه کې راغلي ادات دې په نښه کړي. یو یو دې خپل په نښه کړي ادات ووایي، ښوونکی دې له هغو څخه یو ګډ لست جوړ او پر تختې دې یې ولیکي.

۷ـ زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته وروبلل شي چې د دې متن مفهوم په لنډو عبارتونو نورو ټولګیوالو ته ووایي.

۸ـ په لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:


- سیند ولې یوه خوا وړله او هغې بلې خوا ته یې زیان نه شو اړولی؟
- ولې د سیند یوې خوا ته ځمکې شاړې او دښتې پرتې او پر هغه بله خوا یې باغونه او سمسورې کروندې وې؟
- آیا خلک پر حقه وو چې له سیند څخه ګیله وکړي چې دوی ته زیان رسوي؟
- مور ځنګه کولای شو د خپل هېواد له سیندونو څخه ګټه واخلو؟
- د سیندونو مهار کېدل امکان لري؟
- د سیند له اوبو څخه په کومو برخو کې کار اخیستلای شو؟
- لیکوال د انسان ژوند له سیند سره تشبیه کړی دی، د شباهت وجه یې څه ده؟
- له ژوند څخه باید څه ډول ګټه واخلو؟
- که څوک د ژوندانه بهیر د سیند د اوبو په څېر په خپل سر پرېږدي، څه ډول پایلې به ولري؟
- له دې لوست څخه مو څه پند او انتباه واخیسته؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د کوم لیکوال دغه ډول د ادبي نثر بېلګه او یا دې په خپله یو ادبي نثر ولیکي او هغه دې د پښتو لوست په راتلونکي ساعت کې نورو ټولګیوالو ته ولولي.

محاوره

«د انګليسي ژبې د زده کړې د کورسونو په هکله خبرې اترې»



ـ تاسې له پښتو او دري پرته په نورو کومو ژبو پوهېرئ؟

ـ په کومه بهرنۍ ژبې خبرې اترې او لیکل کولای شئ؟

ـ د بهرنیو ژبو زده کړه څه ګټه لري؟

وایي، که څوک په یوه ژبه وپوهېږي، یو تن دی، که په دوو وپوهېږي، دوه تنه او که په درو وپوهېږي، درې تنه دي. همدغسې چې یو څوک هر څومره په ډېرو ژبو وپوهېږي په هماغه اندازه یې د پوهې کچه لوړه او شخصیت یې په علمي او ټولنیز لحاظ له اهمیت څخه برخمن کېږي.

په دې لوست کې مو درته د ژبې د زده کړې او په کورسونو کې د شمولیت په اړه یوه محاوره ترتیب کړې ده. دا په پښتو ژبه کې ستاسې د خبرواترو کولو څواک هم پیاوړی کوي او هم د نوو کلماتو له زده کړې سره سره په کورسونو کې د شمولیت خبرې اترې در زده کوي.

جمال: او هو میونده، اوس خو ښوونځي ته د تګ وخت هم نه دی، چېرته روان یې چې کتابونه دې په لاس کې دي؟

میوند: جماله، ستړی مه شې!

جمال: خوار مه شې.

میوند: دا د ښوونځي کتابونه نه دي، د انګلیسي ژبې د زده کړې کورس ته ورځم، انګلیسي زده کوم.

جمال: زه خووایم چې څنګه دې داسې بې وخته کتابونه در سره اخیستي او روان یې.

میوند: کورسونه خو د ښوونځي په وخت کي نه وي، سهار او مازدیګر وي، ته هم کولای شې کورس ووایې.

جمال: پرېږده بابا، د ښوونځي کتابونه دې چېرته سم یاد کړل چې اوس لا نورې ژبې زده کوې.

میوند: و ساده ګله! خو په ښوونځي کې هم راته نورې ژبې وایي، دا هم د ښوونځي مضمونونه دي کنه.

جمال: خو بس دی، همالته ښوونځي کې یې زده کوو کنه، نور ورته څه حاجت دی.

میوند: ستا خبره سمه ده، په ښوونځي کې یې هم لولو، خو که په کورس کې یې زده کړو، نو ښه به مو زده شي، بیا به د ښوونځي تر پایه پورې د ژبو په زده کړه کې ستونزه ونه لرو.

جمال: میونده! ستا هم ډېرې یادې دي، سر ورپسې مه خوږ وه!

میوند: نه، نه جمال جانه! دا خبره به نه کوې، د هرې بهرنۍ ژبې زده کول ډېره ګټه لري.

جمال: ښه چې زده یې کړو، نو څه ګټه لري؟

میوند: ګټه خو یې داده چې یو خو به دې یوه بهرنۍ ژبه زده کړې وي، د هماغې ژبې له وبونکي سره به پرې خبرې کوې او هم به په هماغه ژبه کې مطالعه کوې.

جمال: نو انګلیسي خو د ټولې دنیا د خلکو ژبه نه ده کنه؟

میوند: ستا خبره سمه ده، انګلیسي د ټولې دنیا د خلکو ژبه نه ده، خو نن سبا په ټوله دنیا کې ډېر خلک په انګلیسي پوهېږي.

جمال: نو انګليسي دومره اهميت پيدا کړی چې د ټولې دنيا ډېر خلک پرې پوهېږي.

ميوند: هو بالکل همدغسې ده، انګليسي نن سبا د علم ژبه ده، په انګليسی ژبه کې د ټولو علومو په اړه پوهانو کتابونه ليکلي دي، نو هر څوک چې په هره برخه کې معلوماتو ته اړتيا ولري، په انګليسي کتابونو کې يې پيدا کولای شي.

جمال: لکه څه ډول معلومات، ته خو لږ معلومات راکړه.

ميوند: ښه راته غوږ شه: لکه د ساينس، کمپيوټر، جغرافيې، تاريخ، اروا‌پوهنې، انجينری، طب، ژورناليزم، ادبيات، ... . څه به درته ووايم خلک وايي چې د هرڅه په اړه په انګليسي ژبه کې معلومات شته.

جمال: يا‌ره ميونده رښتيا دې وويل، چې دومره معلومات په انګليسي ژبه کې شته، دا خو په رښتيا چې يا دول يې ضروري خبره ده.

ميوند: جمال جانه! د انګليسي او نورو بهرنيو ژبو زده کول بله داګټه هم لري چې له هماغه ژبو څخه د هر ډول علومو کتابونه خلک خپلو ژبو ته را ژباړلای شي.

جمال: يعنې چې که موږ انګليسي زده کړو، خپلې پښتو ژبې ته به ډېر کتابونه را ترجمه کړو.

ميوند: بالکل چې له دې کار سره به زموږ په ژبه کې خلکو ته علمي معلومات ډېر شي اوله بل لوري به مو خپلې ژبې او خلکو ته خدمت کړی وي.

جمال: په رښتيا چې د نورو ژبو زده کول ډېر ګټور کار دی.

ميوند:جماله! بله خبره داده چې نن سبا خو د دنيا په پوهنتونونو کې زده کړې هم په انګليسي ژبه دي. که انګليسي مو زده وي، هلته به مو ډېرې ستونزې حل وي.

جمال: ميونده: ما اورېدلي چې نن سبا کمپيوټر او نور تخنيکي وسايل ټول په انګليسي ژبه دي، نو که په کوم دفتر کې کار کوو، حتماً مو بايد کمپيوټر زده وي او ورسره انګليسي ژبه چې په کمپيوټر باندې وپوهېږو.

ميوند: بالکل همدغسې ده، ما همدغه خبرې په پام کې ونيولې. زه ورغلم چې په کورس

کې ځان شامل کړم.

جمال: زه هم غواړم د انګلیسي ژبې کورس ووایم، خو ښه نه پوهیږم چې څنګه ځان شامل کړم.

میوند: د ا خو آسانه خبره ده، د کورس اداري ته به ورشو، د کورس مدیر به دې شامل کړي.

جمال: بس همدومره خبره ده؟

میوند: نه، کورس به درنه د درس ویلو په مقابل کې یوه اندازه پیسې واخلي، نوم به دې په حاضري کې ولیکي او شامل به شې له خیره.

جمال: ښه سمه ده، پیسې هم را سره تیارې په جیب کې شته، خو زه او ته به په یوه ټولګي کې درس وایو.

میوند: نه نه، جماله، ته له ما سره په یوه ټولګي کې درس نه شي ویلای.

جمال: ولې؟ ته نه غواړې چې زه له تا سره په یوه ټولګي کې درس واویم؟

میوند: نه، نه دا خبره نه ده، ته باید په کورس کې انګلیسي له لومړي ټولګي نه شروع کړې چې سمه دې زده شي. ما خو مخکې شروع کړې ده.

جمال: خو سمه ده، له اول ټولګي نه یې شروع کوم، تا به هم همدغسې کړي وي کنه....

میوند: هو ما هم له لومړي ټولګي نه پیل کړه، زه اوس په دویم کتاب یا دویم ټولګي کې یم، نو ځکه مې تاته وویل چې ته له ما سره په یوه ټولګي کې درس نه شې ویلای.

جمال: ښه ښه اوس وپوهیدم، یعنې چې ته مخکې یې.

میوند: هو بالکل همدغسې ده، زما پنځمه شپږمه میاشت ده، په دې کورس کې.

جمال: سمه ده، هیڅ خبره نه ده، زه به په لومړي ټولګي کې ځان شامل کړم.

میوند: راځه نو چې اوس د کورس اداري ته ورشو، چې مدیر صاحب دې شامل کړي.

جمال: (په خوښۍ) درځه چې ورشو.

د متن لنډیز:

د ژبې د زده کړې مهارتونه څلور دي: اورېدل، خبرې کول، لوستل او لیکل، خبرې اترې د ژبې د زده کړې یو مهم مهارت دی چې د دې مهارت په عملي کولو سره د خبرو کولو ځواک غښتلی کېږي او د لغاتو زېرمه زیاتېږي. زده کوونکو ته په کار ده چې له خپلو ټولګیوالو سره تل خبرې اترې وکړي.

په خبرو کې پر خپلو تېروتنو ونه شرمېږي او یو د بل تېروتنه اصلاح کړي.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي. ستونزمن لغات دې په نښه او له ښوونکي دې د هغو معنا وپوښتي.

۲ــ ښوونکی دې هغه ستونزمنې کلمې په خپله د زده کوونکو په مرسته او که هغوی یې نشي کولای په خپله دې حل کړي. زده کوونکي دې هغه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

۳ــ یو یو زده کوونکی دې د ټولګیوالو په وړاندې د یوې بهرنۍ ژبې د اهمیت او د دې په هکله چې دې به په خپله کومې بهرنۍ ژبې زده کوي، خبرې وکړي. ښوونکی دې د اړتیا پر مهال د هغوی د خبرو د سمون لپاره مرسته ورسره وکړي.

٤ــ دوه دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته وروبلل شي، یو دې د جمال او بل دې د میوند د خبرو تمثیل وکړي. دا لړۍ دې په ټول ټولګي کې پلې کړای شي.

۵ــ زده کوونکي دې په نوبت سره د ټولګي مخې ته ورشي او د لوست مفهوم دې په خپلو الفاظو نورو ټولګیوالو ته ووایي.

٦ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- د یوې بهرنۍ ژبې زده کړه څه ارزښت لري؟
- خبرې اترې د ژبې په زده کړه کې څه تاثیر لري؟
- د ژبې په زده کړه کې له خبرو اترو پرته زده کوونکي ته نور څه کول په کار دي؟
- د یوې بهرنۍ ژبې له زده کړې نه موږ کومې ګټې اخیستلای شو؟
- د یوې بهرنۍ ژبې زده کړه ستاسې د معلوماتو په زیاتوالي کې څرنګه او څه ډول ارزښت لري؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د کورنۍ دندې په توګه د بهرنۍ ژبې د زده کړې او اهمیت په هکله څو کرښې مقاله ولیکي او په راتلونکي درسي پښتو ساعت کې دې هغه نورو زده کوونکو ته ولولي.


چې دروغ تر خولې وباسي کله خوله ده
چې رښتیا تر خولې وباسي خوله هغه ده

× × ×

چې کردار دې له ګفتاره سره سم نه دی
تش ګفتار واړه په ځان باندې نفرین دی

((خوشحال خان ختک))

فکر او عمل



ـ څوک ويلای شي چې فکر څه ته وايي؟

ـ فکر او عمل څه اړيکې او رابطه سره لري؟

ـ د کړنې يا عمل لپاره فکر څومره ضروري دی؟

د فکر لغوي معنا ذهني بوختيا، هاند او هڅه ده. په اصطلاح کې د يوه څه د موندلو او پرې پوهېدلو لپاره د ذهني ځواک او قوت کارولو ته فکر وايي.

عمل کړنې يا د يوه کار او فعاليت سرته رسولو ته وايي.

د هرې چارې تر سره کولو لپاره لومړی پر هغې فکر کول ضروري دی او همدارنګه که فکر ته د عمل جامه وانه غوستل شي يا په عمل کې پلی نشي، ارزښت او اهميت نشي پيدا کولای.

په دې لوست کې مو د پوهاند استاد ربښتين يوه ادبي ليکنه د ((فکر او عمل)) تر سرليک لاندې خوښه کړې چې په ادبي ژبه د فکر او عمل د خپل منځيو اړيکو او د دواړو د پېژندنې په هکله ډېرې د پند او خوند خبرې لري.

څوک فکر کوي، مګر کار يې له لاسه نه کېږي.

ځينې په کار کولو کې تکړه وي، مګر د عمل په ډګر کې هېڅ نه وي.

ځينې د کار او عمل مېړني وي، مګر په سوچ او تدبير کې بې کاره وي.

چاته يوازې فکر کول ښه ښکاري او د چا په نظر کې د عمل او کار کولو صفت لويه ښېګڼه وي.

څوک خپل ډېر قېمتي وخت په سوچ او جاج تېروي او ځينې په پټه خوله په غښتليو لېچو له کار کولو څخه ډېر خوند اخلي.

چاته ډېر سوچ او فکر کول خوند ورکوي او څوک د کار کولو په زور د ژوندانه په سيند کې لامبو وهي.

څوک تش د هوا د باد پيمانه کوي او ځينې د حقيقت په تله کې د ژوند مرغلرې تلي.

څوک په خبرو اترو خپل بازار ګرمول غواړي او څوک د کار په ارزښتناکو مرغلرو د نړۍ بازار ښايسته کوي.

لنډه دا چې څوک د فکر ملګري او څوک د عمل مينان دي.

ليکن په واقعيت کې د انسان کامل والی په فکر او عمل دواړو پورې تړلی دی. د ژوندانه تله هله برابره او سمه درېږي چې دواړه پلې يې په تول کې يو رنګ وي. يعنې په يوه اندازه په يوه پله کې فکر او په بل کې عمل وي.

که چا د ژوندانه دغه مقياس او کچ مېچ په لاسو ونيو، يعنې هم يې فکر وکړ او هم يې د عمل جامه وږواغوسته، نو کاميابي د هغه پښې ښکلوي.

د کاميابۍ راز په فکر او عمل دواړو کې پروت وي. ښايي چې هر څوک په تېره بيا مشران د فکر او يا کولو او عمل تله په لاس کې ونيسي او د ژوندانه لوی او واړه کارونه پرې وتلي. د نړۍ ډېر نومياليِ کسان او د ملتونو او قومونو مشران د فکر او عمل په ګډه يو شان ښايسته وو. دوی هم فکر کاوه او هم يې د عمل لباس پر غاړه و.

فکر او عمل دوه غبرګوني ورونه دي. دواړه په شريکه د ژوندانه هر ډول دروند پېټی پورته کولای شي.

که له فکر سره عمل نه وي، نو تش تېکی ګڼل کېږي او که له عمل سره فکر نه وي، نو

د بې کاره او پڅې تورې مثال لري. فکر او عمل د انسانیت د تکمیل پخې او اساسي ستنې دي. فکر او عمل د الوتلو قوي وزرونه دي، فکر او عمل د سعادت او نېکمرغۍ پاخه او کلک بنسټونه (تهدابونه) دي.

فکر او عمل د نجات او ژغورنې قوي متې دي. بې فکره عمل اوکار بې نتیجې سترې او بې مطلبه لامبو ده او بې عمله فکر د خوب دنیا جوړول او خوشې دماغ سترې کول دي.

که څوک غواړي د ژوندانه له خوږو څخه خوند او لذت واخلي او نېکمرغي یې په برخه شي، ښایي چې هم فکر وکړي او هم خپل فکر ته د عمل جامه ور واغوندي. دغه ده په نړۍ کې د کامیابۍ ډېره غوره اوګټوره لاره!

(پوهاند ربښتین ـ د ژوند پلوشې)

پوهاند صدیق الله ربښتین په (۱۲۹۸) لمریز کال کې زېږېدلی او په (۱۳۷۷) لمریز کال کې مړ دی. د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال او ادیبوه و. کلونه یې د ((پښتو ټولنې)) د ریاست او مشرۍ چارې سرته رسولې، سربېره پردې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي استاد و. له دغې لارې یې د وطن د اولادونو په روزنې کې ستره ونډه تر سره کړې ده. په سلګونو مقالې یې د هېواد په مطبوعاتو کې خپرې شوي او تر (۷۰) زیات علمي، ادبي او معلوماتي کتابونه یې چاپ شوي دي. د ځینو نومونه یې دا دي: د پښتو ادب تاریخ، پښتو ګرامر، ژبدود، د ژوند پلوشې، د ښکلا پلوشې، پښتو نثر هنداره او پښتني لارښود.

د متن لنډیز:

فکر اوکار یا عمل کول دواړه یو له بله لازمي او ضروري دي. یوازې فکر او سوچ کول چې عمل ورسره نه وي، څه ګټه نه لري او همدارنګه بې فکره او بې هدفه کار هسې خپل ځان سترې کول دي، هېڅ ګټه نه لري. موږ باید فکر او عمل دواړه سره ملګري کړو، د هرې چارې د سرته رسولو لپاره لومړی ښه فکر وکړو او بیا هغه سرته ورسوو. د انسان د نېکمرغۍ او بریالیتوب راز په همدې کې نغښتی دی چې خپل هر کار په پوره فکر او تدبیر سره وکړي او هغه فکر ته د عمل جامه ورواغوندي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ښه په غور سره ولولي او په هغه کې دې هغه لغتونه او کلمې په نښه کړي چې په معنا یې نه پوهېږي.

۲ـ زده کوونکي دې په وار سره پاڅېږي او هغه ستونزمنې کلمې دې ووایي چې په نښه کړې یې دي، ښوونکی دې هغه پر زده کوونکو او یا په خپله معنا کړي.

۳ـ زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته ورشي او د متن مفهوم دې په خپلو الفاظو نورو ټولګیوالو ته ووایي.

په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې کچه وارزول شي:


- فکر کول څه ته وایي؟
- کار او عمل څه شی دی؟
- بې فکره کار څه زیانونه لري؟
- فکر کول او بیا کار کول څه ګټه لري؟
- خپل فکر ته څنګه د عمل جامه واغوندو؟

کورنۍ دنده

ښوونکی دې دا لاندې بیت زده کوونکو ته ورکړي چې د هغې د معنا او مفهوم په هکله لږ تر لږه پنځه کرښې په کور کې ولیکي او په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي:

بې له فکره چې څوک کار کړي خوشې زیار کړي
چې بې فکره کړي کارونه ځان به خوار کړي

د پاچا خان تعليمي لارښوونې



ـ د عبدالغفارخان، پاچا خان او فخر افغان په نوم څوک پېژنئ؟

ـ د هغه په اړه څه معلومات لرئ؟

عبدالغفار خان چې په پاچا خان مشهور او د ((فخر افغان)) په ویاړلي لقب لمانځل شوی، په پښتونخوا کې د پښتون ولس له نومیالیو ملي او سیاسي مشرانو څخه و. کلونه کلونه یې د خپل ولس د آزادۍ لپاره د انګرېزي ښکېلاک په وړاندې مبارزه کړې ده. د زندان ستونزې او جلا وطنۍ یې ګاللې دي.

په دې لوست کې به د نومورې ښوونیزې روز نیزې لارښوونې ولولو او پر هغو هلوځلو به یې بحث وکړو چې د خپل ولس د ښوونې او روزنې لپاره یې ترسره کړې دي.

عبدالغفار خان (پاچا خان) د پښتونخوا د پېښور د هشنغر د اتمانزو د سیمې د بهرام خان په کور کې هغه مهال (۱۸۹۰م.) سترګې نړۍ ته پرانیستې چې د هند پر لویه وچه او د پښتونخوا پر سیمو د انګرېزانو ښکېلاکي منګولې ښخې وې.

عبدالغفار خان د استعمار نادودې او زور زیاتی هم په خپلو سترګو لیده او د خپل ولس ځپلی حالت هم ورمعلوم و. هغه دا درک کړې وه چې ټولنه یې بیسواده او له لیک لوست نه بې برخې ده، ترڅو چې دوی د علم او پوهې په وسله سنبال نه شي، نه خپل ځان پېژندلای شي او نه خپل حقونه. هغه د دې کار لپاره د مدرسو په جوړولو پیل وکړ او لومړنۍ مدرسه یې په (۱۹۱۰م.) کال د مولوي عبدالعزیز په مرسته جوړه کړه او بیا د مدرسو جوړولو لړۍ ډېره پراخه شوه. ځوکاله وروسته یې یو بل عملي اقدام ته لاس اوږد کړ، هغه دا چې: لومړی یې د خپلې لارې همفکره ملګري پیدا کړل او بیا یې په (۱۹۲۱م.) کال د ((انجمن اصلاح الافاغنه)) په نوم یو ټولنیز، سیاسي، اصلاحي غورځنګ او ډله رامنځته کړه.

دې ډلې د خلکو د ویښولواو پوهولو لپاره هلې ځلې پیل کړې. لومړی یې په اتمانزو کې د ((آزاد سکول)) په نامه یو ښوونځی جوړ کړ. د هغه لپاره یې ښوونکي او زده‌کوونکي پیدا کړل. د دې ښوونځي جوړولو موخه داوه چې د ولس اولادونه پکې لیک لوست زده کړي او هغوی باسواده شي. د انجمن د تګلارې له مخې په دې ښوونځي کې دیني او عصري علوم دواړه زده کوونکو ته ښودل کېدل.

دغه وخت ښوونځي ته د استادانو له پیدا کولو ځخه د زده کوونکو پیدا کول ډېر ستونزمن وو، ځکه چې د انګرېزانو د تبلیغ په وسیله په عصري ښوونځیو کې له زده‌کړې نه خلکو ډېره کرکه کوله، نو د انجمن اصلاح الافاغنه مشرانو خپل زامن په هغه کې شامل کړل. د عبدالغفارخان زامن عبدالغني خان او ولي خان د دې ښوونځیو له لومړنیو زده کوونکو ځخه دي.

پاچا خان په خپلو خاطراتو ((زما ژوند او مبارزه)) کې لیکي چې: ((انګرېزانو زموږ له ښوونځیو ځخه کرکه کوله چې موږ به نوي ښوونکي مقرر کړل، نو هڅه به یې کوله چې هغوی تهدید او ووېروي. که چېرې به د دوی تهدید بې اغېزې و، نو بیا به یې هغوی د ښو

تنخواوو په ورکولو باندې له موږ نه لرې کول.

انګرېزانو د پښتنو دغه علمي او تعليمي حرکت ډېر خطرناک ګاڼه، نو ځکه يې لومړی پاچا خان وګوا ښه او بيا يې د ښوونځي ځينې ښوونکي او په خپله پاچاخان بنديان کړل.

دغه علمي تعليمي حرکت ډېر ژر وده او پرمختيا وکړه. د پښتونخوا په ډېرو سيمو کې د هلکانو او نجونو ښوونځي جوړ شول. د ليک لوست زده کړه د عبدالغفارخان تر مشرۍ لاندې د همدې غور ځنګ په برکت عامه شوه. پاچاخان ليکلي دي چې د خلکو له ليک لوست سره مينه زياته شوه. ډلې ډلې خلک راتلل او ويل به يې چې زموږ په کلي کې ښوونځی جوړ کړئ.

د ښوونيزو روزنيزو چارو په لړ کې د پاچاخان بل مهم کار دا و چې د مخه په پښتني ټولنه کې د کتاب او اخبار لوستلو عموميت نه درلود، نو يې خلکو ته د اخبار او کتاب د مطالعې سپارښتنه کوله. د ((پښتون)) په نامه يې يوه مجله هم خپره کړه، دا مجله چې تر اوسه خپرېږي، د خلکو په ذهني بيداري او پوهاوي کې يې ډېره ستره ونډه لرلې ده.

د غفارخان په تعليمي کارونو کې يو دا هم و چې خلک به يې د کار او کسب د زده کړې لپاره هڅول. د سوداګرۍ او د کرنې ځينې چارې، لکه باغواني او نورې چارې چې دا وخت خلکو ته د شرم وړ کارونه ښکارېدل. د دې ترڅنګ چې خلکو ته يې د هغو ګټې ښودلې، په خپله به يې دا ډول کسبونه تر سره کول چې نور ورته مخه کړي. هغه و چې په ولس کې خلکو د ده په پيروۍ ببلا ببل کسبونه او کارونه پيل کړل او چې د هغو په ګټه او ښېګڼه پوه شول، نو عموميت يې پيدا کړ. پاچاخان خلکو ته د هغو ناوړه دودونو د پرېښودلو په اړه لارښوونه کوله چې مالي او ټولنيز زيانونه لري، لکه ولور، په ودونو او مړو کې بې ځايه لګښتونه. خلکو ته به يې ورښودل چې د ښځو حقونو ته درناوی وکړي او هغه ومني. د دې چارو ښېګڼې به يې په خپله عملاً خلکو ته ورښودلې. نوموړي به ويل: ((خدای خو نر او ښځه د دنيا د آبادۍ دوه ملګري پيدا کړي دي او د بشريت دګاډۍ دا دوه پايې دي. داګاډۍ په يوه پايه نشي چلېدی)).

تر دغه وخته په پښتني ټولنه کې د نجونو زده کړه يوه لويه ستونزه وه. نجونو اجازه نه درلوده چې د زده کړې لپاره ښوونځي ته ولاړې شي. پاچاخان په خپلو خاطراتو کې ليکي: ((اول ما خپله لور په ښوونځي کې داخله کړه او په دې کار باندې زما خپلوان، دوستان او زما خسرګنۍ هم له ما نه خفه شول. وروسته بيا لويو لويو خانانو خپلې لورګانې په ښوونځيو کې داخلې کړې او په دې توګه ورووړو د نجونو په زده کړه بنديز کم شو))

پر (۱۹۲۹م.) کال چې د انجمن اصلاح افاغنه نوم په ((خدايي خدمتګار تحريک)) بدل شو، د پاچاخان تر مشرۍ لاندې دغه تحريک خپلو علمي، تعليمي، ټولنيزو او اصلاحي چارو تر سره کولو ته دوام ورکړ. دغه نومیالي مشر به تل خلکو ته ويل چې: ((د خدای خدمت ته ملا وتړئ)). هغه به دا څرګندوله: معلومه ده چې خدای ﷻ د بنده خدمت ته اړ نه دی، خو د خدای ﷻ د مخلوق خدمت د خدای په لاره کې خدمت دی. فخر افغان بابا دغه خدمت ته له هر څه نه لومړيتوب ورکاوه. خپل ټول ژوند يې د خلکو د پوهونې او ټولنې د سمون لپاره په همدغو اصلاحي او ښوونيزو روزنيزو خدمتونو کې تېر کړ. کلونه کلونه يې د زندان او جلا وطنۍ ستونزې وګاللې، د خپل ولس د رښتيني خدمتګارۍ ويار يې په برخه شو.

د متن لنډيز:

پاچاخان (عبدالغفارخان) په پښتونخوا کې د پښتون ولس يو نومیالی مشر و. داسې مهال زېږېدلی و چې په پښتونخوا باندې د انګرېزي ښکېلاک (استعمار) منګولې ښخې او پر خلکو يې ډول ډول زور زياتی کاوه. پاچاخان چې رالوی شو، د لوړ ملي احساس او بيداره شعور څښتن و. غوښتل يې چې خپل قوم او ولس د ښکېلاک له ظلم او زوره

خلاص او خپلواکي ترلاسه کړي. هغه دا درک کړې وه چې په قوم کې يې ښسوادي خپره ده او تر څو د علم او پوهې په وسله سنبال نه شي، نه خپل ځان پېژندلای شي او نه خپل حقونه. نو لومړی يې د مدرسو په جوړولو پيل وکړ. ځينې مدرسې يې جوړې کړې او پښتانه يې علم او پوهې ته وهڅول، بيا يې د نورو ملګرو په مرسته د انجمن اصلاح افاغنه په نوم يو ټولنيز اصلاحي او سياسي غورځنګ رامنځته کړ. د دغه غورځنګ له لارې يې لومړی په خپله سيمه اتمانزو او بيا په نوره پښتونخوا کې عصري ښوونځي جوړ کړل او په خپل قوم کې يې ښوونه او روزنه عامه کړه. د دې ترڅنګ يې خلک مطالعې، کتاب او اخبار لوستلو ته هڅول، د پښتون په نامه يې په پښتو ژبه د يوې مجلې خپرول پيل کړل. د نجونو د زده کړې لپاره يې ښوونځي جوړکړل. خلکو ته يې د سوداګرۍ او نورو کسبونو د زده کړې لارښوونې او سپارښتنې کولې او هغوی ته يې عملاً د دې چارو ښېګڼې ښودلې. دغسې يې د خپل ولس د ښوونې او روزنې لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې، ځکه يې نو د خلکو او ولس د رښتيني خدمتګارۍ ويار په برخه شوی او د ((فخرافغان)) په درانه لقب يې نمانځلی دی.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې د لوست متن په پټه خوله له ځان سره ولولي او ستونزمنې کلمې پکې په نښه کړي.

۲ـ ښوونکی دې د زده کوونکو په نښه شوې کلمې له تکرار پرته د لست په ډول پر تختې وليکي. کلمې دې په زده کوونکو معنا کړي، هغه لغتونه چې هغوی يې معنا کولای نشي، ښوونکی دې د هغو معنا پر تخته وليکي.

۳ـ زده کوونکي دې په وار سره د متن يوه يوه برخه ولولي، ښوونکی دې د اړتيا پر مهال

په سمه لوستنه کې ورسره مرسته وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې په وار سره د ټولګيوالو په وړاندې د متن مفهوم په خپلو الفاظو ووايي.

٥ـ زده کوونکي دې په وار سره تختې ته ولاړ شي او له معنا شوو لغتونو څخه دې يو يو په مناسبه جمله کې وکاروي.

٦ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې کچه وارزول شي:

- د پاچاخان اصلي نوم څه و؟
- د فخر افغان او يا پاچا خان لقبونه چا ورکړي دي؟
- پاچا خان څه ډول شخصيت و؟
- انګرېزانو ولې هغه بندي کړ؟
- پاچاخان ولې د خپل ولس د ښوونې او روزنې مسئلې ته ډېره پاملرنه وکړه؟
- هغه د ولس د اولادونو د ښوونې او روزنې لپاره لومړی څه وکړل؟
- د کار کسب زده کولو ته يې خلک څه ډول هڅول؟
- پاچاخان د کوم ټولنيز او سياسي غورځنګ بنسټ ايښی و؟
- پاچاخان د نجونو د زده کړې په برخه کې څه وکړل؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې د خپلې سيمې د يوه علمي، فرهنګي يا يوه ټولنيز شخصيت د پېژندنې په اړه څو کرښې ليکنه وکړي او په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګيوالو ته ولولي.

متلـونه



ـ متلونه د څه لپاره ویل کیږي؟

ـ یو متل وواییء، مقصد او د کارونې ځای یې په ګوته کړئ.

متلونه د هرې ژبې په ولسي یا شفاهي ادبیاتو کې ارزښتمنه برخه جوړوي. متلونه په ژبه کې هغه پخې، خوږې خبرې یا لنډې ویناوې دي چې د ټولنیزو تجربو په لړ کې را منځته شوي وي. په دغو لنډو لنډو جملو کې ډېر لوی مفهوم بیان شوی او د یوې تجربې نتیجه پکې نغښتې وي.

په دې لوست کې د ولسي ادب دا مهم ډول در پېژنو:

متلونه د ولسي ادب ستره او بډايه برخه ده. هغه پخې، خوږې او په تول پوره خبرې دي چې د يوې ژبې د ويونکو د ټولنيز ولسي ژوند له تجربو څخه زېږېدلې دي.

متلونه په عامه توګه ډېرې لنډې، خوږې خبرې دي. هر متل د استعمال لپاره خپل ځای لري. که بې مورده وکارول شي، اغېزه نه لري.

د يوې ژبې ويونکي، متلونه د خبرو اترو په ترڅ کې د خپلو خبرو د باوري کولو لپاره وايي. دغه پخې ويناوې د ويناوال د ادعا لپاره ډېر کلک ثبوت ګڼل کېږي. متل د خبرې رښتينوالی داسې ثابتوي چې بيا څوک ورڅخه انکار نشي کولای. د متلونو په ترڅ کې يو ولس د خپل ژوند تجربې له يوه نسل څخه بل ته لېږدوي.

د ژبې د جوړښت له مخې د متل متن، نظم وي که نثر، ډېر خوږ او معياري وي.

متلونه د شکل له مخې په دوو ډولونو وېشل کېږي:

منظوم متلونه _ منثور متلونه

۱_ منظوم متلونه:

دا متلونه په نظم وي، معمولاً وزن او قافيه لري. دوه مسرې يا نيم بيتي وي، کله کله لومړۍ مسره يا نيم بيتی او کله بيا دويمه مسره تر لومړۍ اوږده وي.

د متلونو په دې ډول کې پر وزن او قافيې سربېره، تشبيه، استعارې، مجاز او کنايې هم کارول شوې وي. دا متلونه د خبرو په ترڅ کې په ډېر خوارې آهنګ او لهجه ويل کېږي.

منظوم متلونه د منثورو متلونو په پرتله ښه اوژر زده کېږي. يا څرنګه چې په نظم دي، تر ډېره وخته په ذهن او حافظه کې پاتې کېږي. داسې ښکاري چې د متلونو د عمر د اوږدېدلو او له يوه نه بل ته په اسانه او اغېزناکه توګه د لېږدېدلو لپاره دا کار شوی دی. د ځينو مشهورو شاعرانو د شعر ځينې بيتونه هم چې د ولس د خلکو ژبو ته پرېوتي، ډېر ويل شوي او لږو ډېر بدلون پکې راغلی، په متلونو اوښتي دي.

د منظومو متلونو څو بېلګې:

- خپله لاسه ـ ګله لاسه
- په ژوندون مې قدر غواړه ـ چې مړ شم مه مې ژاړه
- ښه خوی به دې سلطان کړي ـ بد خوی به دې په ځان پورې حیران کړي
- پوره ـ ورک دې کړل دوه کوره
- د ځوانۍ یوه نشه وي ـ داسې نه چې همېشه وي
- آس لره ـ په لاس لره
- څه ور پناه ـ څه غر پناه
- چې تګ دې په غره دی ـ ناستی دې په څه دی
- چې په تمه د سپرو شي ـ هغه پاتې په مېرو شي
- خپله ژبه هم کلا ده ـ هم بلا
- بد به دې په زړه لرم ـ سلام به دې په خوله لرم
- اوړه دې په اوړه ـ منت دې پر څه

۲ـ منثور متلونه:

منثور متلونه په نثر دي. د دې متلونو شمېر په هرې ژبې کې له منظومو متلونو زیات وي. د متلونو دا ډول هم خپل ځانګړی آهنګ لري. په نثري متلونو کې ډېره خوږه ادبي ژبه کارول شوې او په یو څو کلمو کې ډېر لوی مفهوم پروت وي. دا خوږه او له حکمت نه ډکه خبره یا یوه ډېره لنډه جمله وي چې د ژبې ویونکي یې د خپلو خبرو په ترڅ کې د خپلې وینا د ټینګښت یا د خپلې ادعا د ثبوت لپاره وایي.

هر منثور متل د جوړښت له مخې یوه لنډه، خو بشپړه جمله وي. دا لنډه جمله به د ګرامر له مخې مبتدا او خبر دواړه لري.

منثور متلونه بېلابېل ډولونه لري چې ځینې یې کیسه ییز متلونه او نور عادي متلونه دي.

کیسه ییز متلونه هغه دي چې تر شا يې يوه کیسه يا پښه پرته وي او دغه ویل شوی متل د هغه نچوړ يا نتیجه وي، لکه: ((چې خوب کوي، مښه يې نر کتی زېږوي.))

عادي متلونه هغه دي چې د ټولنیز ژوند يوه تجربه پکې بیان شوې وي. دلته د دې ډول نثري متلونو څو بېلګې راوړو:

- د ښې غوښې ښه ښوروا وي.
- لاس چې مات شي، غاړې ته لوېږي.
- ځمکه هغه سوځي، چې اور پرې بلېږي.
- دنیا نولس ده، چا هم نه ده شل کړې.
- که غر لوړ دی، پر سر يې لار ده.
- له خپل ګلیم سره پښې غځوه.
- مال خپل ساته، ګاونډی غل مه نیسه.
- یاد به دې زه کړم ـ ښاد به دې خدای کړي.
- له بارانه تښتېدم، د ناوې لاندې مې شپه شوه.
- تیږه پر خپل ځای درنه وي.
- کوږ بار تر منزله نه رسېږي.
- نېکي وکړه، په اوبو کې يې واچوه.
- چې سر دې نه خوږېږي، داغ پرې مه ږده.
- د ډېرو امسا، د یوه سړي ګډۍ.
- انګورو ته يې لاس نه رسېږي، وايي تروه دي.
- آزمویلی، بیا مه آزمویه.
- ړوند یو ځل خپله امسا ورکوي.
- پر یوه څېړه دوه مخونه خوږېږي.

د متن لنډیز:

متلونه هغه پخې، خوږې او په ټول تللې خبرې دي چې د ولس د ژوند له تجربو څخه را زېږېدلي او له یوه نسل څخه بل ته لېږدېدلې دي. متلونه خلک په خبرو اترو کې د خپلې ادعا د ثبوت لپاره وایي، خو هر متل د کارولو لپاره خپل ځای لري، که بې ځایه استعمال شي، اغېزه نه لري. متلونه هم په نظم کي وي او هم په نثر کې. هغه چې په نظم کې دي، وزن او قافیه لري او هغه چې په نثر کې دي، متن یې ډېر خوږ، ژبه یې ادبي او معیاري وي. د جوړښت له مخې یوه لنډه، خو پوره جمله وي، د مبتدا او خبر دواړو برخې پکې وي.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې په وار سره د متن یوه یوه برخه د ټولګیوالو په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د اړتیا پر وخت له هغوی سره د سمې لوستنې لپاره مرسته وکړي.

۲ــ زده کوونکي دې وګومارل شي چې متن په پټه خوله ولولي. ستونزمنې کلمې یا لغات دې په نښه کړي. یو یو دې خپل په نښه کړي لغات ووایي. ښوونکی دې له تکرار پرته د هغو مجموعي لست پر تختې ولیکي. ځینې لغات دې په خپله پر زده کوونکو معنا کړي او هغه چې نه یې شي معنا کولای، ښوونکی دې د هغو معنا پر تختې ولیکي.

۳ــ دوه دوه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته ورشي. یو دې د یوه متل متن ولولي، بل دې د هغه د استعمال ځای په ګوته کړي. ښوونکی دې د اړتیا پر مهال د متل پر ځای د استعمال مورد زده کوونکو ته وښیي.

٤ـ زده کوونکي دې يو يو په خپله خوښه پورته شي، که په متن کې له راغلو متلونو پرته يې کوم بل پښتو متل زده وي، هغه دې نورو ټولګيوالو ته ووايي.

٥ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې کچه وارزول شي:

- متل څه شی دی؟
- متل ولې خلک په خبرو کې استعمالوي؟
- متلونه په څو ډوله دي، نومونه يې واخلئ؟
- د منظوم او منثور متل ترمنځ څه توپير دی؟
- دوه منظوم متلونه ووایاست.
- دوه منثور متلونه ووایاست.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه په کور کې په دې لوست کې له راغلو متلونو پرته نور پنځه پنځه متلونه وليکي. د پښتو لوست په راتلونکي ساعت کې دې هغه خپلو ټولګيوالو ته ولولي.

کـر د ګلو کـړه چـې سيمه دې ګـلـزار شي
اغـزي مه کـره په پښو کې به دې خـار شي
کـوهـی مـه کـنـه د بـل سـړي پـه لار کې
چېرې ستا بـه د کوهي پـه غـاړه لار شي
عبدالرحمٰن بابا



محاوره

د هېواد د لرغونو او تاريخي ځايونو په هکله خبرې اترې

_ تاسې ته د هېواد کومه لرغونې او تاريخي ودانۍ معلومه ده؟

لرغونو او تاريخي ودانيو ته آبدات وايي. دغه ودانۍ ستر تاريخي ارزښت او اهميت لري. دغه ډول ودانۍ يا ځايونه د يوه هېواد د خلکو ګډ فرهنګي ميراث ګڼل کېږي. د ټول هېواد په وګړو پورې اړه لري. دولت او ولس بايد د هغو ساتنې ته پوره پاملرنه وکړي.

په دې لوست کې مو تاسې زده کوونکو ته د هېواد د ځينو تاريخي ودانيو او ځايونو په اړه خبرې اترې راوړې چې هم به مو له دغو تاريخي ځايونو سره آشنا کړي او هم به مو په پښتو ژبه د خبرو اترو کولو ځواک پياوړی کړي.

احمد: فیروزه: څو ورځې وړاندې مې یو کتاب ولوست.

فیروز: ښه، د څه شي کتاب و، څه یې په کې لیکلې وو؟

احمد: معلوماتي کتاب و. د بلخ د نهه ګونبزي جومات په اړه په کې معلومات وو.

فیروز: ښه نو اوس ماته هم د همدغه جومات په باب لږ معلومات راکړه.

احمد: ولې نه، په دواړو سترګو، دغه نهه ګونبزي جومات د ((مسجد حج پیاده)) په نامه هم یادېږي

فیروز: څومره ښه، خیر (دوه) نومونه لري، نو؟

احمد: هو دا جومات د بلخ ښار په جنوبي برخه کې له ښاره درې کیلومتره لرې پروت دی.

فیروز: یعنې د مزارشریف له ښاره درې کیلومتره لرې دی؟

احمد: هو، بالکل همدغسې دی. خو دا ډېر مشهور جومات دی.

فیروز: احمده، دا جومات نو ولې دومره مشهور دی؟

احمد: ځکه چې په افغانستان کې اوس تر ټولو څرګند لرغونی جومات همدا دی.

فیروز: خدای خبر دا جومات به څه وخت جوړ شوی وي چې دومره لرغونی دی.

احمد: فیروز جانه! د جوړېدو تاریخ یې درېمې هجري پېړۍ ته رسېږي.

فیروز: درېمې هجري پېړۍ، یعنې څوسوه کاله وړاندې جوړ شوی.

احمد: خدای مې دې غاړه نه بند وي، شاوخوا دولس سوه معاله پخوا جوړ شوی دي.

فیروز: هو، هو دا خو په رښتیا چې ډېر پخوانی جومات دی.

احمد: فیروزه! پوهېږې چې دا به څومره لوی جومات وي؟

فیروز: یاره چې دومره تاریخي دی، نو ښه لوی به هم وي.

احمد: نه، نه دومره لوی نه دی، لس متره اوږدوالی لري.

فیروز: نو په همدغه لس متره اوږدوالي دومره مشهور دی؟

احمد: نه، نه! دا جومات په دوو سببونو ډېر مشهور دي.

فیروز: یو خو دا چې ډېر پخوانی دی، بله یې کومه وجه ده؟

احمد: بله وجه یې د جومات زینتي اړخ دی او دننه ډېر ښایسته جوړ شوی دی.

فیروز: احمده اندیواله خیر یوسې چې د دغه جومات په اړه دې معلومات راکړل.

احمد: ته هم ژوندی اوسې.

(۲)

وږمه: ملالی! تاسو د بابر بن نوم اوربدلی دی؟

ملالی: اوربدل یې څه کوې چې یو وخت مې له ماما سره په کابل کې دغه باغ ته تللې هم وم.

وږمه: ته پوهېږې چې دغه باغ به څه وخت او چا جوړ کړی وي؟

ملالی: نه وږمې! نه پوهېږم چې چا به جوړ کړی وي؟

وږمه: غوږ شه چې زه یې درته ووایم.

ملالی: بس زه درته غوږ یم، وایه راته.

وږمه: یو پاچا په پخوانیو زمانو کې ظهیرالدین محمد بابر نومېده.

ملالی: ښه یعنې چې دا بن همدغه ظهیرالدین محمد بابر جوړ کړی.

وږمه: هو، بالکل همدغه پاچا جوړ کړی دی او دا باغ د کابل ښار له بالاحصار نه مخ قبلې څنډې ته د گذرگاه په سیمه کې جوړ شوی دی.

ملالی: وږمې، زه چې ورغلې وم، د دغه باغ شاوخوا دېوال ټول له خټو نه جوړ شوی و.

وږمه: هو، بالکل اوس هم هماغسې دی، ښایسته پخځې دي.

ملالی: وږمې دا باغ څه وخت جوړ شوی دی؟

وږمه: دقیقه نېټه خو یې راته نه د ه معلومه، خو وایي چې تقریباً پنځه شپږ سوه کاله مخکې به جوړ شوی وي.

ملالی: ولا چې دا خو هم ډېر مخکې جوړ شوی دی.

وړمه: هو په منځ کې يې د بابر مزار، د اوبو حوض، جومات، د روانو اوبو ويالې او ښکلې ښکلې ونې دي.

ملالی: هو کنه، د هرې جمعې په ورځ او په نورو ورځو کې هم ورته ډېر خلک مېلې ته راځي.

(۳)

زرمينه: زه به تاسو ته په کندهار ولايت کې د ميرويس نيکه د زيارت په اړه معلومات درکړم.

نسيمه: بالکل سمه ده، ميرويس نيکه ډېر مشهور ملي مشر تېر شوی دی.

زرمينه: د کندهار ولايت اوسېدونکی و او زيارت يې هم په کندهار کې دی.

نسيمه: ښه زرمينې! د ميرويس نيکه زيارت د کندهار په کوم ځای کې دی؟

زرمينه: زيارت يې د ارغنداب سيند ته نژدې د کندهار هرات د لوی واټ پر غاړه د کوکران په سيمې کې دی.

نسيمه: ميرويس بابا د همدغه ځای اوسېدونکی وګڼه.

زرمينه: نه، د دغه ځای اوسيدونکی نه و، خو څه د پاسه درې سوه کاله مخکې ميرويس نيکه په همدغه ځای کې د فارسيانو له حاکميت څخه خپله خپلواکي اعلان کړه.

نسيمه: ښه، ښه اوس يی نو د زيارت په اړه وغږېږه.

زرمينه: هو، زيارت يې په يو نسبتاً وړوکی بڼ کې جوړ شوی چې شاوخوا يې د صبر او خرما ونې دي او په ښايسته ډول جوړ شوی دی.

نسيمه: دا زيارت به هم دوه درې سوه کاله مخکې جوړ شوی وي کنه؟

زرمنيه: نه دومره پخوانی نه دی، د زيارت ودانۍ يې د نادرخان د پاچا هۍ او واکمنۍ په دوران کې جوړه شوې ده.

نسيمه: يعنې تقريباً سل کاله مخکې جوړ شوی دی.

زرمينه: هو، د زيارت ودانې يې تقريباً د احمدشاه بابا له زيارت سره ورته والی لري.

نسيمه: آفرين زرمينې، ښه معلومات دې راکړل.

د متن لنډیز:

احمد په یوه کتاب کې د بلخ د یوه لرغوني جومات (نهه گونبزي مسجد) په هکله معلومات لوستي، د هغه په هکله خپل ملگري فیروز ته معلومات ورکوي چې دا جومات د بلخ په ولسوالۍ کې واقع او شاوخوا دولس سوه کاله لرغونتیا لري. د دې مسجد د جوړښت او ښکلا ستاینه کوي.

وروسته بیا وړمه او ملالۍ د هېواد د یوه تاریخي باغ چې د ((بابر بن)) په نامه یادېږي او په کابل ښار کې واقع دی، په هکله خبرې اترې کوي او یو بل ته معلومات ورکوي.

زرمینه او نسیمه د میرویس نیکه د مقبرې په هکله له یو بل سره خبرې اترې کوي او وایي چې دغه لرغونې ودانۍ د کندهار د ارغنداب د سیند پر غاړه واقع ده. ودانۍ یې د نادرخان د واکمنۍ په وخت کې جوړه شوې ده. زمونږ په هېواد کې دغسې باغونه ډېر دي چې ترمیم او ساتنې ته اړتیا لري.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي او ستونزمنې کلمې دې په نښه کړي.

۲ـ ښوونکی دې ځینې ستونزمنې کلمې په خپله د زده کوونکو په وسیله او ځینې چې هغوی یې نشي حل کولای، زده کوونکو ته معنا کړي.

۳ـ زده کوونکي دې وگومارل شي چې دوه دوه په خپلو منځو کې د فیروز او احمد همدارنگه د وړمې او ملالۍ نقشونه ترسره کړي.

٤ـ زده کوونکي دې په وار سره د ټولگي مخې ته راشي او په متن کې د یوه تاریخي بن یا ودانۍ په اړه معلومات یا د متن د هغې برخې مفهوم نورو ټولگیوالو ته ووایي.

۵ـ ښوونکی دې دا لاندې جملې چې په نحوي لحاظ ګډوډې دي، پر تختې وليکي، ځينې زده کوونکي دې ور وبولي چې د هغو سمه ښه پر تختې وليکي:

- مسجد به بلخ کښی دی نهه ګونبزې
- بن د بابر دی په کابل کې
- د هېواد دا دی تاريخی بن
- دی جوړ پاچا بابر کړی
- د نيکه ميرويس په کندهار کې ده مقبره

٦ـ په دې لاندې پوښتنو دې پر لوست د پوهېدنې کچه وارزول شي:

- نهه ګونبزې مسجد د هېواد په کوم ولايت کې واقع دی؟
- دغه جومات څومره پخوانی دی؟
- د بابر بن چېرته واقع دی؟
- بابر باغ کوم پاچا جوړ کړی دی؟
- د ميرويس نيکه مقبره چېرې واقع ده؟
- د ميرويس نيکه د مقبرې اوسنۍ ودانۍ د چا په وخت کې جوړه شوې ده؟
- د بل کوم تاريخي بن نوم واخلئ؟
- بله کومه لرغونې ودانۍ پېژنئ، نوم يې واخلئ؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلې سيمې يا د هېواد کومې بلې سيمې د تاريخي ودانۍ يا ځای په هکله څو کرښې معلومات وليکي او په راتلونکي پښتو ساعت کې دې هغه نورو ټولګيوالو ته ووايي.

محاوره

په هېواد کې د عصري او رسمي ښوونې او روزنې تاريخي بهير په هکله (خبرې اترې)

ـ د عصري ښوونې او روزنې په معنا او مفهوم پوهېږئ؟

ـ ویلای شئ چې په هېواد کې لومړنی عصري او رسمي ښوونځی کله رامنځته شوی دی؟

هسې خو زمونږ په هېواد کې عنعنوي ښوونه او روزنه ډېر لرغونی تاریخ لري او ریښه یې په آریانا کې ډېرو وړاندینیو زمانو ته رسېږي. له اسلام څخه دمخه زمانو کې په ښلو ښلو دورو کې د مختلفو عقیدو، واکمنو سیاسي او ټولنیزو نظامونو تر برلاسي او حاکمیت لاندې په عنعنوي توګه ښوونه او روزنه تر سره کېدله. له اسلام وروسته هم زمونږ په هېواد کې د اسلامي علومو، دیني، ادبي او نورو ټولنیزو علومو زده کړه په عنعنوي توګه په جوماتونو او کورونو کې تر سره کېدله. د لومړي ځل لپاره د امیر شیرعلي خان د دویمې پلا واکمنۍ په وختونو کې په معاصره بڼه ښوونه او روزنه په رسمي ښوونځیو کې پیل شوه او تر ننه یې په ښلابښلو بڼو پراختیا او دوام موندلی دی. په دې لوست کې مو تاسو ته د معاصرې او رسمې ښوونې او روزنې د تاریخي بهیر په هکله یو لړ معلومات راغونډ کړي چې هم ستاسې د پوهې او معلوماتو پانګه زیاتوي او هم درسره د پښتو ژبې د خبرو اترو د پیاوړتیا په چارو کې مرسته کوي.

توریالی: بریالیه! زمونږ په هېواد کې به رسمي ښوونځي کله رامنځته شوي وي؟

بریالی: ډېره ښه پوښتنه دې وکړه، له ماسره هم له ډېر وخت نه دا پوښتنه شته، خو نه پوهېږم چې له چا نه پوښتنه وکړم.

توریالی: زمونږ او ستاسې د ټولګیوال (زمري) ورور (زلمی) د ښوونې او روزنې پوهنځی لوستی دی، که له هغه نه پوښتنه وکړو، ګوندې که څه معلومات راکړي.

(دواړه د زمري دوی کور ته ورځي، له ستړي مه شي وروسته ورسره خپله پوښتنه داسې مطرح کوي)

توریالی: زلمی صاحب! زمونږ په هېواد کې لومړنی رسمي ښوونځی کله جوړ شوی دی؟

زلمی: ښه پوښتنه مو وکړه. زمونږ په هېواد کې د عصري ښوونځیو له را منځته کېدو څخه کابو (۱۳۰) کاله تېرېږي.

توریالی: دا د کوم پاچا د واکمنۍ وخت و؟

زلمی: د امیر شیرعلي خان دویمه پلا پاچاهي وه. (۱۸٦۸ _ ۱۸۷۹م. کلونه)

بریالی: دا څه ډول ښوونځی و او چېرته جوړ شو؟

زلمی: دا لومړنی ښوونځی یو حربي ښوونځی و. د کابل په شېرپور کې جوړ شوی و.

زمری: په دې ښوونځي کې څه ډول زده کړې کېدلې؟

زلمی: وروره، په دې ښوونځي کې زده کوونکو پوځي یا نظامي او عسکري زده کړه ترسره کوله.

بریالی: له حربي ښوونځي پرته کوم بل ښوونځی په دغه دوره کې نه و جوړ شوی؟

زلمی: ولې نه، وروسته بیا د کابل په بالاحصار کې د درباریانو د اولادونو لپاره یو ملکي ښوونځی هم جوړ شو.

توریالی: په دغه ښوونځي کې به زده کوونکو څه زده کول؟

زلمی: په هغه کې ښلا ښل اجتماعي او ادبي علوم او ریاضیات زده کوونکو ته ښودل کېدل.

بریالی: مورږ خو د تاریخ په مضمون کې لوستي چې د امیر شیرعلي خان له پاچاهۍ څخه وروسته څه موده کورنی اړدورو. بیا امیر عبدالرحمٰن خان قدرت ته ورسېد. د نوموړي د

واکمنۍ په وختونو کې کوم ښوونځی موجود و؟

زلمی: څرنګه چې امیر عبدالرحمن خان له کورنۍ اړودوړ څخه وروسته واک ته ورسېد، خپله ټوله پاملرنه یې د ملک او خلکو تابع کولو، آرامولو او د حکومت ټینګولو ته وکړه. معارف ته یې کومه پاملرنه ونه کړه. هغه ښوونځي چې دمخه جوړ شوي وو، هغه هم په کورنۍ اړودوړ کې له منځه تللي وو.

توریالی: موږ د تاریخ په مضمون کې لوستي دي چې له امیرعبدالرحمن خان څخه وروسته د هغه زوی حبیب الله خان پاچا شو. د نوموړي په دوره کې کوم ښوونځی جوړ شوی؟

زلمی: هو، د نوموړي په دوره کې په وطن کې هم آرامي راغلې وه. دا پاچا د خپل پلار په نسبت ډېر معارف پالونکی پاچا و. د خپلې واکمنۍ په دویم کال (۱۹۰۳م.) یې په کابل کې یو عصري ښوونځی جوړ کړ.

بریالی: هغه ښوونځی څه نومېده؟

زلمی: هغه حبیبیه ښوونځی و چې نن هم په کابل ښار کې یوه موجوده او فعاله لېسه ده.

توریالی: ښه، نو دا هم یو عصري ښوونځی و.

زلمی: هو. دا یو عصري ښوونځی و، ډېر ژر یې دومره پرمختګ وکړ چې د زده کوونکو شمېر یې (٤٠٠) تنو ته ورسید. او ښه ښه عصري علوم: تاریخ، جغرافیه، حساب، هندسه، پښتو او دري ادبیات او نور پکې تدریس کېدل.

بریالی: د دې ښوونځي ښوونکي څوک وو؟

زلمی: زیاتره ښوونکي یې زموږ د هېواد پیاوړي دیني عالمان، پوهان او ادیبان وو. یو شمېر بهرنیو ښوونکو هم پکې تدریس کاوه.

توریالی: دغه بهرني ښوونکي د کومو هېوادونو وو؟

زلمی: ځینې هندي مسلمانان او یو شمېر یې ترکان وو.

بریالی: په دې ښوونځي کې زده کړه په څو دورو کې تر سره کېدله؟

زلمی: ډېره ښه پوښتنه دې وکړه، د زده کړې لپاره درې دورې ټاکل شوې وې.

بریالی: هغه کومې وې؟

زلمي: هغه د زده کړې درې دورې: ابتدائیه، رشدیه او اعدادیه وې.

بریالی: هره دوره به څو کاله وه؟

زلمی: ابتدائیه دوره یې څلور کاله وه. رشدیه دوره یې درې کاله وه او اعدادیه دوره یې هم درې کاله وه.

توریالی: په دغه وخت کې نور ښوونځي هم وو، که همدا یو د حبیبې ښوونځی و.

زلمی: نه، یوازې همدا د حبیبې ښوونځی نه و، په کابل کې د حربیې ښوونځی هم جوړ شوی و.

بریالی: د حبیبې او حربیې له ښوونځیو پرته کومه بله تعلیمي مؤسسه یا اداره په دغې دورې کې جوړه شوې ده؟

زلمی: هو، له دغو دواړو ښوونځیو پرته په کابل کې یو دارالمعلمین هم په همدغه دوره کې جوړ شو.

توریالی: دارالمعلمین د څه لپاره جوړ شو؟

زلمی: دارالمعلمین د دې لپاره جوړ شوی و چې د ښوونځیو لپاره مسلکي ښوونکي وروزي.

بریالی: هغوی به څو کاله زده کړه کوله؟

زلمی: په دارالمعلمین کې د زده کړې موده درې کاله وه.

توریالي: په دغه دوره کې په ولایتونو کې هم ښوونځي جوړ شوي وو؟

زلمی: نه دولت ونه کړای شول چې له مرکز (کابل) پرته په ولایتونو کې ښوونځي جوړ کړي.

البته په نوروسیمو او ولایتونو کې د پخوا په څېر دیني زده کړې په عنعنوي ډول تر سره کېدلې. په نورستان کې چې وګړي یې د امیرعبدالرحمان په وخت کې مسلمانان شوي او د حکومت تابع شوي وو، د امیر حبیب الله خان په وخت کې هغوی ته په خپلو سیمو کې څو سیمه ییز ښوونځي جوړ شول.

توریالی: په دغو ښوونځیو کې هغو خلکو ته د څه زده کړه کېدله.

زلمی: هغوی ته ښوونکي ګومارل شوي وو چې دیني احکام او موضوعات او ترځنګ یې لیک لوست ور زده کړي.

(۲)

زرغونه: د امیر حبیب الله له مړینې وروسته د هغه د زوی امان الله خان د پاچاهۍ په وخت کې د پوهنې حالت څه ډول و؟

نازو: امان الله خان یو رونړ اندی ځوان واکمن و.

زرغونه: زموږ د هېواد خلکو خپله خپلواکي هم د هغه له واکمن کېدو سره سمه ترلاسه کړه.

نازو: هو، سمه ده. دغه نومیالي واکمن پوهې او معارف ته ډېره پاملرنه وکړه.

زرغونه: کوم ښوونځی یې جوړ کړ؟

نازو: ښوونځی څه چې ډېر ښوونځي یې جوړ کړل. نه یوازې په کابل بلکې د هېواد په ولایتونو او ځینو ولسوالیو کې یې هم ښوونځي جوړ کړل.

نازو: وایي چې په کابل کې د استقلال، غازي او اماني ښوونځي په همدغې دورې کې جوړ شول.

نازو: نه یوازې دا ښوونځي، بلکې په کابل کې دارالمعلمین هم جوړ شو. یوازې د کابل په ولسوالیو کې (۲۲) ښوونځي پرانیستل شول او په ټول هېواد کې د جوړو شوو ښوونځیو شمېر تر (۳۰۰) هم زیات و.

زرغونه: دا دومره ښوونځي د کومې ادارې یا مرکز له خوا اداره کېدل؟

نازو: په دې وخت کې د دولت په چوکاټ کې د معارف یا پوهنې وزارت رامنځته شو. دغه وزارت د پوهنې چارو د سمبالښت لپاره نورې ادارې او مرکزونه هم لرل. په مرکز کې د تعلیمي چارو د سمبالښت لپاره ښلا ښل ریاستونه او په ولایتونو کې د پوهنې لوی مدیریتونه وو.

زرغونه: د نجونو لپاره عصري زده کړه څه وخت پیل شوه؟

نازو: د نجونو لپاره عصري زده کړه هم د امان الله خان د واکمنۍ په وخت کې پیل شوه.

زرغونه: د نجونو لومړنی ښوونځی کله او د څه په نوم جوړ شو؟

نازو: د نجونو لومړنی ښوونځی ((مستورات ښوونځی)) و چې دا هم د امان الله خان د واکمنۍ په وخت (۱۲۹۹ لمریز) کال په کابل کې جوړ شو.

زرغونه: موږ په تاریخ کې لوستي چې د امان الله خان واکمني د یوه کورنۍ اړودوړ په نتیجه کې ړنګه شوه، د هېواد پوهنه له کوم حالت سره مخامخ شوه.

نازو: له امان الله خان څخه وروسته چې کوم کورنۍ اړودوړ پیښ شو، په هغه کې معارف په تپه ودرېد. ټول ښوونځي د زده کوونکو پرمخ وتړل شول.

زرغونه: کله چې کورنۍ اړودوړ پای ته ورسېد، بیا معارف څنګه شو؟

نازو: له کورنۍ اړودوړ وروسته چې په هېواد کې امنیت او سوله راغله. د نادرخان د واکمنۍ پر مهال بیا هم پوهنې ته د حکومت پاملرنه واوښته. په ښوونځیو کې زده کړې پیل شوې او ځینې نوي ښوونځي هم رامنځته شول.

زرغونه: د امان الله خان د دورې په شان دا وخت هم معارف پرمختګ وکړ؟

نازو: معارف یو څه پرمختګ وکړ، خو کوم حالت او رونق چې د امان الله خان په دوره کې پې درلود، هغه پې ترلاسه نه کړای شو. بیا هم ډېر ښوونځي جوړ شول.

زرغونه: پوهنتون څه وخت منځته راغلی دی؟

نازو: په هېواد کې د لوړو زده کړو لپاره د نادرخان د واکمنۍ په موده کې لارې چارې برابرې شوې.

زرغونه: یعنې پوهنتون په همدې دوره کې جوړ شوی دی؟

نازو: هو، لومړی د دارلفنون په نوم د لوړو زده کړو د یوې مؤسسې بنسټ کېښودل شو. په (۱۳۱۱ لمریز کال) په دغې مؤسسې کې لومړی د طب پوهنځی تاسیس شو.

زرغونه: د نادرخان له واکمنۍ څخه وروسته د پوهنې بهیر څه ډول شو؟

نازو: وروسته د محمد ظاهرخان د واکمنۍ په دوره کې پوهنې ډېر عمومیت پیدا کړ. د هېواد په مرکز او ولایتو نو سربېره په لرې پرتو ولسوالیو کې هم زیات شمېر (لومړي، منځني او لېسې) ښوونځي د هېواد د نجونو او هلکانو پرمخ پرانیستل شول. په کابل پوهنتون کې بېلا بېل پوهنځي (ساینس، ادبیات، تعلیم او تربیه، حقوق، انجنیري، زراعت او نور) را منځته شول. وروسته بیا د کابل پولیتخنیک او ننګرهار پوهنتونونه هم تاسیس شول، اوس خو د هېواد په مرکز او په نورو ولایتونو کې بېلابېل دولتي او ځانګړي ښوونځي او پوهنتونونه جوړ شوي دي او د ښوونې او روزنې د عامېدو بهیر ښه ګړندی روان دی.

د متن لنډيز:

د دې لوست مفهوم دا دی چې زمونږ په هېواد کې د دوديزو او عنعنوي زده کړو پر ځای د عصري علومو زده کړه د امیرشیر علي خان د دویمې پلا واکمنۍ په وخت کې دود شوې ده. په کابل کې د لومړي ځل لپاره د زده کړې او روزنې لپاره په عصري بڼه حربیه ښوونځی او بیا د دربار د چارواکو د اولادونو لپاره یو ملکي ښوونځی په بالاحصار کې جوړ شو. وروسته د امیرعبدالرحمن په دوري کې دې چارې ته کومه پاملرنه نه ده شوې. ورپسې د امیرحبیب الله خان په وخت کې د حبیبې رسمي عصري ښوونځی او حربیه ښوونځی هم جوړ شو چې نظامي او د عصري علومو زده کړې پکې کېدلې. د اعلیحضرت امان الله خان د واکمنۍ په کلونو کې چې خپلواکي ترلاسه شوه، پوهنې ته ډېره پاملرنه وشوه. د پوهنې وزارت رامنځته شو. د هېواد په مرکز، ولایتونو او ان دا چې په لرې ولسوالیو کې هم رسمي ښوونځي جوړ او د عصري علومو زده کړه پکې پیل شوه. بهرنیو هېوادونو ته هم هلکان او نجونې د عصري زده کړې لپاره ولېږل شول. د نجونو لپاره د ((مستورات)) په نامه لومړنی رسمي عصري ښوونځی جوړشو. دکورنۍ اړودوړ په څو میاشتنۍ موده کې د رسمي ښوونځیو دروازې د زده کوونکو پرمخ وتړل شوې او بیا وروسته چې اړودوړ پای ته ورسېد، سوله او امنیت رامنځته شو، د عصري ښوونځیو د فعالولو او نوو جوړولو لړۍ پیل شوه. د لوړو زده کړو لپاره د کابل پوهنتون په چوکاټ کې د شرعیاتو، ادبیاتو، ساینس، فارمسي، کرنې، حقوقو او ټولنیزو علومو ځانګړې پوهنځي جوړ شول چې دا بهیر تر ننه هم ښه چټک روان دی.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې وګومارل شي چې لومړی متن په پټه خوله له ځان سره ولولي، ستونزمنې کلمې دې په نښه او هغه دې په خپله زده کوونکي او یا ښوونکی حل کړي.

۲ــ په ترتیب سره دې څو زده کوونکي د ټولګي مخې ته وبلل شي چې د توریالي، بریالي، او زلمي نقشونو په ترسره کولو هر یو په متن کې راغلې خپلې مکالمې ولولي.

۳ـ زده کوونکي دې په نوبت سره پورته شي، يو دې په متن کې د امیرشیرعلي خان د واکمنۍ پر مهال عصري ښوونې او روزنې په باب راغلي مفاهیم او بل دې د امیرحبیب الله خان، بل دې د امان الله او همدارنګه بل دې له کورني اړوندو څخه وروسته د ښوونې او روزنې د حالت په هکله راغلي معلومات په خپلو الفاظو کې ټولګیوالو ته ووایي.

٤ـ په دې لاندې پوښتنو کې دې د لوست د زده کړې د کچې ارزونه وشي:

- په افغانستان کې لومړنی عصري او رسمي ښوونځی د کوم واکمن په وخت کې رامنځته شو؟
- لومړنی عصري ښوونځی په کوم نوم او چېرته واقع و؟
- د امیر عبدالرحمٰن خان په وخت کې رسمي او عصري ښوونې روزنې څه حالت درلود؟
- د حبیبې ښوونځی د کوم واکمن په وخت کې چېرته رامنځته شو؟
- د کابل دارالمعلمین د لومړي ځل لپاره د کوم واکمن په وخت کې جوړ شو؟
- د امان الله خان د واکمنۍ په وخت په کابل کې له حبیبې رسمي ښوونځي څخه پرته نور کوم مشهور ښوونځي رامنځته شوي دي؟
- د نجونو لپاره رسمي او عصري زده کړې د چا د واکمنۍ په وخت کې رامنځته او لومړنی ښوونځی څه نومېده؟
- دارالفنون پوهنتون د کوم واکمن په وخت کې چېرته رامنځته شو او لومړنی پوهنځی یې کوم و؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د اعلیحضرت امان الله خان د واکمنۍ په وخت کې د رسمي او عصري ښوونې روزنې په هکله څو کرښې معلومات ولیکي او راتلونکي درسي ساعت کې دې هغه نورو زده کوونکو ته ولولي.

پښتني دودونه





ـ تاسې د دود دستور يا رواج په معنا پوهېږئ؟

ـ ستاسې په کور کلي او ولس کې څه ډول دودونه او رواجونه شته؟

د نړۍ ټول ولسونه او قومونه خپل ځانګړي دودونه لري. ځينې دودونه د قومونو ترمنځ ورته والی هم لري. ځينې دودونه د ولس په ګټه او ځينې يې په زيان دي.

دودونه او عنعنات يو لړ اصول او مقررات وي. ولس تر ډېره د دغو اصولو او مقرراتو په رعايت کولو مجبور او مکلف ګڼل کېږي.

پښتون ولس هم د ټولنيز ژوند په بېلا بېلو برخو کې يو زيات شمېر دودونه لري. دغه دودونه له لرغوني وخت څخه د پښتون ولس له ژوند سره سم را روان دي. د ټولنيز ژوند ژواک تر ډېره په دغو دودونو ولاړ دی. په دې لوست کې له دغو دودونو څخه ځينې درپېژنو:

هر ولس ځینې ځانګړي او ځینې یې لږو ډېر سره ورته او ګډ دودونه لري چې د ټولنې ټول وګړي د هغو په منلو او ترسره کولو مجبور او مکلف ګڼل کېږي. پښتون ولس هم ځینې ځانګړي او ځینې له نورو قومونو او ولسونو سره ورته او ګډ دودونه لري چې له ډېرېو ډېرېو راهیسې موجود او په ټولنیز ژوند کې پرې عمل کېږي.

پښتني دودونه او رواجونه چې په پښتون ولس کې د یوه قانون او ټولنیز دستور حکم لري، ډېر زیات دي. د دې پښتني دودونو منل او پرځای کول د پښتنو د قومي تهذیب او پښتونولۍ یوه لازمي برخه ده. که په ټولنه کې څوک له دغو دودونو او رواجونو څخه غاړه وغړوي، هغه شخص ربښتینی پښتون نه ګڼل کېږي.

د پښتني دودونو شمېر زیات او د پښتنو د ژوند زیاتې خواوې پر دغو دودونو ولاړې دي. غم او ښادي، هر یو خپل جلا جلا دودونه او مراسم لري، جرګه او مرکه د یوه غوره دود په توګه ځانګړې لاړې او قوانین لري، ننواتې او روغه جوړه ېبل دود او دستور لري، مظلوم ته پناه ورکول، اشر یا ګډ ټولنیز کار کول ېبل دودونه دي. مېلمه پالنه، هم د پښتنو یو دود دی.

د ټولنیز ژوند د هر اړخ د سمبالښت لپاره پښتانه خپل منلي دودونه لري چې دلته ټول نشو درپېژندلی. د بېلګې په توګه د مېلمه پالنې، پناه ورکولو، اشر، ناغې او د تېرې ایښودلو دودونه په ډېر لنډ ډول درپېژنو.

د مېلمه پالنې دود:

مېلمه پالنه یا مېلمستیا په پښتني دود دستور کې ډېرې ژورې ریښې او لوړ ځای لري. پښتانه مېلمه پالنه د سخاوت او ښې ځوانۍ یوه ډېره غوره بېلګه بولي.

میلمه پالنه په ټولو افغانانو کې عامه ده، لکه ((د تاریخ افاغنه)) لیکوال مولوي عبدالمجید افغاني چې د خپل کتاب په (۱۹۷مخ) کې لیکلي: په افغانستان کې هېڅ مسافر ته په لاړې د خرڅ ضرورت نشته. په مېلمه پالنه کې ښځې له نارینه وو څخه کمې نه دي.

په پښتنو کې د مېلمه پالنې په دود کې څه خاص مادي او سياسي موخه او غرض په پام کې نه وي. په دغه فطري مېلمه پالنه کې چې د دغې ټولنې د هر وګړي ځانګړنه ده، د مسافرو، بيوزلو او محرومو انسانانو سره د مرستې ملاحظه او احساس ډېر پياوړی دی.

دېرې او حجرې په پښتني ټولنه کې د مېلمه پالنې ځانګړي مرکزونه دي او په دې هر يوه کې د خلکو له توان سره سم مېلمه ته لازمې آسانتياوې برابرې او د مېلمه پالنې چارې په ورين تندي تر سره کيږي.

د مېلمه هر ډول ساتنه پر ځان لازمه ګڼي. دې کار ته په پښتني ټولنه کې ((پر مېلمه غيرت)) وايي او د پښتونولۍ له اساسي او بنسټيزو توکو څخه ګڼل کيږي.

د پناه ورکولو دود:

په پښتنو کې دا يو مهم دود او دستور دی چې پناه راوړونکي ته به خامخا پناه ورکوي. پناه ورکوونکی د پناه راوړونکي د سر او مال د ساتنې مسوولیت لري.

که څوک د خطر په وخت کې د مرګ يا د خپلې بې عزتۍ له وېرې نه د چا کور او ځای ته پناه يوسي، نو بيا هغه د پښتنو د دود دستور له مخې مجبور او مکلف دی چې د پناه را وړونکي هر ډول ساتنه او پالنه وکړي.

د پښتني لارښود د کتاب ليکوال پوهاند صديق الله رښتين د ((تواريخ حافظ رحمت خاني)) په حواله ليکي: ((د ملک احمد يوسفزي او د لازاکو قبيلې تر منځ سخته دښمني وه. ملک احمد د سولې لپاره د ملک محمدخان د لازاک کلي ته ورغی. خلک پرې خبر شول، غوښتل يې چې ويې وژني، په دې وخت کې هغه د ملک محمدخان کور ته پناه يوړه. د ملک محمدخان مېرمنې د پښتني دود له مخې ده ته په خپل کاله کې پناه ورکړه او له مرګه يې وساته.))

که چېرې يو ګناهکار چاته پناه وروړي، نو بيا بې طرفه ولسي مشران د سولې او جوړې لپاره کوښښ کوي. خامخا د حل يوه لاره پکې پيدا کوي. خو تر هغه چې د حل لاره پيدا کېږي، د پښتنو د دود او د ستور له مخې په پناه ورکوونکي باندې د هغه هر ډول ساتنه لازمه او ضروري ده.

اشر:

د اشر د کلمې اصطلاحي معنا ګډ او د خپلې خوښې کار دی. دا یو غوره پښتني دود دی چې له ډېرې لرغونې زمانې څخه په پښتون ولس کې شته.

پښتانه د خپل ټولنیز ژوند په بهیر کې، په ځانګړې توګه له ښارونو لیرې په کلیوالو سیمو کې ډېر کارونه، لکه: کرکیله، لو، غوبل، ویالې وېستل، کارېزونه پاکول او داسې نور په ګډه تر سره کوي. د اشر یا ګډ کار د دود په وسیله له یوې خوا کارونه ډېر ژر، ښه او آسانه تر سره کېږي او له بلې خوا په ټولنه کې له بېوزلو او بې وسو وګړو سره پوره مرسته کېږي.

اشر یو ډېر غوره دود دی. چې د ټولنیز ژوند په بهیر کې ډېرې ګټورې او اغېزناکې نتیجې لري. په کورو کلي او ولس کې یې د اتفاق، خپل منځي یووالي او پیوستون ډېره ښه وسیله او بېلګه ګڼلای شو.

تیږه ایښودل (سوله او روغه):

که چېرې د دوو وګړو، کورنیو او یا قبیلو ترمنځ په کومه معامله باندې اوږده شخړه او جګړه پېښه شي. په دغه جګړه کې دواړو خواوو ته د سر او مال زیانونه واوړي، نو په دې وخت کې په خپله د دې دواړو خواوو په غوښتنه او یا د نور ولس او درېمګړي په ښه نیت او اراده د سولې او روغې جوړې خبرې پیلېږي. دا روغه جوړه د یوې ټاکلې مودې اویا تل لپاره د سپین ږیرو یا د کلیوالي او سیمه ییزې جرګې له خوا منځته راځي. د جرګې له فیصلې او پرېکړې نه وروسته چې د مخالفینو د جوړولو او پخلا کولو لپاره کوم ټرون او قرارداد کېږي، هغې ته سوله او روغه وایي.

د جرګې له خوا د دغې روغې او سولې په مهال په دواړو خواوو ((ناغه)) ایښودل کېږي او هغوی ته په ډاګه اعلانېږي. که هر لوري د جرګې له پرېکړې څخه سرغړونه وکړه، په سزا کې به تړې ناغه اخیستل کېږي.

د روغې جوړې پرېکړې او فیصلې ته په پښتني دودونو کې ((تیږه ایښودل)) وایي. له

فیصلې څخه سرغړونه ((تیږه ماتول)) بلل کېږي. دا تیږه ماتول یا سرغړونه د پښتني دود له مخې یو ډېر ناوړه کار ګڼل کېږي.

په پښتني دود کې مؤقتي جوړې ته سوله وایي. روغه د همېشنۍ فیصلې او جوړې معنا لري. تیږه ایښودل د جګړه مارو خواوو ترمنځ د متارکې او سولې معنا لري. د تیږې ایښودل او د سولې د خبرو په وخت کې ډزې یا یو پر بل تېری او برید بند وي چې دې ته په پښتني دود کې ((ډزبند)) وایي.

د متن لنډیز:

لکه څنګه چې هر ولس او ټولنه خپل ځانګړی دودونه او عنعنات لري، دغسې پښتانه هم د بشري نړۍ د یوې برخې په توګه له ډېرو غوره دودونو او عنعناتو څخه برخمن دي. دغه دودونه او رواجونه د دوی د ژوند پر ټولو برخو چاپېر او واکمن دي. غم او ښادي خپل جلا دودونه او مراسم لري، همدارنګه جرګه او مرکه، ننواتې او روغه جوړه، میلمه پالنه، ګډ کار یا اشر، پناه ورکول، ننواتې او داسې نور هر یو د غوره دود په توګه په پښتني ټولنه کې موجود دي او د ولس ټول وګړي یې په ورین تندي مني او رعایت یې کوي.

فعالیتونه

۱ــ د ښوونکي له متن لوستنې او لازمو څرګندونو وروسته دې، زده کوونکي وګومارل شي چې متن په چوپه خوله په ډېر غور ولولي او ستونزمنې کلمې دې په نښه کړي.

۲ــ د زده کوونکو له خوا په نښه شوې کلمې دې ښوونکی د زده کوونکو په وسیله او هغه چې هغوی یې له معنا کولو عاجز وي په خپله معنا کړي.

۳ـ یو یو زده کوونکي دې تختې ته وروبلل شي چې هغه کلمې په مناسبو جملو کې وکاروي. ښوونکی دې د اړتیا پرمهال مرسته ورسره وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې په نوبت سره د متن یو یو پراګراف د ټولګیوالو په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د اړتیا پر مهال ورسره مرسته وکړي.

٥ـ ښوونکی دې زده کوونکي په نوبت سره د ټولګي مخې ته راوبولي چې د متن مفهوم په خپلو الفاظو کې نورو ټولګیوالو ته ووایي.

٦ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- دود او دستور څه شی دی؟
- دود دستور ولې د ټولنې پر وګړو ژورې اغېزې لري او په منلو یې مجبور او مکلف دی؟
- څوک د پښتنو د مېلمه پالنې د دود په اړه څه ویلای شي؟
- څوک د اشر یا ګډ کار د عنعنې په هکله خبرې کولای شي؟
- څوک د ننواتې په هکله څه ویلای شي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه له دغو یادو شوو دودونو څخه سربېره د پښتنو یو بل مشهور دود او دستور وټاکي او د هغه په هکله ترلاسه کړي معلومات دې د پښتو لوست په راتلونکي درسي ساعت کې نورو ټولګیوالو ته ولولي.

ویپانگه:

((الف))

اتل: قهرمان، بریالی

احسان: نېکي، ښېګڼه

ارزول: ارزیابي کول

اړ باسي: مجبوروي

اړتیا: ضرورت

اړودوړ: اغتشاش، ګډوډي

اړونده: مربوطه

اړه: ارتباط، احتیاج

استازی: نماینده

اشر: ګډ کار

آبدات: تاریخي ودانۍ

اعتراض: انتقاد، ګوتنیونه

اعجاز: هغه کار چه بل څوک ورڅخه عاجز وي

اغېزناکه: ګټوره، تاثیر لرونکې

افضل : غوره

امتیاز: توپیر، غوره والی

امینان : امانتګران، امانت ساتونکي

انتباه: عبرت، پند، آګاه شدن

الهام : په زړه کې لوېدل

((ب))

بديع : نوی پيدا کوونکی، خلق کوونکی

بډايه: غني

بډاينه : غنا، مړېدنه

برخليک: سرنوشت

برخمنه: د برخې خاونده

بشپړ: پوره

بلنه: دعوت، غږ کول

بنسټونه: اساسونه، بنيادونه

بن: باغ

بڼه: شکل، رنګ

بوختيا: مصروفيت

بوقلمون : رنګا رنګ

بهرنی: خارجي

بهير: جريان

بېلګه: مثال، نمونه

بېلګې: نمونې، ډولونه

((پ))

پاڅون: انقلاب، قيام

پرتله: مقايسه

پړه: ملامتي

پخځه: د خټو د دېوال رده

پلا: ځل، وار

پلورل: خرڅول

پلويان: طرفداران

پلی: تطبيق، په لار اچونه، عملي

پور: مقام، مرتبه

پياوړی: قوي

پېرزوينه: لوريېنه

پيشه: کسب کار

پيل: شروع

پيوستون: يو ځای کېدل، يو موټی کېدل

((ت))

تدبير: چاره، سنجش

ترڅ: ضمن

تقويه: پياوړی، قوي

تل: بېخ، ژور

تمثيل: په عمل او کړنه ښودل

تندی: ټنډه، پېشاني

تواضع: حلم، کميني

تهديد: ګواښ، تر فشار لاندې راوستل

تيکی: پوښ، غلاف

((ټ))

ټاټوبی: هېواد، د استوګنې سيمه

ټاکلی: معلوم

ټولګې: مجموعې

ټولنيز: اجتماعي

((ج))

جرگه مار: جرگه کوونکی

جرم: ګناه

جود: سخا

جلباب: کمزوري، څادر، پړونی

((ځ))

ځانګړنې: خصوصیات، مواصفات

زغرده: جرئت، زړورتیا، واضح خبره

ځلاند: روښانه

ځواک: قوت، طاقت

ځوړ: مخ ښکته

((چ))

چاپېریال: محیط، ماحول

چارواکي: لوړ رتبه مامورین، د چارو واکمن

چمتو: آماده، تیار

((څ))

څانګې: ښاخونه، برخې

څرکونه: نښې نښانې، پلوشې

څښتن: خاوند

((ح))

حاوي: چاپېر، مجموعه

حسن: ښکلا

حمد : د الله تعالی ستاینه

حوض: ډنډ

((خ))

خاتمت : ختمېدل، پای ته رسېدل

خاورین: له خاورو جوړ شوی

خرقه: د دروېشانو چپنه

خړوبول: اوبه کول

خلیفه : ځای ناستی

خوندي: محفوظ، ساتلی

((د))

درهم برهم: ګډوډ، خراب، ویجاړ

درهم: عربي پیسې، عربي سکې

دنده: وظیفه

دود: رسم او رواج

دودیز: عنعنوي، مروج

((ډ))

ډګر: میدان

ډېری: زیاتره، اکثره

((ذ))

ذوق: علاقه، مينه

((ر))

روحاني : مذهبي مشر

رول: نقش

رويه: سلوك، چلند

رياضت: گوشه نشيني، د عبادت لپاره ځانته ناسته

رون انډی: روښانفکر

((ز))

زغمل: تحمل کول

زمولوي: مړاوی کوي، ځپي، ضعيف

((ژ))

ژانرونه: ډولونه

ژغورل: ساتل

ژوي: ژوندي موجودات، حيوانات

((س))

سپېڅلی: مقدس، پاک

سپما: پاسره، زېرمه کول

ستاينه: مدحه، صفت

ستونزمن: مشکل، بحراني

سخاوت : بخښش

سوبې: فتحې

سياستوال: سياست پوه

سيما: څېره

سيمه ييز: منطقوي

سيمه: منطقه

((ش))

شخړه: لانجه، جګړه، ربړه

شکوه: شکايت

شومي : غړپ اوبه څښنی

((ښ))

ښادمن: خوښ، خوشحال

((ص))

صنيع : جوړوونکی

((ظ))

ظرف: لوښی

((ع))

عارف : په حقيقت سره خدای پېژندونی

عنعنات: دودونه او رواجونه

((غ))

غور: دقت، ځيرتيا

غورځنگ: نهضت، سياسي ډله

غوره: ډېره ښه

((ف))

فطري: طبيعي

((ق))

قلندر: دروېش، له دنيا څخه بې پروا

((ک))

کارول: استعمالول

کبان: ماهيان

کچه: سطحه، اندازه

کرامت: عزت، بزرگي، خارق العاده کار

کرکه: نفرت

کرکيله: دهقاني، بزگري

کړاو: تکليف، زحمت

کلاسيک: غوره پخوانی

کوهستان: غرنی سيمه

((گ))

گالل: تېرول

گنج: خزانه

گڼه گوڼه: بيروبار

گومارل: مؤظف کول

((ل))

لارښود : رهنما، مشر

لامل: سبب

لرغونې: پخوانی

لرغونی: پخوانی

لړی: سلسله، قطار

لمريز: شمسي

لوبغاړی: لوبې کوونکی

لونل: شيندل

لېچې: مړوندونه، بازوها

((م))

مانی: ودانی، قصر

محروم: بې برخې

مدعي: چې د عوه پرې شوې وي

مزاج : طبعه

مستغني: بې نيازه

مسجع: سجع او قافيه لرونکي

مصرع: (مسره) نيم بيت، يا د بيت يوه برخه

مصلح: اصلاح کوونکی

معينه: ټاکلې

مفصل: تفصيل لرونکی- لوی

مقبولیت : قبول شوی

مقیاس: اندازه

منثور: په نثر، غیر منظوم کلام

منځنی: متوسطه

منظوم: په نظم

موافق: برابر

مورد: ځای

موهومي: غیرواقعي، ډاروونکی

مهال: وخت

((ن))

نادر : نه پیدا کېدونکی، بې ساری، په سختی پیدا کېدونکی

نادودي: ناروا، زورزیاتی

نغښتی: پېچلی، پیچانیده

نندارہ: ښودنه، نمایش

ننواتي: عذر کول

((و))

واټ: سړک، جاده

واک: صلاحیت

واکمني: واک لرل، قدرت لرل

ودانی: آبادي

وده: پرمختیا

ورین: پراخ

ورتیا: لیاقت، اهلیت

وعظ : پند او نصیحت

وکښه: ولیکه

ونډه: برخه

ویاړنه: حماسه، فخریه

ویرژلی: په ویر او ماتم اخته

ویرنه: مرثیه

ویاړونه: افتخارات

((هـ))

هڅول: تشویقول

هڅه: کوښښ، هاند

هنروال: هنرمند، د هنر خاوند

هوري: هلته

هیلی: مرغابی

((ي))

یرغل: تېری، تجاوز

اخځليکونه:

١ـ د کاظم خان شېدا ديوان، د عبدالرؤوف بېنوا سريزه، پښتو ټولنه، ١٣٣١ لمريز کال.
٢ـ پښتانه شعراء (لومړی ټوک)، عبدالحی حبيبي، پښتو ټولنه، کابل ١٣٢٠هـ.ش. کال.
٣ـ د پښتو ادبياتو تاريخ، (معاصره دوره)، کانديد اکاډمېسن محمد صديق روهي، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ١٣٧٨هـ.ش. کال.
٤ـ اوسني ليکوال، لومړی ټوک ـ دويم ټوک، عبدالرؤوف بېنوا، د مطبوعاتو مستقل رياست، ١٣٤٠ ـ ١٣٤١هـ.ش. کال.
٥ـ د افغانستان مشاهير، لومړی ټوک، سيد محی الدين هاشمي، د اريک ګرځنده کتابتونونو اداره، ١٣٨٧هـ.ش. کال.
٦ـ پښتنې مېرمنې، عبدالرؤوف بېنوا، پښتو ټولنه، کابل، ١٣٢٣هـ.ش. کال.
٧ـ پښتو، پښتانه او پښتونولي، څېړنوال سيد محی الدين هاشمي، وحدت خپرندويه ټولنه، ننګرهار، ١٣٨٩هـ.ش. کال.
٨ـ د عبدالرحمٰن بابا ديوان، د محمد عارف غروال په زيار، پښتو ټولنه، ١٣٥٦هـ.ش. کال.
٩ـ خيرالبيان، بايزيد روښان، کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی، ١٣٥٣هـ.ش. کال.
١٠ـ زرينې ځانګې، حبيب الله رفيع، د افغانستان د علومو اکاډمي، ١٣٦٠هـ.ش. کال.
١١ـ پټه خزانه، محمد هوتک، د پوهنې وزارت، کابل، ١٣٣٩هـ.ش. کال.
١٢ـ د خوشحال خان خټک کليات، د افغانستان د علومو اکاډمي، ١٣٥٨هـ.ش. کال.
١٣ـ د نثري ادب ډولونه، څېړنوال سيد محی الدين هاشمي، وحدت خپرندويه ټولنه، ١٣٨٩هـ.ش. کال.
١٤ـ ادبپوهنه، محقق سيد محی الدين هاشمي، د اريک ګرځنده کتابتونونو اداره، پېښور، ١٣٨٢هـ.ش. کال.
١٥ـ فرهنګ ادبيات جهان، پنځم ټوک، دوکتور حسن حزايل، تهران، ١٣٨٤هـ.ش. کال.
١٦ـ ادبي فنون، عبدالرؤوف بېنوا، پښتو ټولنه، ١٣٢٦هـ.ش. کال.
١٧ـ پښتو ـ پښتو تشريحي قاموس، د افغانستان د علومو اکاډمي، دويم چاپ، ميديوتيک اداره، ١٣٨٣هـ.ش. کال.
١٨ـ فرهنګ نشر سخن، حسن انوري، (په اتو ټوکونو کې).
١٩ـ فرهنګ عميد، حسن عميد، (په دوو ټوکونو کې).
٢٠ـ د پښتو ژبې لنډ ګرامر، محقق سيد محی الدين هاشمي، د اريک ګرځنده کتابتونونو اداره، پېښور، ١٣٨٣هـ.ش. کال.
٢١ـ غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ١٣٣٦هـ.ش. کال.
٢٢ـ ادبي ليکونه، پوهاند صديق الله رښتين، پېښور، ١٣٧٣هـ.ش. کال.
٢٣ـ پښتو نثر تاريخ، محمد افضل رضا، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ١٩٩٥م. کال.
٢٤ـ د عبدالقادر خان خټک ديوان، د همېش خليل سريزه او تعليقات، پښتو اکېډمي پېښور، ٢٠٠٢م. کال.